# خاموش فیلیسوف

(داستاد اسد آسمايي دياد غونډې دمقالو او دفلسفې او ادبياتو په اړه دبحثونوټولګه)

تدوين : علم ګل سحر



www.pukhto.net

کتاب پیژندنه:
----------
دکتاب نوم: خاموش فیلسوف
تدوین : علم گل سحر
دپشتي طرحه او ډیزاین:محمد داود تپان
کمپوز : ع سحر
خپرونکی :اوښتون کلتوري ټولنه او علمي ټولنه - پکتیا
دخپرونو لړ:لسم
چاپ کال ۱۳۸۹/ ۲۰۱۰



www.pukhto.net

# نیولیک

گڼه سرلیک لیکوال
مخ


| سرلیک | لیکوال |
|---|---|
| ۱-داستاد آسمايي دياد غونډې رپوټ | څیرندوی محمد نبي صلاحي |
| ۲- داستاد آسمايي ژوند لیک | جان محمد مخکښ |
| ۳- اسد اسمایی په افغانستان کې د ... | پوهنوال رسول باوري |
| ۴- دسمڅو تل | استاد نجیب منلی |
| ۵- | استاد اسدالله غضنفر |
| ۶- یواسد یولیونی یوفلسفی یواسمايي | اصف بهاند |
| ۷- او آسمایی هم آسماني شو... | پروفیسور عبدالخالق رشید |
| ۸- وروستی فیلسوف | عبدالغفور لېوال |
| ۹- افغان ولتر | علم ګل سحر |
| ۱۰- له افغان فیلسوف نابغه ... | محمدامین بسمل |
| ۱۱- استاد اسد آسما يي يو خاموش ... | نور محمد لاهو |
| ۱۲-اسد آسمايي له مورړ ورك شو كه ولاړ؟ | انور وفا سمندر |
| ۱۳- فلسفه او فیلسوف | محمد نبي صلاحي |
| ۱۴-« ا سد»پخپله د «ننګیال»پسي، ... | فاروق فردا |
| ۱۵- دفیلیسوف استاد یاد | اسدالله بلهار جلالزی |

دپیغامونو برخه:

۱۶- دعلم او ادب دخپراوي ټولنې
دخواخوږۍ پیغام

۱۷- داستاد آسمايي دیوه دوست پیغام

۱۸- د میرمن کلتوري - ټولنیز
بهیر دخواخوږۍ پیغام

۱۹- د زرمت دادبي بهیر د خواشینۍ پیغام

۲۰- دافغانانو دکولتوري ټولنې دژورې خواشیني پیغام

۲۱- دقلم نړیوالې ټولنې دخواخوږۍ پیغام


Pukhto.Net پښتو



www.pukhto.net

خپرندوی محمد نبي صلاحي

د اروابناد استاد اسد آسمايي ياد غونډه

د افغانستان د قلم ټولنې او علم او ادب دخپراوي ټولنې د ۱۳۸۸ لمريز کال د زمري د مياشتې په ۸ مه نېټه، د هېواد د ځوان فيلسوف، د کابل پوهنتون د ټولنيزو علومو پوهنځي د فلسفي څانګې د پخواني مشراو د افغانستان دتکړه ليکوال اروابناد استاد اسد آسمايي ياد غونډه چې، څه وخت مخکې ، د جلاوطنۍ او هجرت په ديار کې د فرانسې هېواد د ويکتور هوګو په کور کې مړ شو، يوه پرتمينه ماتمي ياد غونډه جوړه کړې وه. د غونډې په سر کې ګران آغا الفت يار، د قرآن کريم يو څو مبارک آيتونه تلاوت کړل. استاد نجيب منلي په دغه غونډه کې پرانستونکې وينا وکړه او داسې وويل: «ما ته څه وخت مخکې له فرانسې نه ايميل راغی او په هغه کې د اسد د مرګ خبر ليکل شوی و. دا زما لپاره يو ډېر دردوونکی خبر و. ددې لپاره چې دغه ناورين بې غبرګه پاتې نه شي ، يو شمېر دوستانو ته مې خبر ور کړ. د اسد مړينه موږ ټولو ته يوه لويه ضايعه ده، د افغانستان فرهنګ ته ضايعه ده او موږ له لوی خدای( ج) نه د هغه بدل(ساری) غواړو. زه لا تر اوسه پورې فکر نه کوم چې، اسد به له موږ سره نه وي، مګر له بده مرغه چې، هغه اوس له موږ سره نشته. آسمايي يو ځوان فيلسوف او زما کشر ورور و.»



www.pukhto.net

استادرسول باوري وويل: «اسد د هېواد يو غښتلی متفکر ليکوال و.هغه به ويل : زه له مرګه دومره نه ويرېږم، مګر له دې ډارېږم چې، زه يو څه ووايم او مقابل لوری يوه نه شي.»
بيا د استاد اسمعيل اکبرد کورنۍ د خواخوږۍ او ډاد ګيرنې پېغام، د اغلې نورجهان اکبر له خوا وويل شو.
نورمحمد لاهوڅرګنده کړه چې: «اسد استاد يو خاموشه فيلسوف و!»
استاد لطيف بهاند داسې وويل:
«موږ د اسد په وړاندې پوروړي يو. له فلسفي پلوه د نړۍ څېړنه، اسانه کار نه دی. هغه ذهنيت چې هغه درلود ، هغه درک و.هغه به ما ته تل ويل چې، ما ته د غم خبرې مه کوه او دا پرېږده!»
استاد علم ګل سحر وويل:
«د استاد اسد شخصيت زيات اړخونه درلودل او دی زموږ په سيمه کې، لا په ډېر وړکوالي کې په نابغه اوفيلسوف مشهور و. ده که څه هم پېچلی سبک درلود، مګر فلسفي مساءلو ته يې ډېر روان اوښايسته رنګ ورکاوه!»
انور وفا سمندرد «زه» او ايګويزم په باب د اسد دعلمي تحليلونوپه باب يوه ډېره اوږده فلسفي څېړنه کړې وه.څېړنپوه عبدالله بختاني خدمتګاردذې غونډې اړزونه مثبته وبلله او په يوه بهرني خبرې آژانس کې پردې مساءله باندې چې، د هېوادپالنې روحيه فطري ده او که کسبي، له استاد اسد سره د يوه راديويي جراوبحث يادونه هم کړه. ددغې ماتمي غونډې په دوران کې، د اسد په حق کې ددعا لاسونه پورته شول او په ګډه سره، د شاعرانو او ليکوالو له اړخه اجتماعي دعا هم وشوه. د غونډې په پای کې، د غونډې برخه والو ، په ګډه سره پريکړه وکړه چې، د استاد اسد د تدريسي او فلسفي خدمتونو په وياړ دې، په کابل کې يو ښوونځی او د پکتيا ولايت د زرمت ولسوالي د کتي خيلومکتب دې، د استاد اسد په نامه ونومول شي. دغه راز په غونډه کې، د پکتيا ولايت د ادبي او کلتوري ټولنې هوکړه هم اعلان شوه چې، د استاد اسد په ياد به ددغو وېناووا او مقالو يوه ټولګه چاپوي او يوهان به خپلې ټولې مقالې او همدارنګه دکلتوري ټولنو پيغامونه چې دې غونډې ته رارسيدلي ښاغلي سحر ته سپاري . استاداسدالله غضنفر، عبدالغفور لېوال او بنده به هم، د استاد اسد آسمايي د فلسفي غورزو پرزو په اړه يوه يوه مقاله ليکي ، ددې مجموعې را ټولوونکي او مدون علم ګل سحرته سپاري، له هغه وروسته به دغه کتاب چاپېږي.

کور مو ودان



www.pukhto.net

لیکوال : پوهنوال رسول باوري

اسد اسمایی
په افغانستان کي د خپل مهال بل آندی استاد
هسي چي د استاد اسد اسمایی مخامخ لیدل راته هیښنده و، هماغسي يې د ژوند د مړاوي کېدلو خبر راته نه منونکی و. د شپې نه بجې وې چې د ښاغلی منلي صاحب تلیفون راورسید، غوږی مي واخستل او بیله ځنډه مي د معمول په څیر لومړی سلام وکړ او بیا مي د احوال پوښتنه. منلی صاحب د خپل عادت خلاف یوه لنډه سریزه د یوه غمجن خبر لپاره و ویل، زه دومره یوه شوم چي د خبرو دا پیلامه د یوه غمجن خبر کیداسي ، خو دا خیال مي نه کاوه چي دا خبر به زما د یوه داسي ملګري ، استاد او یوه خواخوږي دوست د مړیني خبر وي چي زما له انده يې لا د ژوند د پایښت ډیر پسرلیه درلودل. هو دا د خدای بخښلي استاد اسد اسمایی د مړیني خبر و. خبر مي واورېدی، خو زه نه پوهېدم چي د استاد منلی د تلیفون کولو اجر څنګه ادا کړم، په ترخني او که په منني؟ له یوې خوا يې زما د ډیري مودې ملګري د مړینې را ته وویل ، چي په اورېدلو يې زما دحلق ناړي وچي او ستوني مي ونښتی . هغه ګړی مي د استاد اسد د بیا لیدلو څخه دمحرومیت غریو د سر پر کوپړی را وڅرخېدی. او له بلي خوا د یوې داسي پیښي خبر شوم چي زما له آنده زه باید تر هرچا لومړی خبر وای. نه پوهیږم چي د استاد منلی سره مي د تلفون ورستی خبره څنګه وه ، خو دا مي په زړه دي چي موږ دواړو یو لنډ ویر وکړ او د نورو مالوماتو د تر لاسه کولو او یو او بل ته د رسولو هو مو وکړل.



www.pukhto.net

تر تلیفون وروسته مي اندیښنې هر لوري وڅرخېدې. د استاد اسد سره د تیر پنځه دیرش کلن ژوند خوږې او تر خې خاطرې را په زړه شوې. د ذهن پردو ته مي تیر کالونه دومره لنډ او یو بل ته نږدې شول لکه چې همدا ټوله کالونه یوازی همدا څو لحظې وې.هغه ورځي شپې مې را په زړه شوې چې د لومړي خل لپاره د کابل پوهنتون په انګړ کي زما یوه بل ملګري ښاغلی جمعه نوپرور استاد اسد ته ور وپیژندم . بیا مي هغه ورستی ورځي شپې چې په هلند هیواد کي مي ورسره درلودې، را په زړه شوې. د لومړی پیژندني او ورستی لیدني تر منځ پوره پنځه دیرش کاله تیر شوي وه ، خو زما ذهن داسي په چټکی ټولې بیا را یادي او را وګرځولې ، چي رښتیا یې هم دا پنځه دیرش کاله راته یوازي څو لحظې کړې.

د اسد نوم مي پخوا اورېدلی و، د هغه مهال د ډیرو کېنې اړخه محصلینو په منځ کي اسد د زیاتومعلوماتو او پوهي او په ځانګړې توګه په فلسفي بحثونو او ښوونو کي د پام وړ شهرت درلود. ما هم د هغه په اړه اوریدلي وه ، خو چي ومي لیدی، هسي چي اوریدلي مي وه تر هغه راته زیات برلاسی، صمیمي او پرانستی وبریښېدی. په هغه لومړنی لیده کاته کي تر ټولو راته دا ډیره په زړه پوري وه چي اسد به د یو شمیر مخورو او پیژندل شویو شخصیتونه تخلصونه د صاحب د کلمې پرته یادول .مثلا ویل به یې چي فلانی مي ولید ، داسي نه چي فلانی صاحب مي ولید.ماته د یو شمیر مخورو کسانو د تخلص سره د صاحب نه ویل یو ډول بغاوت ښکارېدی، د دې سره سره چي زما په خبرو کي به هر وخت د تخلص تر څنګ د صاحب کلمه ملګرې وه، خو د اسد دا متود مي خوښېدی.

اسد هغه مهال زیات شهرت وګاټه چي د کابل پوهنتون د فلسفې څانګې له لوري د فلسفي پوهني یوه سیالي د هېواد په سطحه اعلان او د پلي کیدلو چاري یې تر سره شوې، په دې سیالیو کي استاد اسد په هیوادکي د فلسفي پوهني تر ټولو کاندیدانو او د ازمیني دګډونوالو څخه په لوړه نمره بریالی شو. د سیالیو دا پایلي د هېواد د مطبوعاتو له لوري اعلان او خپرې شوې. ښایي د اسد د زیاتوفلسفي زدکړو یو لامیل به د هېواد د سیاسي کېنې اړخه خوځښت سره د هغه پر له پسې اړیکي وي ، خو دا د شک پرته ویلای شو چي د هغه ځانګړي استعداد له او د فلسفي افکارو سره د هغه ځانګړې مینه او لیوالتیا ، په دې زدکړو کي ډیره اغیزمنه او څرګنده وه.



www.pukhto.net

د استاد اسد سره زما اړیکي هغه مهال یو ځل بیا نږدې او تودې شوې چې موږ دواړه ( زه د لرغونپوهنې او استاد د فلسفې په څانګو کي) د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو په پوهنځی کي د استادی په دندې بوخت و.
هر ورځ به مو سره لیدل، پر بیلا بیلو مسئلو او ستونزو به مو خبري کولې ،د غم او غوسې د ویلو او ښکاره کولو سره جوړ نه و، په خپل منځي خبرو اترو کي به یې علمي او فلسفي بحثونه د طنز په ژبه وړاندې کول، د هري وینا سره به یې د یوه فیلسوف یا یوه نامتو لیکوال او یا د اولسي متلونو او شعرونو یوه تائېدي لنډه ضمیمه ملګرې وه، پخې او ژورې لیکني به یې کولې ، سپېڅلی او پرانستی و، تشریفات یې نه خوښول. که به د کوم ناپیژاند سره پر لارې ملګرې کیدی داسې باندار او مجلس به یې کاوه ، لکه د کلونو کلونو ملګر تیا چې ورسره لري. پاکوالی او ځانګړې سلیقه یې درلودل .د استاد په توګه یې خپله دنده ادرې مسولیت نه بلکې اخلاقي او انساني مکلفیت ګانه. د هېواد او پرمختګ سره یې مینه درلودل. دا د استاد اسد د شخصیت هغه ځانګړني وې چې زما په آند د استاد هر ملګری او دوست به یې د مکث او تر دید پرته ومني. د دې ټول یادشویو ممیزاتو له ټولګي د یوې خاطرې په توګه د استاد اسد اسمایي هغه تعهد او باور را یادوم چې هغه به د خپلو لیکنو او مقالو په اړه درلود.
په هېوادکي د خپلواکو مطبوعاتو د دوهم پړاو ( ۱۳٦٦- ۱۳۷۱ لمریز کالونه ) پر مهال مي د( سلام ) په نوم دیوې خپلواکي خپروني سره اړیکي درلودې،د همدې مهالنی لپاره مي د استاد اسد څخه د لیکنو او مقالو لیکلو غوښتنه وکړه، دا غوښتنه مي پر له پسې څو خله په بیلا بیلو ورځو کي بیا بیا یاده کړه ، خو استاد به هر ځل ویل چې : ښه خبره ده فکر بر پر وکړو.
څو اونی وروسته مي یو ځل بیا دا غوښتنه وکړه ، دا ځل استاد راته په خپل دیپارتمنت کي د چای خوړلو او خبرو کولو و ویل ، زه هم ورسره ولاړم ، خبري مو پیل شوې . دا ځل استاد د هر وخت په څیر طنزیه باندار نه کاوه ، په خورا دقت یې د خبرو لړی پیل کړه ، او زما نه یې وپوښتل چې زه ستاسو د اخبار لپاره څه لیکلای شم؟ ما ورته وویل چې تاسي چې هر څه غواړی خپاره یې کړي هغه به زموږ اخبار خپروي ! استاد وخندل او و ویل چې زه نه غواړم داسي څه ولیکم چې هدف او موخه یې څرګنده نه وي ، او بیا دا چې دا لیکنه پر له پسې خپره هم شي. بیا مي استاد ته د هغه وړاندیز و ویل چې د ( سلام ) مهالنی د مشر تابه په غونډه کي مطرح شوی و. د ( سلام )



www.pukhto.net

مهالنی د امتیاز خاوند او مسوول مدیر ښاغلي الحاج محمد جان باوري د مهالنی د مشر تابه په یوه غونډه کي دا وړاندیز کړی و چي : زموږ په خپرونو کي بايدد هېواد پالو لیکوالو له لوري د یوه بشپړ افغان ځوان داسي کرکټر انځور شي چي د هغي لیکني په لوستلو سره زموږ نوی کهول او ځوان نسل هغه کرکټر د ځان لپاره غوره او په هغه روحیه ځان وروزي. هغه ارمانونه چي زموږ انځور شوی ځوان يې لري هغه زموږد نوی نسل ارمانونه هم شي. تر هغه وروسته استاد وپوښتل چي : ستاسو دا ځوان به تر کومه بریده خپلواک وي؟ د کومو آندونو پاللو ته به ژمن وي ؟ هغه به د کوم چاپیر یال محصول وي؟ کوم لوري ته به د تللو اراده ولري ؟ دا پوښتني يې ټوله په یوه ځل نه بلکي د بحث په دوام به يې زما د نظر د اورېدلو وروسته کولي.

د استاد اسد د پوښتنو په وړاندي مي په ډېر پام سره د ځواب ویلو هڅه کول ، ما ورته و ویل چي : زموږ دا ځوان به پوره خپلواک وي! د ملي افغاني لیدلوري خاوند به وي! زموږ د ټولنيز ژوندانه یوه ځرګنده بیلګه به وي! او د هیواد د پر مختګ او انکشاف سره مینه ولري ! دا ځوابونه هم په همدې لنډون نه وه ، په حقیقت کي دا مباځه پوره تفصلي او رغنده پو هنیز ډیالوګ ته ورته وه. دې بحث څه ناڅه دوه ساعته په بر کي ونیول ، خو په ورستیو کي استاد اسد د دې وړاندیز مخالفت وکړ او په خپل خاص انداز يې وو یل چي وروره دا ډول شخصیت زه په خپله لیکنه کي نشم روزلای ، او زما باور د دادی چي که څوک ځان ونه غولوي ، د داسي متضاد شخصیت روزل نه یوازي دا چي شونی نه دی ، بلکي ربښتني او د منلو هم نه دی.که څوک ناول ولیکي کېدای شي چي د یو شمیر ځوانانو لپاره د لوستلو وړ وي ، خو دهغه ناول مثبت کرکټر به به په ربښتني ژوند کي د پایښت وړتیا ونه لري ، یا به وژل کیږي چي ربښتني نړی د ناول د نړی سره بیله شي ، او یا به همداسي لکه د د یوشمیر ناولونو د قهرمانانو په څیر غیر مادي توان او متافزیکي ملاتړ ولري. همدا ډول نور دلایل او مسایل يې یاد کړل او بیا يې خپل پخوانۍ خبره تکرار کړه چي : زه په خپلو لیکنو کي داسي شخصیت نشم روزلای ، که بل کوم لیکوال دا شخصیت وروزلای شي ، زه به يې هرکلی وکړم.

د دې خبرو څه زیات او کم ، یوه میاشت و وتل ، چي یوه ورځ استاد اسد په خندا و ویل چي : (( زه غواړم سلام ته اخلاق ولیکم )) ډېر مو وخندل او



www.pukhto.net

ټوکو ته مو لاره پرانستل ډیر مو ووېل او ومو خندل آن تر دې چې هغه خبره چې استاد غوښتل وه یې کړي ، پاته شوه . یوه دوې ورځې وروسته استاد زما دفتر ته راغی او وې ویل چې : ما د سلام مهالنی لپاره پر یوې داسې لیکنې فکر کړی چې کیداشي پر له پسې خپره شي او تر یوه بریده ستاسو هغه وړاندیز ته ورته هم وي.ما بیله ځنډه ومنل او د پیل غوښتنه مي وکړه. څو ورځې وروسته استاد د اخلاقو په نوم څلور پاڼې چې په لاس لیکل شوي وې راکړې او په دې تر تیب د ( سلام ) په خپرونه کي د اخلاقو په نوم د لیکنو لړی پیل شوه . د څو شمارو د خپرولو وروسته د اخلاقو د لیکنو په اړه د لوستونکو غبرګونونه یو په بل پسې را رسېدل ، یو شمیر به په دې خواشني ښودل چې، په دې لیکنو نه پوهیږي ، هغوې به لیکل چې د دې لیکنو موخه څه ده ؟ او دیو شمیر لوستونکو غبرګونونه بیا د ډیري خوښی او لیوالتیا سر مله وه . د سلام مهالنی ته به د نورو لیکنو ، مقالو شعرونو او نورو خپاره شویو مطالبوپه اړه یوه یا دوې ځانګړې نظریې را رسېدلې ، خو د اخلاقو په اړه دا نظرونه زیات او پر له پسې ځکه وه چې له یوې خوا دا لیکنې د خپرونې په خورا مهم ځای کي چې معمولاً د خپرونو سر مقالو ته ځانګړی کیږي ، خپرېدل او له بلې خوا دا یوه پر له پسې لړی وه . په هر صورت د لیکنو دا لړی وغزېدل او پوره اته میاشتې د اخلاقو په نوم داستاد اسد لیکنې خپرې شوې. په دې لړی کي یو ځنډ پېښ شو ، پوره مي نه دي په یاد چې ولې دا لړی پرې شوه خو دا مي په زړه دي چې د لوستونکو یو زیات شمیر لیکونه را ورسېدل چې د دې لړی د بیا پیلیدلو غوښتنه یې کول ، دا چې د یوه ځانګړي موخې لپاره دا لړی نه وه ځنډیدلې ، نوځکه مو زیات پام نه شو ، چې بیا یې په هماغه ډول پیل کړو، خو د دوو درو شمارو تر خپرولو وروسته د هغه مهال د جمهوري ریاست د دفتر رئیس ښاغلی اسحق توخي د سلام خپلواکي خپروني مشر ښاغلی الحاج محمد جان باوري ور وغوښت او د جمهور ریس مرحوم داکتر نجیب الله دا ځانګړې غوښتنه یې ورته ویلې وه چې : د اخلاقو په نوم دا لړی دي دوام پیدا کړې ؛ د دې لپاره یې دا ویلې وه چې دا اخلاقو په نوم دا لیکنې د ملي روغي جوړي لپاره خورا ارزښتمن تیوریک بنسټ جوړولای شي. او د ښاغلي توخي د قوله چې دا لړی هر وخت داکتر نجیب الله لولې او خورا زیات یې خوښوي.

د استاد اسد سره ورستی خاطره هم راته نه هیرېدونکي ده . په اروپاکي به مو د تلیفون له لارې اړیکي درلودې، بحثونه به مو په تلیفون کي سره کول،



www.pukhto.net

کله ناکله به د تلیفون خبري هم تر ساعتونو واوښتې، او د دې تر څنګ به مو په کال کې یو ځل د جرمني د کلتوري ټولنې له لوري په هغو پرتمینو سیمنارونو کې هم سره لیدل چې نوښت یې د ښاغلي زرین انځور له خوا کېدی. د دوه زره اووم کال د مارچ میاشت کې مې استاد ته د راتلو بلنه ورکړه. استاد ومنل او د اروپایې تور په څیر یې خپل پروګرام ترتیب کړ ، لومړی بلجیم ته، بیا هلند او جرمني ته یې هم د تللو پروګرام درلود، استاد بلجیم ته را ورسیدی، او بیا هلند ته هم د ښاغلي حاجي علي محمد مجبور صاحب په ملتیا زما تر سیمې را ورسېدی. په لیدلو یې ډیر خوښ شوم، د پروګرام سره سم یې یوه اونی زما سره په پام کې وه ، زه چې د هلند هیواد په یوه شمالی ښار آسن کې اوسیدم ، نو د همدې ښار د میشتو افغانان په نوښت یوه غونډه د استاد د هرکلي لپاره جوړه شوه. په غونډه کې استاد د خپلو یو شمیر نویو کارونو او له هغې جملې د ( دوغسیانو ) په نوم د نوي رسالې د تخلیق یادونه وکړه ، دا رساله چې په منظوم ډول لیکل شوې وه ، خپله استاد په همدې غونډه کې ولوستل، هلته د ټولو افغانانو له خوا په خورا زیاته لیوالتیا واورېدل شوه او هرکلی یې وشو ، دوغسیان د استاد د زندان خاطرې وې، خو په داسې فلسفي انداز کې دا خاطرې وړاندې شوي وې ، چې لوستونکی او اورېدونکې یې اغیزمن کاوه . هلته یو شمیر افغانانو د همدې اثر د خپرولو مصارف ومنل ، خو استاد ویل چې دا لا زیات کار غواړي چې پوخ شي. له بده مرغه پوه نه شوم چې هغه اثر پوخ شو که نه ، خو استاد اسد د تل لپاره زموږ له ستړګو ځان پنا کړ.

استاد اسد چې په افغانستان کې و ، ویل به یې ، راځی سر ټکوني پرېږدو ، د هري ستونزي حل ته پام وکړو، هر ستونزه حل لري او حل یې تدبیر غواړي. خو هغه ستونزه چې استاد ته د هغه د ژوند په ورستیو کې پیښه شوه ، د هغې حل د استاد له توانه وتلی و، هغه د ژوند په ورستیو کې غمو نو داسې را تاو کړ چې د تدبیر لاره ورته پاته نه شوه، په کډوالی ژوند کې استاد خپل هویت غوښت ، هغه څه چې کډوال یې د کډوالی په پیل کې له لاسه ورکوي . استاد د خپل تیر ژوند په بهیر کې د کړو علمي هڅوتقدیر او تحسین غوښت، چې د خپل هیواده بیلوالي دا ناشونې کړې وه. استاد د خپلو افکارو او ارمانو د ویلو لپاره اورېدونکي غوښتل ، چې لاس رسی یې نه درلود، هغه د خپلو افکارو د وړاندي کولو او بیا دهغود غبرګون لیوال و،چې دا هیله یې نه پوره کېدل،لنډه دا چې استاد دکډوالی ژوند دومره



www.pukhto.net

وځپی چې پای يې ژورځفګان او مړينه شوه.(انا لله انا اليه راجعون ) دعا کوم چې الله ( ج) دې پر ورحميږي او فردوس جنت دې په برخه شي.
امين يا رب العالمين

د سمڅو تل
نجيب منلی

سيزيف د کورينت پاچا و. يوه ورځ يې زيوس، د خدايانو مشر، د يوې ناوړې کړنې پر مهال وليده او خبره يې افشا کړه. زيوس ورته په غوسه شو، تناتوس ، د مرګ خدای، يې پسې واستاوه چې سا ترې واخلي خو سيزيف په څه چل د تناتوس لاس او پښې وتړل او بندي يې کړ. د ځمکې پر مخ مرګ نه و، ټول ژوی به تل ژوندي وو. د مرګ ختمېدلو د نړۍ نظام سره ګډوډ کړ، نو زيوس د جنګ خدای، ارېس، راواستاوه چې تناتوس له بنده وژغوري او سيزيف ووژني. سيزيف چې نه يې غوښتل داسې ژر مړ شي نو خپلې مېرمنې، مېروپې، ته يې وويل چې د ده مړی به نه ښخوي، د ښار په ميدان کې به يې اچوي چې سپي يې وخوري. مېروپې د خپل خاوند وصيت ټکي په ټکي بر ځای کړ. کله چې د سيزيف اروا د دوزخ اوبو ته ورغله نو د دوزخ خدای، هادېس، يې په دې قانع کړ چې هغه ښځه چې د خپل مېړه له مړي سره داسې سپک کار کوي بايد ووژل شي. هادېس ورته اجازه ورکړه چې بېرته دنيا ته راشي او کسات واخلي، سيزيف بيرته خپلې پاچاهۍ ته راغی ، له مېروپې سره يې له سره د مينې ژوند شرو کړ، کسات اخيستل خو څه کوې چې حتی په جنګونو کې به هم د دښمن مخې ته نه ورته چې مړ نه شي. زيوس ورته نور هم په غوسه شو او سيزيف يې په دې محکوم کړ چې يوه غټه ګټه به د غره له لمنې د غره تر څوکې رغړوي خو کله چې د غره څوکې ته ورنږدې شي ګټه به بېرته لاندې ترې توليږي او دی به بيا لګيا وي تيره به رغړوي. دا کار به د وختونو تر پايه په همدې ډول روان وي.

****



www.pukhto.net

د بي بي سي ژورنالیست له اسد اسمايي سره مرکه درلوده. ژورنالیست وپوښتل چې فلسفه ولې په کار ده خو اسد رتې ځواب ورکړ چې فلسفه ګردسره په کار نه ده. ژورنالیست چې ظاهراً د فلسفي ټاکو نه و، هڅه کوله چې خپله پوښتنه بېرته په يو ډول سره راجوړه کړي خو فيلسوف بيا له خپلې خبرې اووښتونکی هم نه و او په دې هم نه پوهېده چې ولې يې پر خبرو د مقابل لوری سر نه خلاصېده. دا به د بي بي سي تر ټولو ناکامه مرکه نه وه، خو مرکه کوونکي به د خپلو پينځو دقيقو مطلب په ختمولو حتماً خپل ځان او دغه فيلسوف ته يو دوه ښکنځلې کړې وي.

د ژورنالیست او فيلسوف تر منځ نه پوهاوی په خپله چندان خبره نه ده چې سړی دې پرې تم شي خو دغه ناکامه مرکه د اسد اسمايي د پېژندلو له پاره يوه مناسبه دريځه ده. ژورنالیست په دې فکر دی چې يو چا چې خپل ژوند يو کار ته وقف کړی وي، هغه به حتماً په دغه کار کې يوه ګټه ليدلې وي، ټولنه چې فلسفې او فيلسوف ته په دومره لوړ نظر ګوري، ضرور به يې په فلسفې او په فيلسوف کې کوم خير ليدلی وي نو ځکه له فيلسوفه د دې تمه لري چې هغه به خپل مفيديت زبات کړي. خو فيلسوف بيا موضوع ته له بلې زاويې ګوري. هغه ځان ته ګوري، هغه خپل ژوند ته ګوري، هغه خپل چاپېريال ته ګوري او دې نتيجې ته رسېږي چې فلسفه په خپل ذات کې داسې يو څه دي چې د يو انسان فکر مشغول ساتلای شي خو که له دې وړاندې ولاړشو، په اوسنۍ نړۍ کې چې ټولنيز - سياسي ژوند پر لنډمهالو اقتصادي بنسټونو ولاړ دی، د فلسفې عملي اغيزه دومره نه ده چې د يو عادي انسان په ورځنيو ستونزو کې پرې حساب وشي. دلته فيلسوف له ژورنالیست سره په يو سطح نه دی، دوه پراوه ترې مخکې روان دی.

فلسفه ريښتيا هم همدغومره بېکاره متاع ده، لکه زموږ فيلسوف يې چې وايي او که زموږ فيلسوف له فلسفې سره کومه خاصه ستونزه لري. سيزيف ته که په سطحي نظر وګورو، د عبث خوارۍ تر ټولو ښه مثال دی : په زړه چاودون دومره ستره ډبره د غره سر ته ورسوه او هغه دې بېرته خپل ځای ته راشي. ستونزه په تيږه کې نه ده. د هغې ماهيت دا دی چې د ځمکې د راښکون تابع واوسي. ستونزه د تيږې په وړونکي کې هم نه ده، هغه په خپل ټول ځواک د ورسپارل شوې دندې په سرته رسولو لګيا دی. غر هم ستونزه نه لري. نو خبره چېرته ده؟ د سيزيف ګونا دا نه ده چې د مرګ خدای يې په زنځيرونو تړلی دی. د دوزخ له سمڅې په ستنه راتګ هم داسې څه نه دي چې په دومره درنده جزا دې وارزي. د يونان په اسطورو کې سيزيف يوازينی انسان نه دی چې د خدايانو د تېرايستلو هڅه يې کړې ده. هغه خطا چې سيزيف يې د وختونو ترپايه کفاره ورکوي دا ده چې يو پټ واقعيت يې لومړی ميندلی دی او بيا يې افشا کړی.



www.pukhto.net

هغه څه چې د نړۍ په پوهنتونونو کې د فلسفې په نامه ویل کېږي، د دنیا او ما فیها په اړه د نوو او پخوانیو پوهانو د نظرونو مجموعه ده چې فیلسوف پرې خبرې کوي،«نظر پرې ورکوي»، او د کره او نا کره جاج یې اخلي. دغه فلسفه بې ګټې نه ده. د انسان ژوند د پېژندل شویو سیمو تر منځ په سپینو لارو تلل او راتلل دي. د لارو پېژندل د ژوند ستونزې هواروي او که داسې څوک وي چې ډېرې لارې ورمعلومې وي نو هغوی بیا نه یوازې له نورو انسانانو سره دسمو لارو په میندلو کې مرسته کوي، بلکې، که اړتیا یې پېښه شي، د غلو پل هم وهلای شي او ورکې لارې هم راسپړي. د لارو لټولو او پر روغو لارو د تلو راتلو په ترڅ کې دغه لاربښوونکي لارویان نوې لارې هم مومي او د بشریت له پاره د نوو پرمختګونو زمینه برابروي. دلته که د خلقت د حقیقتونو پر لور د کتلو دریڅې پیدا کېږي نو ډېرې وړې او تر یوه بریده تصادفي وي.

د اوسني عصر د پوهنتونونو فلسفه هغه څه ته ډېره نېږدې ده چې پخوانیو عارفانو د استدلالیانو لار بلله.

پای استدلالیان چوبین بود
پای چوبین سخت بی تمکین
بود

د استدلال د لرګینو پښو یون د ښارو لارو د پل کولو څواک نه لري. د عرفان او تصوف په مرسته سالک د دنیا د ماهیت د پېژندلو له پاره د الوت هڅه کوي. عارف واقعیتونه یو یو، تار، تار نه شمېري، تموله صحنه په یوه نظر کې را نغاړي. د عارف الوت کولای شي چې د خلقت د واقعیت په اړه یو مجموعي، اجمالي تصویر ورکړي خو له مادي دنیا څخه دومره فاصله اخلي چې جزییات نه شي لیدلای. د عارف لید که غل او مل پېژني، د انساني عدالت سره کار نه لري ، پولیس ته هغه دلایل او شواهد په لاس نه ورکوي چې د غله د تېښتې مخه ونیسي.

د اپلاتون په وینا، فیلسوف هغه کس دی چې په یوه تیاره سمڅه کې ناست دی، شا یې د سمڅې خولې ته ده، د سمڅې په مخ کې اور بلېږي، څوک یا څه چې د اور په مخ کې تېرېږي، سیورې یې د سمڅې د تل پر دېواله څرګندېږي او مفکر انسان ګومان کوي چې واقعیت هماغه څه دي چې د ده په مخکې دي. دا د سمڅو فیلسوف کولای شي چې د سیورې په څېرلو د هغو موجوداتو په اړه یو تصور پیدا کړي چې د اور په مخ کې تېرېږي، راتېرېږي خو د دغو موجوداتو له مخامخ لیدلو محروم دی.



www.pukhto.net

د شلمې پېړۍ په پيل کې د ارواځيرنې (سايکوانالايزس) تيوري د انسان د ادراک په اړه څو پوړيز تصور وړاندې کوي چې شعوري برخه يې (هغه برخه چې فيلسوف يې مخامخ کتلای شي) تر ټولو سطحي برخه ده، ټوله لوبه د تحت الشعور او لاشعور په ډګر کې کېږي. زيګموند فرويد د فرد ادراک څېړي خو په دغو تيارو کې بيا هم له يو لړ ستونزو سره مخ دی چې کارل ګوستاو يونګ د ټولنيز لاشعور مفهوم ته په مخ وراړولو هڅه کوي چې هوارې يې کړي.

وجودي فلسفه په همدغې بوخته کې نښتې ده، د مسووليت او ارادي خوزښت په مرسته د خلاصون په لټه کې ده.

ځوان افغان فيلسوف خپل چاپېريال ته ځير دی، کتابونه يې لوستي او ګومان کوي چې د تيارو سپړلو ته تيار دی. په همدغه مهال د ده په کور کې اوربلېږي. د لمبو نڅېدونکې رڼا د يو ثابت تصوير او د يو پايېدونکي تصور د جوړولو امکان نه ورکوي. دا هر څه خو په خپل ځای، له لمبو راوتی ښامار يې په خپله زهرجنه خوله ننباسي او هلته يې د نورو دوزخيانو سره د پل چرخي د نوو تيارو سمڅو تل ته ورټېل وهي. وجودي انديښنې او جسمي عذابونه يې دې ته اړباسي چې د خپلو تورتمونو له پاره د نوې زده کړې فلسفې لمده، دودجنه شونتۍ په لاس واخلي. اسد اسمايي له غربي فلسفې سره اشنا دی، شرقي عرفان سره روږدی دی او په خپله هم د يو دقيق نظر خاوند دی. خو دی د ژبې ستونزه لري. ده ته د فلسفې او نړيوالو ادبي متنونو يوازې هغه برخه رسېدلې ده چې په ايران کې فارسي ته ژباړل شوي دي يا يې په کابل کې له خپلو استادانو اورېدلي دي. اسمايي د حقيقت په لټون د پړله پسې سمڅو تل ته ورکښېوتی دی، د رڼا ياد ورسره دی او په څپل ټول فکري ځواک هڅه کوي چې که رڼا ته و نه شي وتلای، کم له کمه شاوخواتيارې و څېري. د فلسفې په سفر کې يې د پوهنتوني زده کړو، د خپلې پراخې مطالعې او د خپلو استادانو د لاربښونو څوري په خپله بوخڅه کې راخيستي دي. په روسيه کې يې د نورو زده کړو فرصت هم پيداکړ خو نوې سمڅې يې هم پر مخ خلاصې شوې.

هغه ترخه واقعيتونه چې ځينې يې د پټولو هڅه کوي او ځينې پرې د سياسي ژمنتيا پرده غوړوي، د نوي عصر سيزيف دې ته اړباسي چې د شعوري درک دروند پېټی د ژوند پر ستغو پېچومو وخېژوي او دا تجربه هره ورځ، هره شېبه، د سا له اخيستلو سره تکرار کړي. دا فيلسوف مجبور دی چې فلسفې ته هم د شک په سترګه وګوري.



www.pukhto.net

پوهند وی آصف بهاند

يواسد ، يوليونى

يوفلسفي،يوآسمايي



www.pukhto.net

د ۲۰۰۹ م کا ل دجولای پراوومه نیټه د پاریس په وخت د ورځې دولس اوپنځه پنځوس دقیقې استاد اسد آسمایي په خپل استوګنځي کې په داسې حا ل کې بې هوشه پیدا شوی چې لاسونه اومخ یې شنه شوي وو اوسا یې نه شوه ایستلای.روغتون ته له لیږدولو وروسته،د آکسیجن دستګاه په مرسته یې یو څه تنفس کړی،دلاسونواو مخ شین واله یې ورک شوي او وجود یې بیرته تودوخه پیدا کړې ده؛خو په خواشینی سره چې د۲۰۰۹م کا ل د جولای پر اتمه دسهار په څلور بجو او شپږ دقیقو ومړاو ډیرعلمي فرهنګي دوستان یې دویر پرتغر کینول.

تر هغه ځایه چې زما ژوند او خاطراتوله ده سره تړاو درلود او زما حافظه له ما سره یاري کوي،داوس له پاره به زه دده دمرګ د ویرتسلا ددغوتورو او خاطراتوپه لیکلو وکړم:

د افغاني فرهنګ دخزان وهلي بڼ یوه بله پاڼه ژیړه شوه او ورژیده،یوه بله څانګه یې ماته شوه.دا ځل یې له موږ. څخه زموږ. لیونی فلسفي یووړ،دا ځل یې د افغانستان د اوسني فلسفي تفکردریمه لویه ستنه وچه کړه او دنامرادې زمانې نامرادو بادونو،له بیخه وایسته.دافغانستان دمعاصر فلسفي تفکرلارویانو او مینه والولا د ځانځانې ښا مار د خاوند ستر فیلسوف پوهاند دوکتوربهاالدین مجروح او دوکتور غلام غوث شجاعي غم ژاړه،چې د فلسفي امید دریم ور یې هم پر مخ وتړل شو.مجروح خو ښامارانو وچیچه اومخامخ یې دخپل استوګنځي په انګړ کې په وینو لیت پیت کړاو شالیلی ګانې یې څیرې ګریوانونه په تمه کینولې؛او شجاعي خو پخوا ترمجروح د وخت لیوانوداړلی او دنیستی کندې ته لیږلی و.

خو زموږلیونی فلسفي یې داسې واخیست چې لکه د چا خبره وینه یې هم تویې نه شوه،ریښتیا دده په وجود کې وینه چیرته وه چې تویې شوې وای،او داسې یې رانه واخست چې په زړګونو زړونه یې په وینو او اوښکو کې ولمبول.

هوکې! اسد یادوم،آسمایي اسد،فلسفي اسد،لیونی اسد(( که لیونی یې زما یار یې)) هر څوک چې هر څه وایي،ودې وایي،زه په زغرده وایم هرڅه چې و،زما یارو:

زما دمرکزي لیلې دکوټې یار،

زما دتورو شپو دمرکو یار،

زما دټوکو ټکالو یار،

زما داستادۍ ددورې دهمکارۍ یار،



www.pukhto.net

زما دماسترۍ ددورې دزدکړواستاد اويار،

زما دمهاجرت دترخو ورځو،ترخو ساعتونواوترخو شيبو يار اوزما...

ډيرې اوږدې لارې به يې ماته دراتګ په هيله شاته پرېښودې اوپه ستړو قدمونو به له فرانسي نه،له پاريس نه تر ډنمارکه پورې ځان راورساوه او راته وبه يې ويل:(( دا دی راغلم،اوس به مي دمه جوړه شي((.

زما دمهاجرتونو دتيلفونونو يارچې ساعتونه به دده مرکي نه خلاصيدې.هرکله به مو په مورنۍ ژبه پښتو خبرې کولې،ښه به يو دبل په خبرو پوهيدو،خو څه داسې پوښتنې او ستونزې به مو په خبرو کې را پيدا شوې چې ده به نا څاپه راته وويل:ګوره فکر وکړه! ته زما په خبرو پوه نه شوې.ده په همدې خبرو او مرکو کې هم فلسفه ورکډوله او فلسفي پوښتنې به يې کولې:

- دا ژوند څه مانا لري؟

- سقراط ولې د زهرو جام پر سر واراوه؟

- سقراط ولې خپلې خبرې او افکار په ليکلې بڼه پرې نه ښودل او وروسته تر ده،دده شاګردانو قلمونه پسې راواخستل؟

- ولې سارتر ځان وواژه؟

- ولې صادق هدايت ځان وواژه؟

- ولې؟ ولې؟ ولې؟ او...

ما به ورته وخندل ،خبره به مي په بله خوا واړوله او دعذر په ډول به مي د خوشال بابا ږيره ورته ونيوله:

)) څو دې توان رسي په لوی درياب کې ګرځه

په وياله کې دې زوال وينم

نهنګه((

ماته په دقيق ډول د استاد اسد آسمايي دزيږيدو نيټه نه ده مالومه.نه ده په خپله څه راته ويلي،نه مي په کوم بل ځای کې دده يا دبل چا له قلمه څه لوستلي دي.له خپلو خبرو يې هم داسې ښکاريدل چې دزيږيدو اصلي نيټه يې چا نه ده ليکلې،اما په اټکلي ډول يې

راته ویلي و چې دی څومره کلن دی.مډيا چې دمرګ په ورځ ۵۶ کلن شودلی دی،دا هم په اغلب ګومان اټکلي نيټه ده.ده په ماسکو کې دخپل تحصيل دوخت يوه ريښتيني خاطره چې هغه دټوکې په بڼه ده او دده دزيږېدو اټکلي توب ثابتوي،داسې بيانوله:

چيرته په کوم رسمي دفتر کې پوښتنه رانه وشوه چې د زيږېدو ورځ دې وښيه!

ما وخندل.مقابل لوري پوښتنه وکړه:

بيا ولې خاندې؟

کوربانه!

په دې خاندم چې ماته يې کال نه ده مالوم،ته يې د ورځې پوښتنه کوې.

ده ته هر څه پوچ او بې مانا وو.ژوند کوم ارزښت نه ورته درلود.هر څه يې د فلسفې په تله کې تلل.ډېرو لږو خلکو سره يې خبرې راتلې؛خوچا سره چې غږېده نو بيا به ډېر صميمي او بې تکلفه و.ډېرعلمي اوفلسفي مطالب به يې هم د ټوکو په جامه کې ويل.خپلو هم رديفانو او ملګرو سره به يې هر کله ټوکې کولې.ښايي دا ټوکې يې له خپل پلار نه په ارث وړې وې.يو وارې ما داسې وليدل چې له خپل پلار سره يې هم ټوکې کولې.

ډېر ځلې به دی زموږ کور ته راته،او کله کله به زه ددوی کورته چې دکابل دپلچرخي په سيمه کې د حربي پوهنتون نه لاندې دګل باز په کلي کې و،ورتلم.دوی هلته دکابل سيند پر غاړه يوه کلا او يوه لويه باغچه درلوده.دده له لارې ،دده له کورنۍ سره بلد شوی وم.پلار يې غلام دستګيرخان نوميده؛خو ده به لا لا جان ورت ويلې،ما هم دده له خولې لالا جان با له.

د اسد دغير معمولي کارونو په لړ کې يو غير معمولي کار دا و چې پلار سره يې هم رابطه غير معمولي وه.دوی دواړه په غير معمولي ډول يو بل ته ګران وو.غير معمولي ناسته پاسته او ټوکې به يې کولې.لکه دوه زاړه اوسره ګران ملګري داسې وو.

يوه ورځ زه او استاد اسد له ښار نه د پلچرخي د ګلباز کلي ته وخوځيدو.له رسيدو سره سم که ګورو چې کوټه له ميلمنو ډکه ده.څه وطني غوندې خلک وو.زه خو د هغو له پاره پردی او نا پيژند لی وم؛خو داستاد اسد له خبرواو حرکاتو ميلمانه پوه شول،چې دی دکور غړی دی،خو نه يې پيژانده چې د غلام دستګير خان زوی دی.له ستړي مه شي وروسته کيناستو.د پاخه عمر يو تن چې ږيره يې سره کړې وه،اسد ته يې مخ ورواړاوه،ورته وې ويل:

- ومې نه پېژاندې؟

- زما نوم اسد دی.

- د زیږ ږیري تنده ماته نه شوه.دخپلو پوښتنولړی یې اوږده کړه،وې پوښتل:

- پلار دې؟

- هغه مړ شوی دی.

سمدلاسه زیږ ږیري نورو ته مخ ورواړاوه،وې ویل:یو لاس به پورته کړو.

لالا جان چې په باغچه کې اوبه لګولې،د دوا په پای کې راورسید اود خلاصې کړکۍ له خولې نه یې پوښتنه وکړه:

بیا د چا دوا ده؟

لیوني اسد پلار ته مخ وروااړاوه ورته وې ویل:

دا دی چې بیا ګیله ونه کړې،په خپلو سترګو دې ولیدل چې دوا مې دې واخسته،چې بیا ګیله ونه کړې.حاضرینو یو بل ته په تعجب وکتل او په سترګو کې یې لالاجان ته څه وویل.

د استاد اسد له مړینې یو کال وړاندې غلام دستګیر لالاجان پور پرې کړ.اسد خپله له پاریس نه تیلیفون راته کړی و.په پیل کې مې پوښتنه ترې وکړه:

میرمن دې؟

ښه ده.

زوی دې ؟

ښه دی.

ته خپله؟

دځان په باب یې د ښه توب او یا بد توب ځواب رانه کړ.

د لالا جان پوښتنه نه مې ورنه وکړه،ژورسوړ اسویلی یې ویسته،وې ویل:



www.pukhto.net

کوربانه! لالا جان هم لاړ.

زه چې دعادت له مخې دمړي د خبر په اوریدو ډیر ژر غمجن کیږم،غمجن شوم.د لالا جان دژوند څه سرې تودې چې ما لیدلې اوریدلې وې،په یوه ګړۍ کې مې تر سترګو تیرې شوې.دده ورین تندی،دده خبرې او خاطرات او دده ټوکې ټکالې مې لکه بریښنا د ذهن په آسمان کې وزغلیدې.

د اسد استدلال هم فلسفي و.کله به چې ده استدلال کاوه،دخپلو خبرو د ثبوت له پاره به یې دسترو فیلسوفانو په خبرو تکیه کوله،ډیر صمیمي او مهربانه و،حاکمانه نه غږیده،په خبرو کې یې حقیقت او صمیمیت له ورایه ښکاریده.

د استاد اسد دژوند او افکارو په برخه کې بل دپام وړ ټکی دا و چې دژوند په ټولو برخو کې دافراط او تفریط پلویې نه و.پرته له یوې لارې،نورو ټولو لاروکې منځ لاری او معتدل و.کله به چې له یوې خبرې سره مخالف و،مخامخ یې نه ردوله.له یوې ترخې مانا لرونکې خندا سره به یې وویل:

ښه ده کوربانه.

دده د (( ښه ده کوربانه )) په مانا باندې ډیر لږ کسان پوهیدل،چې د استاد مقصد نه ویل دي،ورپسې به یې وویل:(( نه افراط،نه تفریط،طلایې منځ لاره((

استاد اسد آسمایې ژوند اونړۍ ته په بل نظر کتل،دده نظر له نورو سره په توپیر کې و.ده ځان ته ځانګړې دید،نظریه او لاره درلوده.ده هر څه له خپلوسترګواو خپلو عینکو نه کتل او هر څه یې دخپلو افکارو په تله کې تلل او دا دید دده دید و،هغه فلسفي دید و،آسمایي دید واو اسدي دید و.استاد اسد له ډیرو ایزمونو سره آشنایي درلوده او تدریسول یې؛خو په یوه پورې یې هم تړاو نه درلود او له هغو نه یې پیروي نه کوله.دی یو لیبرال انسان و.

د استاد اسد په عیني ژوندانه کې یو حقیقت دا هم و چې که چا دده دخبرو د اوریدو او پوهیدوتمه درلوده،باید دمطالعې یو قوي بګروند یې درلودلای وای.هغه ترمینالوژي چې ده په خپلو خبرو کې کاروله،دهغې دپوهیدنې له پاره دمطالعې دغه قوي بګروند ډیر ضروري و.

په استدلال کې دلوی لاس خاوند و.په معجزه اې ډول یې خلک قانع کول.که به څوک نه پوهیدل او نه قانع کیدل،نو ده به ورته وویل:ښه ده،څه چې ته وایې،هغه سمه ده.



www.pukhto.net

د استاد اسد آسمايي شخصيت نه قانع کيدونکی،سرکشه،پلټونکی او ياغي شخصيت و.هغه بغاوت چې مجروح په ځانځاني ښامار کې پيل کړی و،اسد ګام په ګام تعقيباوه او پر هماغه پله روان واو دغه بغاوت ته يې عملي جامه وراغوسته.

ليونی اسد دهيڅ ډول ټولنيز او رسمي قانون پرواګير نه و.هغه څه چې به دده په فکراو طبع برابر و،دی به يې قانع کاوه؛منل به يې او کول به يې.د نور څه پرواګير نه و.د چا دخندا او ښه ويل،بد ويل خيال يې نه ساته او غير معمولي کارونه يې ډير کول.دهمدې دلايلو پر اساس زموږ دپوهنتوني يارانو کومه کړی چې وه،هغو به ليونی اسد باله.ليونی اسد زموږ په يارانو کې عامه او منلې خبره وه او ده ته هم يو ښکاره حقيقت و،په ځان يې هم بده نه لګوله.

د۱۹۹۲ م کال دمارچ وروستی شپې ورځې وې،زه دجهادي او ټوپکي زورواکۍ څخه د خلا صيدو په خاطر دخپلې ځالې او وطن پريښودو ته اړ شوم او د خپلې کورنۍ له نهو غړو سره د پيښور په لوري روان وم.ليوني اسد ته ورغلم ،ورته ومې ويل:

اسد ګله!

که کولای شې ووزه.زه روان يم،که بيا مو ديدن ونه شواو...

ده د وتلو اقتصادي توان نه درلود،دترخې خندا په ملتيا يې راته وويل:دا دومره موده مو چې سره وليدل،څه ګټه مو وکړه... بيا يې ور زياته کړه:تاسو ماته دليوني خطاب کوئ،مګر ليونيان تاسو ياستئ.ما و پوښته څنګه؟ ده وويل:

د افغانستان ددې ډرامې دليدلو له پاره بهرنيان په زرګونو ډالر لګوي او ليدلو ته يې راځي،زه چې تيار همدلته يم، پرته له مصرف نه يې ونه ګورم.

اسد به ډير پيچلي مسايل هم په ساده او روانه ژبه سره شنل.د جبر او اختارمسآله يوه پيچلې مسآله ده.انسان دطبيعت په مقابل کې څومره مجبور دی څومره مختار، انسان د ټولنې په مقابل کې څومره مجبور دی څومره مختار،انسان د خپلې کورنۍ په مقابل کې څومره مجبور دی څومره مختاراو...ده به دا مسايل په روانه او ساده ژبه داسې توضيح کول چې مخا طب به يې له ورايه پوه کاوه.دغه جبر او اختيار به يې په خپل سبک اوانداز بياناوه او کله ناکله به يې راته وويل:

کوربانه!

کاشکې دا خلک پوهيدلای چې دوی څومره مجبور دي.



www.pukhto.net

د استاد مجروح او استاد شجاعي لاره او افکار يې خوښول او دا خبره يې ماته په وار وار په کابل او اروپا کې کړې وه:

استاد مجروح اواستاد شجاعي زما په خبرواو مقصد پوهيدل،دوی ټول غوږ،غوږ وو.او بيا به يې له يو ساړه اوسيلي سره د خوشال بابا دا بيت پر ژبه راغی:

چيرته پسې درومم،په کوم لوري به يې مومم

ورکه مونده نه شي، بې رهبره بې سرا غه

کله کله به په سوچونو کې ډير ژور ډوب شو او يوه ټکي ته به يې په ځير کتل.که چا به دسوچونو د دليل پوښتنه ځيني وکړه،يو خندونکی،حيرانونکی ځواب به يې ورکړ،چې دده د سوچونو او عيني ژوندانه ښکارندوی به و.يوه ورځ مې دهمدې سوچونو لړۍ ور وشلوله،ومې پوښته:

- په څه چرت کې لاړې؟

دخپل کور چرت وړی وم.

استاد اسد په تهيه مسکن کې کور درلود.وروسته له هغه چې دی له خپلې کورنۍ سره دکابل پريښودلو ته اړ شو،کور په يوه وخت کې دوو ټوپکيانو ولجه کړی و.دې ټوپکيانو به هر کله دکور دملکيت پر سر دعوا کوله.ده دخپل کور دهمدې مسألې په اړوند زياته کړه:

زه اوس له کوره ورتير يم،هغوی که زما دکور پرسر دشخړې په ترڅ کې يو بل سره ووژني،مقامات به ما ټينګ نيسي چې قتل ستا په کور کې شوی دی،ته به يې ځواب وايې.

د استاد اسد د ژوند بله پرده،دده زنداني کيدل دي.دی درې ځلې زنداني شوی او دا درې سره کيسې يې ماته تيرې کړي دي.له دې درې ځلې بندي کيدو سره سره يې،خوله نه پټوله.حقايق يې ويل او د حقايقو دبيان له پاره بيا هم د زندان پرواګير نه و.

دا فلسفي حقيقت يې ښايي ډيرو لږو کسانو ته څرګند وي چې ده حقيقتاً ځان په آزاده دنيا کې بندي او زنداني ګاڼه او ويل به يې:(( دا جهان ډير تنګ دی(( .



www.pukhto.net

استاد اسد لوړې زده کړې دماسترۍ تر درجې دماسکو په ډېر مشهور پوهنتون( ام ـ ګا ـ او )کې پای ته رسولې وې.تحصیلي بورس ده ته دوخت مقاماتود ده داستعداد او لیاقت په خاطر نه و ورکړی،بلکې د اسد ځینو زړه سواندو دوستانو چې دهغه وخت په دولت کې یې واک درلود او خبره یې منل کیده،دا پریکړه کړې وه چې اسد باید له افغانستانه ووزي او تر ټولو ښه لاره یې تحصیلي بورس دی.دده همدې دوستانو استخباراتي مقاماتو ته ویلي ووچې اسد ښه سړی دی،خو دده خوله چا تړلی شوه.داسې وخت هم راغی چې دده د زغردو اولوڅوخبرو په وجه،بیا د ده نوم په تورلست کې ولیکل شو.دا داسد دخولې خبره ده چې ما ته یې کړې ده:

یوه ورځ ځینې دوستان کور ته راغلل،راته وې ویل: هلکه! ته نه منع کیږې،دا دې پاسپورت ،ویزه او ټکټ،چټک ماسکو ته ځه.دده دوستان پوه شوي ووچې دلوڅې ژبې او حقیقت ویلو په وجه به یا اسد تلف شي او یا به بیا زندان ته روان وي.دی بهر ته ولاړ او په لوړه سویه یې دیپلوم راوړ.هغه پوهنتون چې ده زده کړې په کې کړې وې،د لوړو تحصیلاتو وړاندیز هم ورته کړی و،خو دکابل مقاماتو دهغوی په ځواب کې لیکلي وچې په کابل کې اسد ته اړتیا ده،باید کابل ته راشي.کابل ته راغی او په علمي کدر کې ومنل شو،خو څه موده وروسته عسکرۍ ته سوق کړای شو،بیا هم دده هم هغو دوستانو چې مخکې یې یادونه وشوه،وساته او په علمي کدر کې یې خپل کار ته دوام ورکړ.

استاد اسد ماته مخامخ تدریس نه دی کړی،خو ما یې له مطالعې او علمي ذخیرې نه ډېره استفاده کړې ده.کله چې ما له یوې ډلې استادانو سره د کابل پوهنتون دادبیاتو په پوهنځي کې د ماسترۍ پروګرام پر مخ بیوه،یو روس پوهاند موږ ته دفلسفې تدریس کاوه،استاد اسد یې د لکچرونو ژباړه کوله،روس پوهاند به چې هر څه ویل،استاد اسد به دهغه په خبرو دوه درې چنده اضافه کوله او موضوع به یې نوره هم په افغاني سبک روښانه کوله.یوه ورځ داسې هم وشول چې روس پوهاند دشکایت په ډول استاد اسد ته وویل:هغه څه چې زه په دوو دقیقو کې وایم،دهغه ژباړه ته په اتو یا لسو دقیقو کې کوې... استاد اسد یوازې موسکی شو او نور یې څه ونه ویل.

د استاد اسد ادبیات خوښیدل،د نړۍ د ادبیاتو شهکارونه یې لوستي واو هغه یې هم په فلسفي عینکو لوستي وو.له عاشقانه اشعارو او موسیقي سره یې مینه درلوده،خو له عاشقانه هغو نه یې زیات خمریه اوفلسفي اشعار خوښیدل.دخوشال بابا رندي او خمریه اشعار یې خوښیدل،دخیام اشعار یې ډېر خوښول،دحافظ شیرازي ځینې شاه بیتونه یې د خبرو په ترڅ کې تکرارول او کله کله به یې دنږدې یارانو په تودو بحثونو کې دمولانا دا بیت پر له پسې تکراراوه:

هرکه او بیدار تر،پردرد تر



www.pukhto.net

## هرکه اوآګاه تر،رخ زرد تر

افغانستان خو هیڅکله له اړو دوړ نه خلاص نه وي،خو کله چې ټوپکي ناتاربرقرار شو،د افغاني ټولنې اړودوړ نور هم پسې زيات شو،ګڼ شمير خلک له دې اړو دوړ څخه په تیښته شول،خو استاد اسد لا(( لکه ونه مستقیم په خپل مکان...)) و. په دې وخت کې استاد اسد (( دادیانو تاریخ)) په نامه کوم مضمون تدریساوه.کله یې چې د عیسویت دتاریخ په باب په کوم ټولګي کې لکچر ورکړی و،بیا نوداسلامي جهادي رژیم مقاماتو پسې اخیستی وچې ولې دعیسویت تبلیغ کوي او ښه یې په عذاب کړی و.کله چې یې ماته په اروپا کې دا کیسه تیروله،دخندا په ترڅ کې مې ورته وویل:بچو مزې دې کړي دي،او بیا مې د شعر توره ورته راواخسته او د ډاډینې له پاره مې دکاروان صاحب دا بیت ورته واوراوه:

(( وخت به راځي چې غاښ دزهروبه ښامارنه لري

مجنون به ګرځي مستا نه ملا به دارنه لري((

خو داستاد اسد په ژوندیني داوخت رانغی او له بده مرغه چې ملا هماغسې مستانه ګرځي او فلسفي مجنون دخپلو فلسفي افکاراو دزماني د ناکردو په تارونو زندۍ شو.

او بیا آسمان وریځ شو،وغړمبید،داسې وغړمبید چې غرونه او رغونه یې ښوررول.نه یې واوره واوروله نه ږلۍ،نه کوم تند باران وورید او نه نرم باران.دا وار ته د تالندې او بریښنا په لړکې د وریځو له منځ نه سپین اوښ راښکاره شو،خلکو ویل خدایه خیر کړې،(( بیا به وارکا په کوم غولي وارد چا دی))، اسد غږ وکړ : دا زما دی، دازما وار دی. او په پای کې دا وار پر ده راغی،پر آسمایي راغی، پر لیوني راغی.

سپین اوښ راغی،دده داستوګنځي مخې ته ودرید،په ګونډو شو.اسد په آسانۍ،په نرمۍ،په خوشالۍ،په خپله خوښه ورباندې سپور شو.اوښ بیرته ودرید،په سوچ کې شو،څه یې ونه ویل،سر یې وښوراوه،وخوځید او دتوروسپینو وریځو په منځ کې زموږ له سترګو نهام شو...

او زموږ دمرکو لیونی،زموږ د فلسفو لیونی،زموږ دغرونوآسمایي لیونی،زموږ دیاراني لیونی او زموږ اسد یې دتل له پاره له موږ څخه جلا کړ،اوپه دې ډول یو ستر انسان دمځکي له مخ کم شو.

او دا دی دتګ وخت دی

موږ هر یو په خپله مخه ځو



www.pukhto.net

زه دمرګ په لوري،

تاسو د ژوند پر خوا!

کومه لار ښه ده؟

یوازې خدای پوهیږي...

سقراط

روح دې یې ښاد وي

داوس له پاره همدومره

آصف بهاند

۱۳ – ۰۷ – ۲۰۰۹

او آسمایی هم آسماني شو ...

نوح اندربادیه کشتی بساخت - صد مثل گو ازپی تسخربتاخت

دربیابانی که چاه آب نیست - می کند کشتی چه نادان ابلهست

آن یکی میگفت ای کشتی بتاز - وان یکی می گفت پرش هم بساز

او همی گفت این بفرمان خداست - این بچرسکها نخواهد گشت کاست

مثنوی معنوی ص ۵۲۱

یوله هغو ځوانو نومیالیو پوهانوڅخه چې مور ونه پیژاند او دماتی لیندی له شسته مو پرموخه او هدف ونه لګید ، هغه هم دکابل پوهنتون دفلسفی



www.pukhto.net

ځانګې نیمه خوا استاد اروانباد اسدآسمایی و چې د ۲۰۰۹کال د جولای په (۸) یې له دغې نړۍ څخه سترګې پټې کړې . زما اواسدپیژندګلوي په کابل پوهنتون کې د محصلۍ له شپوورځوڅخه وه ، موږ په یوه کال پوهنتون ته راغلو او په یوه کال له هغه فارغ شو، دهیواد دروښانفکري غورځنګ دکاروان ملګري وو او له یوه او بل سره مو په ډېرو برخو کې ورته موخې او مرامونه درلودل ، یوازې یوځه چې په پیل کې زما اوده ترمنځ دتوپیرلامل کیدل ، هغه د زده کړې پرمهال دده ژور فلسفی درک و چې له موږ ادب زده کړو سره به په ټکر کې واقع کیده ، او ویل به یې چې : (( زه په خیالی شیانو ډیرباورمن نه یم )) ، خو څومره یې چې فلسفی پوهه پخیده اوله هغې سره یې د روانپوهنې مزه هم وڅکله نو بیا یې خپله پورتنې خبره هم سمه کړه او دخیال په نړۍ کې دخپلې فلسفي ورکې په لټه کې شو. ځان په عملي او نظري توګه دربنتیاینې درشل ته واچاوه او په دغه برخه کې یې دخپلو نومیالیو استادانو پوهاند بهاوالدین مجروح او ډاکتر غلام غوث شجاعی لاره په پوره ځیرکتیا سره ان دمرګ ترپولې وځارله ، شجاعی سقراطی لاروی شو ، زندان ته لاړ او له هغه وروسته دشهادت جام پرسرواړاوه ، مجروح مهاجرشو او پرمهاجرت کې یې سقراطی پیغام پورته کړ او شهید شو او اسد هم په مجروح پسې لاړاوهلته لکه چې د ایران نامتو لیکوال صادق هدایت هرڅه د وړوکو تماشه وبلل اوله ځان سره یې هغه زموږ دشاعرخبره پریکړه وکړه چې : نه ارزي په دې چې ځوانی خاورې کړې ... په ابدي آرامي باندې په هغه شان چې ده ته پیښه شوه آرام شو.

آسمایی دوخت شوروي ته لاړ او هلته یې خپله ماستري په خپله اړونده څانګه کې واخیسته اوله ځانګړي درک او تجربې سره هیواد ته راستون شو اوپه خپل مسلک کې دکابل پوهنتون له ښوځوانو استادانو څخه یو شو. دنوې فلسفی په رڼاکې یې په خپلو څیړنو او لیکنو باندې لاس پورې کړ، په پښتو اودري ژبویې لیکنې پیل کړې او ددغو ژبو دمعاصرو اوکلاسیکو آثارو په پیژندګلوۍ باندې له فلسفی پلوه بوخت شواو هغه یې په رښتیاهم دنوي فلسفی میتود په رڼاکې وڅیړل اویوه برخه داسې خبرې یې ددغو کلاسیکو ویاړونو په اړه ترخوله راووتې چې ګرد سره جالبی ، نوې او دپاملرنې وړوې. دده دایوه خبره ډیره جالبه وه چې ویل به یې : (( موږ



www.pukhto.net

ترخارجيانو دخپل ژوند ، ادب ، فرهنګ او اخلاقياتو په اړه ښه پوهيږو خوله بده مرغه چې ترڅو موږ ته زموږدافکاروپه اړه خارجيان څه وانه وايي پرخپل ځان مو باورنه راځی ... ))

آسمايی په دغه برخه کې په دې باور و چې پر ځان ډاډدکرکترترټولو لوړه وړتيا ده چې بايد په خپله يې په کرکتر کې ولټووو. ده به ويل چې دمولانا او خوشال دپيژندنې لپاره بايد که مولانا اوخوشال خان کيدای نه شو نو بايد چې رښتينې پيرو اوځيرک مينه وال خو يې شو...

هغه دهمدغه آر په رڼاکې دخپلووينو او ځيرنوتګلاره پيل کړه اوپه پوره صداقت سره يې هغه وڅارله. په ډيرلږ وخت کې هغه په افغانی فرهنګی او علمي ټولنو کې دنظراوصلاحيت دخاوندانو په ډله کې راغی اوپه هغه دريځ کې يې ځان ودراوه چې دهردوست او ملګري او شاګرد لپاره يې دتسل اودمه ځای ښه غوره کړه . آسمايی بيلګه ييز استاد اوفيلسوف و، زه پوره باورلرم چې يوزيات شميرياړانودآسمايی له علمی سخاڅخه دهغه دبې پروايی او يوشميرنورو ناچاريو له امله دخپلې ځان ښودنې په ترڅ کې ښايسته ګټه پورته کړې ده چې مثالونه يې لږ نه دي .خوله بده مرغه چې دی له موږ ه نا سپړلی او نا ليدلی په رڼا ورځ له لاسه ووت او دادی نن يې پرويرباندې له ولسمشره تر کشره پورې د تش په نامه پيغامونو په ترځ کې تمساحی اوښکې لکه چې په نورو وياړونو او پوهانو مو توی کړې وې په ده هم توی کړې ، په داسې حال کې چې نن سبا په هيواد کې د سلو ناروااوو لپاره د رواکيدو لارې چا رې جوړيږی خود سترګورو کسانو اوپوهانو دنومونو په اوريد و سره غوږونه کاڼه اچول کيږي .... همداده چې دوی يې بايد قاتلان هم وبلل شي او اسد اسمايی هم يوله هغو ځخه و چې که چا زړه پرې سوځولی وای او لاره يې ورته برابره کړې وه هغه ډيرځه ، ددغه سوځيدلی او معامله شوي هيواد دځوان نسل لپاره ترسره کولای شول چې له بده مرغه نه شول ... په هرډول ،

آسمايی دځانګړي منطق او پياوړي استدلال خاوند استاد و ، ده له معاصرو نړيوالو فلسفی ښوونځيواودهغو له اصولو څخه ځانګړی درک درلود ، هغو ته يې په انتقادي نظرکتل اوهغه يې په ځانګړي انتقادي ليد سره دخپل



www.pukhto.net

ټولنيز او انفرادي تفکر په شرقي تله کې تلل او عملي کول ، دده له لويو ځانګړنو څخه يوه داهم وه چې تل به يې داوسنيو لويديزو سرسري پرمختګونو سته په شرقي فلسفه او شعوري وړتياکې لټوله. دی د کانټ ، ولټير، روسو ، فرويد ، کافکا ، هګل ،تولستوی ، اندري ژيد ، زولا ، مارکس ، ماو لينين او نورو په نظرياتو باندې د زړه له کومي پوهيده ، خو په مقابل کې يې دده لپاره ترپادشوو نوميالیو دمخه نورپياوړي نوميالی لکه کنفسيوس ، زردښت ،بودا ، فارابی ، ابن سينا،مولانا ، رازی ، روشان ، خوشال اوپه سلګونو نورهم له نظره نه لويدل ، په دې چې دده په نظر وروستنی وړاندې او وړاندې وروستني دي ...

آسمايی نږدې يو يونيم کال دمخه خپله يوه منظومه ماته راوليږله ،دغه منظومه په يوه ځانګړي فلسفي ليد ليکله شوې ده ، او په هغه کې يې دشکل له مخې هغه تګلاره په ډام کې نيولې لکه چې اروابناده مجروح هغه راپيل کړې وه ، خو دده له قوله چې دمنځپانګې له پلوه دايو نوی انځوردی چې دخپل وخت هنداره له ځان سره لري...

آسمايی دډيرو ويلو لايق دی او ډيرځه پرې ليکل کيدای شي ، چې که توفيق رفيق شو، زما په ګډون هغه ډيرياران درلودل ، چې باور دی ډيرځه به پرې وليکي :

اوپه پای کې بايد داهم ووايم چې : آسمايی ترکومه ځايه چې ما پيژانده دخپل ژوند په اوږدو کې په دغه ټکی باورمن واو دايې د ژوند عملی تګلاره وه لکه چې مهاتما ګاندي به ويل :

- که ديوه ليوني سړي په ګولی باندې ووژل شم ، زه بايد په هغه شيبه کې وخاندم . په هغه حال کې به په ماکې هيڅ ډول قهرنه وي، خدای به زما په زړه اوشونډو باندې وی.خوته له ماسره يوه ژمنه وکړه چې : که داسې څه واقع شي چې يوه اوښکه دهم توی نه کړې .

اروا يې ښاده ، کورنې ته يې د زړه صبرله پاکه خدايه غواړم ...

د ۲۰۰۹ کال دجولای ۱۶



www.pukhto.net

پروفیسور عبدالخالق رشید - نوی ډیلی ، هند

## وروستی فیلسوف : عبدالغفور لېوال

د ۲۰۰۹ کال د جولای اتم ماښام:
سترې ستومانه، دهوټل ۴۱۳نومره کوټې ته ننوتم، له دوبی څخه د جاپان تر ساپورو ښار پورې د الوتکې اوږده مزله ځپلی وم، تر لږ ځای پر ځای کېدو وروسته مې کمپیوټر چالان کړ، ایمیلونه او بیا خبري پاڼې ...
د کومې پښتو ویبپاڼې پر وچولي لیکل شوي وو : « افغان فیلسوف اسد اسمایي وفات شو . . . » نه پوهېږم چې ټول خبر مې څنګه ولوست، خو د ځو شیبو لپاره مې د کمپیوټر پردې ته ځیر ځیر کتل.

استاد اسد زما لپاره یو «فکر» دی، له نړۍ ، هستۍ، انسانیت، پوهې او فلسفې څخه یو ګډوله (ممزوج) فکر، دا به زما لپاره لا د تحمل وړ وای، چې ښه دوست، استاد او مهربانه انسان مو له لاسه ورکاوه، خو دا راته د تحمل وړ نه و او نه دی، چې هغه فکر مې مړ شوی لیده، چې ما ډېر څه ترې اخیستي وو.
د کمپیوټر پرده د کوم مسیج راتلو وخوځوله او زما هم ځانته پام شو. خبر همداسې و، استاد اسد آسمایي په فرانسه کې ژوند پرېښی و، ځو ویبپاڼو یې خبر خپور کړی و، ځینو دوستانو او فرهنګیانو پرې غمرازي هم ښوولې وه، خو د استاد اسد لپاره دا هر څه، نه پوهېږم د هغه لپاره دا وړ ځېږونه څنګه ښکارېدل؟ ځکه هغه د ژوند و مرګ په اړه کاملاً متفاوت نظریات درلودل، د هغه لپاره » مرګ» ډېره ویروونکې او لویه پېښه نه وه، د هغه لپاره ژوند د تراژیدۍ د استمرار مانا درلوده.
د استاد اسد له مړینې سره د هغه یوه خبره را په یاد شوه او یو ځل بیا راته ثابته هم شوه. دا د استاد اسد خبره وه چې «مرګ» د مړه شوي کس لپاره



www.pukhto.net

غمیزه) تراژیدي) نه ده، بلکې مرګ د هغه چا لپاره مستمره تراژیدي ده، چې په «مړه شوي» کس پسې ځوریږي. هو د استاد اسد مرګ دده لپاره نه، بلکې د فوزیه آسمایي ( د هغه میرمن (او میلاد آسمایي ( د هغه یوازینی زوی) لپاره، د کابل پوهنتون لپاره، د افغانستان لپاره او د افغاني فرهنګ لپاره تراژیدي ده، ځکه موږ اوس پوهیږو، چې د هغه له مړینې سره د افغانستان د فلسفې او ارواپوهنې وروستۍ مطرح څېره هم ولاړه او اوس نو تر اروابناد استاد مجروح او استاد اسد وروسته څوک د پوهې دغه ځانګړي، خو ښکلي لیونتوب ته نه شي رسیدلای.

استاد اسد څوک و؟

استاد اسد نیمه پیړۍ او څو کاله پخوا د پکتیا ولایت په زرمت کې زیږیدلی و، په پکتیا او کابل کې یې ښوونځی او بیا پوهنځی لوستی و، د لوړو زده کړو لیکه یې د ماسکو تر دولتي پوهنتون (امګاوو) پورې غځیدلې وه.څه موده د سیاسي تاوتریخوالو او کړاوونو له امله ځورول شوی هم و، خو ډېره موده یې په کابل پوهنتون کې د فلسفې په تدریس او د افغانستان دلیکوالو په انجمن کې د ادبیاتو، اروپوهنې او فلسفې ترمنځ په پولو کې د لیکلو په سرګردانۍ کې تېره کړه، تر هغو له هېواد او کابل پوهنتونه ونه وت څو یې چې د ژوند پر سره تبۍ ګوزاره کېده، خو یو مهال نوره نو ګوزاره ناشونې شوه، کوچنی میلاد یې له لاسه ونیوه او د فرانسې د سترروماننتیست ویکتور هوګو په مینه یې د غربت تغر وغوړوه.

زه نه غواړم دلته د استاد اسد ژوند لیک وکاږم، غواړم ووایم چې هغه همدومره ساده او لنډ ژوند درلوده، خو ددې ساده او لنډ ژوند ترشا د فکرونو ډېر غرونه، توپانونه، یو آرام سمندر، تیاره سمڅې او ناپایه ګړنګونه پراته وو،ددغو فکري زیرمو خاوند یو بل استاد اسد و، چې چا هومره نه پېژانده. استاد اسد ښه ملګري، شاګردان، کورنۍ او همکاران درلودل خو د هغه د ساده او لنډ ژوند تر شا دومره دنیاګانو ته هر څوک نه شو ورتلای.

استاد اسد له کلونو راهیسې ناروغ و. بې خوبي، تر ټولو لویه او ویروونکې هېولاوه، چې استاد یې په کرار نه پرېښوده، استاد اسد له هرې بیخوبۍ او هرې اندیښنې څخه کتاب ته پناه وړه، هغه پر مطالعه معتادو او فکر کول یې همیشنی عادت و.

استاد اسد په نوې لویدیزه فلسفه، په ختیځ کې فلسفي افکارو او د زاړه یونان په فلسفي دورو باندې ښه پوهېده، ده د ادبیاتو د تیورۍ په هکله ډېره مطالعه



www.pukhto.net

درلوده، د علومو په اړیکو یې فکر کاوه او وروستی علمي تیزس یې « د فلسفي قلمرو» نومیده چې له تاریخ، افساني، ادیانو علوم‌واو هنر سره یې د فلسفي ګډې پولې څېړلي. ددغه کتاب لویه برخه استاد ویله او ما لیکله.
استاد په معاصرو فلسفي مکتبونو کې اګزستنسیالیزم ډېر خوښاوه او ددغه مکتب له دوو استازیو هایدګر او ژان پل سارتر سره یې ځانګړې مینه وه.
استاد د فروید او یونګ په ارواپوهنیزو نظریاتو خبر و او د شرقي عرفان ډېر ظرافتونه ورته معلوم وو، ده د مولوي، سنایي، خوشال او رحمن بابا د افکارو بیخي ځانګړې مطالعه درلوده او له ډېرو داسې مسایلو خبرو، چې زموږ ځېړونکي یې تصور هم نه شي کولای، داستایفکسي یې ایدیال کیسه لیکوال و، ده د (جنایات او مکانات) رومان په هکله داسې نوي نظریات درلودل چې د روسي ادبیاتو نړیوال کره کتونکي به هم نه وي پرې خبر او ده کولای شو، د داستایفکسي د آثارو اروا‌پوهنیزه مطالعه له نویو نظریاتو سره مطرح کړي.
ډېر ځله مې په ټینګار ترې وغوښتل، چې دا هر څه ولیکي خو د هغه له ناهیلۍ ډک ځواب مې بیا مونده ،چې :« د چا لپاره یې ولیکم؟«
ډېر ځله به مې تر هغه مجبور کړ، چې راسره وبه یې منله او بیا به ده ویل او ما به لیکل. استاد د لیدو ستونزه درلوده، له ډېرې رڼا او لوړو غږونو سره یې حساسیت درلوده، خو د بحث، مطالعې او علمي کار عجیبه حوصله یې درلوده .په لیکنو کې یې د نوي فکر عرضه خوښېده.
له استاد اسد سره د متروکو په کلونو کې له خیرخانې څخه د پولیتخنیک او ده کیپک په ګردنه باغ بالا ته رااوښتو او بیا به پلي پوهنتون ته تلو. له استاد سره به مو د هغه په کور کې پټه موسیقي اوریده او کله به مو چې څو سندرې له کومې بدې پېښې پرته واوریدې نو فکر به مو کاوه کوم لوی جشن مو جوړ کړی دی. استاد ډېر چای څښنه او دده ډېر چای څښلو په هکله د پوهنتون استادانو عجیبې غریبې ټوکې جوړې کړې وې، استاد اسد یوازې د شپې، کله چې بېدیده نو سګریټ یې څښول، استاد د ډوډۍ سوزیدلې برخه او وازګینه غوښه ډېره خوښوله او استاد همیش اوړی او ژمی حتی په واوره کې سرې اوبه پر سر اړولې او دا کیسه به یې په خوند خوند کوله چې څنګه به یې په زلمیتوب کې ګنګل ماتاوه او ورلاندې به یې په اوبو کې لمبل. . .
بس دا د استاد اسد ظاهر و او همدومره ساده او لنډ ژوند یې درلوده خو ددې



www.pukhto.net

ساده او لنډ ژوند تر شاه غرونه او سمندرونه اندیښني او غمونه پراته وو. د استاد اسد د معرفت او تفکر هغې برخې ته سر وربښکاره کول او نفوذ، ویروونکي او ناشوني وو، هغه ددې دنیا، د هستۍ د انساني اروا، د انسان د وحشیتوب په حدودو، د جنایت او وینې بهولو په رموزو او د افغانانو په ډېرو ځانګړنو پوهېده او دا حکیمانه عادت یې درلوده ،چې غوښتل یې په هر څه پوه شي، مګر ددې هر څه په اړه یې ډېر څه نه ویل، په دغې لویې اروا کې ډېر رازونه پټ شوي وو.

استاد اسد او لویدیځ:

استاد اسد د لویدیځ په اړه خپل نظر هغه وخت بدل کړ، چې پر افغانستان یې وروستۍ ناخوالې ولیدې او د لویدیځ پر سیاسي نیرنګونو له نږدې خبر شو. یو مهال چې موږ «د تېرای ښځې» منظمومه په نظم را وژباړله، نو زما سریزه ډېره لویدیځ ځپونکې وه، استاد راته وویل سریزه دې تر ادبي ډېره سیاسي ده، ما وویل ښه ده لرې به یې کړم.

کلونه وروسته زه په پېښور کې وم، استاد له فرانسې څخه تیلفون راته وکړ او ویې ویل ستا هغه سریزه سمه وه، کله دې چې کتاب چاپاوه هماغه ورواچوه، خو له مانه سریزه ورکه شوې وه، همدا تېرکال، ایله کتاب خپور شو، ما نوې سریزه ورته ولیکله، له نېکه مرغه استاد دغه کتاب په ژوند ولیده، خو له بده مرغه زه یې له نظره خبر نه شوم او استاد ولاړ.

د استاد په اړه اندیښني:

کال دوه مخکې استاد زنګ وواهه د خپلو زړه تنګیو او ستړیاوو یې راته وویل، ما ورته وویل : استاده! راشه بېرته کابل ته، دلته به دې پام بدل شي. راته ویې ویل : برګو دسمالونو او پړانګي دریشي والا له خپلو ټوپکو سره راغلي او زما یوازینی ملکیت » زما کور» یې رانه نیولی، چاته ووایه، چې هغه ترې واخلي نو زه به بېرته درشم، زما زړه دلته په فرانسه او اروپا کې ډېر تنګ دی، تر استاد وروسته فوزیې را سره خبرې وکړې، اوږدې شیبې یې د استاد د روغتیا په اړه راته شکایت وکړ، دا یې پرله پسې ویل چې پر ځان فشار راوړي او زما خبره نه منی، د فوزیې ستونی را ډک شو او غوږۍ بېرته استاد واخیسته. . .

لږ په تونډ لحن مې استاد ملامت کړ، چې ولې له ځان سره احتیاط نه کوي، په تلواله بې پراویۍ یې راته وویل : « دا ژوند په دې نه ارزي چې زړه ورته وخورو«. . .



www.pukhto.net

يو ځل مې دلته له اروپا څخه راغليو استادانو سره دغه انديښنه شريکه کړه، استاد باوري هم د استاد اسد له همدې بې پروايي سر وټکاوه او دايي راته وويل چې څو ځله يې هغه دې ته هڅولی چې د خپلې روغتيا خيال وساتي. ما پريکړه وکړه چې استاد مصروفيت او ليکلو ته مجبور کړم.
وروستی ځل خبرې:
د روان ميلادی کال په لومړيو مياشتو کې په لندن کې وم، د ښاغلي داود جنبش په کور کې ميلمه وم، چې استاد د جنبش په تيلفون زنگ را وواهه؛ خوشاله او سرحال ښکارېده، راته ويې ويل: ستا خبره مې ومنله، ليکل مې پيل کړل. پر« دوزخيان» ( د هغه پښتو منظوم اثر (کار کوم، ستا « لام او ايلنيو» مې وکتله، خوښه مې شوه اوغواړم څه پرې وکاږم. عجيبه ده، استاد اسد دا ځل ډېر بل ډول و، لکه کابل کې چې وي، ټوکې يې هم کولې او څو نوې فکاهياني يې هم راته وويلې، ښه په کړس کړس مو وخندل، استاد مې د هوټل نومره واخيسته، سبا ماښام يې بيا تيلفون وکړ، دا ځل يې د خپلې هغې پروژې په اړه خبرې وکړې، چې د لويديځ فلسفي سيستم او ختيځو عرفاني – فلسفي افکارو پر اړيکو را څرخېده، استاد په تيلفون کې خپلې نوې فلسفي موندنې په تفصيل راته وويلې، ما ورته وويل: استاده ډېر وغړېدو چې مصرف درباندې رانه شي، راته يې وخندل : ته خو هماغسې سخت او سوګت يې، دلته له فرانسې څخه لندن ته دومره مصرف نه راځي، پرېږده، بيا خدای خبر چې سره وغږېږو. . .
د استاد اسد دا خبره مې جدي وانه خيسته، او زه څه خبروم چې د هغه دا خبره به ريښتيا شي او ما بيا ريښتيا هم له استاد اسد سره خبرې ونه کړای شوې.
زه نه غواړم د استاد اسد خاطرې يادې کړم، خاطرې يې زښته ډېرې دي ځکه ما پوره لس کاله د هغه مخامخ شاګردي کړې او د منطق الفبا مې ترې زده کړې ده ، او تردې لا نيکمرغي، چې ډېر ځله د استاد د ساده او لنډ ژوند تر شا د فکرونو او انديښنو هغې توفاني دنيا ته هم ورغلی يم چې نور ترې ناخبره دي. استاد اسد ډېر ځله د فلسفي ، ادبياتو، ارواپوهنې، اجتماعي پوهنو، سياست، تاريخ، اساطيرو، افسانو، ميتولوژی او ګڼو ساينسي عمليو په اړه له ما سره خبرې کولې. د استاد زړه تنګېده او بايد ځينې مسايل يې مطرح کړي وای او ددغو علمي بحثونو اوريدل يې ،کله يوازې پرما لورول : تېس، انتي تېس او بيا سنتېس . . . دا د استاد د علمي فرضيو قاعده وه .


www.pukhto.net

. .
د استاد اسد تبحر او علمي ژورتیا، له مسایلو څخه باخبري او پر نویو پوهنو د هغه برلاسی هغه وخت څرګندیده، چې دده په زړه برابر اوریدونکی یې موندلی وای. . .
یوازې هماغه اوریدونکی پوهیږي چې:
. . .د استاد اسد آسمایي لنډ او ساده ژوند پای ته ورسید دا د افغانستان پوهنتوني او فرهنګي ټولنې ته لویه غمیزه ده. . .
خو!
د لنډ او ساده ژوند تر شا د فکرونو پراخه دنیا ړنګه شوه، او له یوه خوار او رنځور جسم سره خاورو ته ولاړه!
دا نو د غمیزې ( تراژیدئ) نه جبرانیدونکی استمرار دی! تر ډېره او ښایي تر اوږدو زمانو پورې!

علم ګل سحر

**افغان ولټر**



www.pukhto.net

ښايي دپکتيا ولايت دزرمت ولسوالي دکتحخيلو دکلي اوسيدونکي اوس هم په دې نه پوهيږي چې څه باندې پنځوس کاله وړاندې يې څومره لويه هستي نړۍ ته وړاندې کړې وه او اوس هم لا په دې نه وي خبر چې څومره لوی انسان يې له لاسه ورکړی دی.زموږ يوه لويه ستونزه هم همدا ده او زموږ يوه لويه بدمرغي هم همدا ده،چې خپل شخصيتونه نه پيژنو . موږ تل دا وايو چې موږدژوندو قدر نه کوو ،خپل شخصيتونه په ژوندوني نه پيژنو چې مړه شي افسوس پسې کوو او بيا يې قدر کوو خو زه وايم کاشکې موږ خپل شخصيتونه له مړينې وروسته پيژندلي وای ، زموږ څومره ستر شخصيتونه په پرديو وطنونو کې خاورې شول او لابه وي داسې ستر شخصيتونه چې موږ يې اوس هم لا نه پيژنو.

استاد اسد آسمايي هم له دې ډلې شخصيتونو څخه و،چې په پردي وطن کې خاورې شو،دمرګ ترورځې مو ونه پيژاند او ډير يې لا تردې وروسته هم نه شي پيژندلای ،په ژوند يې لکه څنګه چې لازمه وه چاقدر ونه کړ او مرګ خويې زموږ لپاره يونه هيريدونکی ناورين دی،خلقي حکومت دوه ځله بندې کړاو جهادي حکومت دوه ځله بې کوره کړ،يوه حکومت دولتر غوندې باستيل ته واچاوواو بل حکومت له وطنه تبعيد ته اړ کړ.

ولتر دخپل وخت واکمنان مسخره کول او په ښکاره يې پخپلو ليکنو کې غندل خو افغاني ولتر اسد اسمايي د خپل وطن دواکمنانو له کړووړو ځوريده خو هيڅ يې نه شوای ورته ويلای ، دفرانسې واکمنانو او شواليه ګانو ولتر ته دجزا په وخت کې هم دې ته پام و،چې دولتر پر سر ګوزار ونه شي او له مفکرو مغزو يې ګټه واخيستل شي .

وايي چې دپاچا نږدې ملګري شواليه روهان چې د ولتر له کنايو په تنګ شو او دده له لاسه له مجلسه ووت بيا يې چې ولتر پخپلو کسانو واهه،نو خپلوکسانوته ويل : ښه يې ووهئ خو پامو وي چې په سر يې وار ونه کړئ ،ځکه اوس هم کيدای شي چې له هغه څخه کوم ښه شی ترلاسه شي.

خو کابودری پيړۍ وروسته هم زموږواکمنانو دخپل وطن په ګټه داستاد له فکر څخه دګټې اخيستنې فکر ونه کړ اوس دا اندازه لګولای شئ چې موږ څومره بدمرغه يو.

ولتر ته پاچا پخپله مانۍ کې ځای ورکړ هغه يې ونازاوو .فريډريک، دولتر روښانه افکار دځان لپاره وهلې کلا بلله خو زموږپاچا دژوند تر پايه پورې استاد اسد ته دکابل په تهيه مسکن کې دهغه خپل کور چې ټوپکمارو ترې په



www.pukhto.net

زور نیولی ورنه کړ،چي راشي پخپل کور کې ژوند وکړي او له روښانه افکاروڅخه یې تیول وطن ګټه واخلي پوهیږئ چي موږ څومره بدمرغه یو.
استاد اسد آسمایي لږ چاپ شوي اثار لري (دوزخیان) او (دتړای ښځې) ژباړه یې خپاره شوي او نورې په سلګونو مقالې یې خپرې شوې او همدومره یې لیکلې خو خپرې کړې یې نه دي.
استاد دخپلو اثارو له خپریدا سره چندان علاقه نلرله ،لیکل به یې هم ډیر نه کول ،دتنظیمونو اوطالبانو دواکمني په وخت کې به زه ،استاد اسمایي،عبدالغفورلیوال او وفاسمندرپه اوونی کې دوه دری ځله دیوبل په کورونو کیناستو ادبي بحثونه به مو کول استاد به په هره ناسته کې یو کتاب له پوهې او حکمته ډکې خبرې وکړې موږ به ورته ویل استاده داولې نه لیکې؟ هغه به وخندل چاته یې ولیکم؟چې ډیر تینګار به مو وکړ ویل به یې دا خبرې تاسې ولیکئ.
ترلیدو دمخه مې داستاد اسد په اړه ډیر څه اوریدلي ول .اسد آسمایي چې پهخ سیمه کې په فیلیسوف مشهور و،څه وخت دیوه چپي ګوند غړی او له مهمو کسانو څخه یې و، خو په ډیر لږ وخت کې هغه ډګر ورته تنګ او کوچنی ښکاره شوی او پرهغوی دنیوکو له امله بندي شوی دمسکو له نړیوال پوهنتون څخه عمومي اول نمره فارغ شوی دده استادانو او په هغه پوهنتون کې دنورو هیوادونو محصلینو وړاندیز ورته کړی و،چې افغانستان ته دې نه ځي ځکه هلته دده نظریات څوک نه شي زغملای کیدای شي له خطرونو سره مخ شي .
ویل کیدل چې مارکسیستي فلسفه یې ردکړه او په دې فلسفه کې یې زیات بدلونونه راوستل خو چا ورسره ونه منل ،دده دزیاتې مطالعې او زیاتې پوهې په اړه مې ډیرڅه اوریدلي ول.
لومړی ځل مې چې هغه ولید دپروان میني دبس په یوه تمځای کې بس ته انتظار ولاړ واو د (تیاترکودک)په نامه دیوه پنډ کتاب په مطالعه بوخت و ما تردې دمخه نه ولیدلی خو پوه شوم چې دا یوازینی سړی چې خپله یوه دقیقه وخت هم نه ضایع کوي حتماً استاد اسد دی،دمطالعې مزاحم یې نه شوم له هغه کابو پنځه شپږ کاله وروسته مې بیا پخپل کور کې ولید اشتباه مې نه وه کړې هماغه سړی و، چې په بس تمځای کې دیوه پنډ کتاب په مطالعه بوخت و.



www.pukhto.net

استاد اسد آسمايي به ډيره مطالعه کوله په يوه وخت کې به يې موسيقي هم اوريدله او ليکنه به يې هم کوله له چا سره به يې خبرې هم کولې او ليکنه يا مطالعه به يې هم کوله.
استاد يو فوق العاده انسان و، دی يووخت ۱۷ ورځې او شپې پرله پسې ويده شوی نه و.
داسې ښکاريده چې ليکلو يې حوصله تنګوله ،ډير څه يې په ذهن کې تيار و،خوليکلو ته يې زړه نه ښه کاوو،په ۱۳۷۷ کال کې مې دخپلو شعرونو يوه ټولګه دسريزې ليکلو لپاره ورته سپارلې وه څو ورځې وروسته يې کورته ورغلم ترې ومې پوښتل چې سريزه يې ليکلې که نه؟
استاد وويل دا خو مې بيخې هيره وه ماته يې قلم او کاغذ را کړل راته ويې ويل دايې وخت دی چې ويې ليکو، استاد ژرژر راته ويل او ما پسې ليکل .بل ځل په پيښور کې دسپيدې مجلې دفتر ته ولاړو هلته هغوی ورته وويل چې دې ګڼې ته بايد يوه مقاله راکړې ، استاد ويل او ماليکل هغې مجلې ته يې په ډير لږ وخت کې دويرجنيا ولف په باره کې مقاله وليکله،ډيرځله به يې خپلې مقالې يا ما يا نورو ملګرو ورته ليکلې.
استاد پيسو ته ارزښت نه ورکاوو دده خپله وينا ده چې ويل به يې هيڅکله مې پيسې نه دې شميرلې ،چې جيب مې تش شي بيا نورې پيداکوم په شميرلو يې وخت نه ضايعه کوم .
استاد نړۍ ته په طنز کتل په حقيقت کې يې په ژوند پورې خندل ،ډيرو به هغه ملامتاوو چې خپلې روغتيا ته پام نه کوي خو استاد اسمايي ژوندته په هغه سترګه نه کتل کوم چې نور ورته ګوري ،هغه ژوند ته دومره ارزښت نه ورکاوو هغه به تل دا پوښتنه کوله آيا دا ژوند په کولو ارزي؟
که به چا له چا څخه ورته شکايت وکړ ده به يوازې وخندل ويل به يې : موجودات دي نو.
دډيرو کسانو کړنې او په دنيا پورې زړه تړل ورته عجيب ښکاريدل او هغه به يې مسخره کول .
هغه وخت په کابل کې ډيرې بدې ورځې وې،مختليفو تنظيمونو په ښکلي کابل اورونه بل کړي ول د استاد اسد آسمايي يوه ملګري ورته دتاجکستان په پوهنتون کې داستادي دنده پيدا کړې وه استاد حاضر نه و،چې تاجکستان ته ولاړشي ټولو ورته ويل په دې وخت کې له دغه طلايي چانسه ګټه واخله او ولاړ شه خو استاد اسمايي به ويل : يه يه زه ستان ته نه ځم ، له خپل



www.pukhto.net

وطنه پرته چې په نوم کې يې ستان وي زه هغه هيواد ته نه ځم ، له دې موجوداتو سره زما ګوزاره نه کيږي.
استاد اسد آسمايي به عجيبې معنادارې ټوکې کولې دده ټوکې او طنزونه يوازې دده و، اوس چې هغه ټوکې او طنزونه رايادوم افسوس کوم چې ولې مې هغه وخت ونه ليکل.يوه مهمه پانګه مو له لاسه تللې ده.
استاد به چاى ډير سوراوو،زما نه ياديږي چې په کوم مجلس کې دې په چاى جوش کې چاى پاتې وي او دى دې ترې پاڅيدلى وي.
استاد اسد آسمايي عادت نه درلود چې دچا صفت وکړي ،يوه ورځ زه او استاد دليکوالوپه ټولنه کې دشاعرانو يوه باندار ته ولاړو،هغوى زه نه پيژندم استاد ډير عادي ور وپيژندم هغوې ترې وپوښتل چې څنګه شاعر دى؟ استاد په ټوکه ورته وويل چې اقتصادي شاعر دى .چې دباندې راووتلو په ګيله مې ورته وويل استاده لږخوبه دې ښه ورته معرفي کولم ،استاد ويل: که دې نن نابغه معرفي کړم سبا به څه يې؟
استاد اسد آسمايي دفلسفي استاد و،په فلسفه کې دنظرخاوند و،خو ددې ترڅنګ دادبياتو په برخه کې هم ښه استاد و،هغه وخت زموږ ځوانو شاعرانو يوازينۍ مرجع استاد اسد و،ده دنړيوالو ادبياتو پراخه مطالعه درلوده ،موږ ته يې تل په زړه پورې مشورې راکولې او چې څه به مو ليکلي ول ،ده به داصلاح په برخه کې لارښوونې راته کولې.
داستاد دليکنې طرز هم ځانګړى و،استاد به نړدې دهرې ليکنې او مقالې په ټنده دنړۍ ديوه فليسوف اوليکوال خبره ليکله او بيا به يې مقاله پيلوله.
لنډې جملې به يې ليکلې چې مفهوم به يې ښه او ژر رسولاى شواى،دخپلو خبروداثبات لپاره به يې ديوه عالم خبره رانقلوله :
((داوسنۍ روانشناسي پربنسټ شعر او خوب ليدل يوبل ته ورته رواني حالات دي ځکه په دواړو کې هغه عاطفي تمايلات او زړه ته رانږدې احساسات چې دعقل دکنترول او سانسور په وجه دتحت الشعور ساحې ته استول کيږي .دشاعرۍ او خوب ليدلو په وخت کې دعقل ځنځيرونه ماتوي اوپه خيالي يا هنري دنيا کې ازادۍ ته رسيږي زموږ دپيړۍ دمفکر هايدګر په نزد منطق دتفکراو په نتيجه کې دتخييل دښمن دى،نوځکه ډير وخت دشعر سمبولونه ، استعارېاوتصويرونه دخوب ليدلوله سمبولونواواستعارو سره نږديوالى لرى او کله حتى يو ډول وي))



www.pukhto.net

استاد اسد آسمايي به په يوه مقاله کې خپلې خبرې په څو برخو ويشلې دخپلو خبرو برخې به يې معمولاً په رومي اعدادو سره بيلولې ، استاد آسمايي به هيڅکله خپلې مقالې په اوږدو سريزو نه پيلولې او آن زياتره وخت به يې خبرو هيڅ مقدمه نه لرله ،مخامخ به يې اصلي مطلب منځ ته را اچاوو لنډې خبرې به يې پرې کولې او موضوع به يې په څو پراګرافونو کې روښانه کړه ،پريوه کتاب خپله سريزه داسې پيلوي :

(( دويرجنياولف په اثارو کې موږ دشعر او نثر تلاقي وينو دمارسل پروست (دورک شوي وخت په لټه کې) او دجميز جويس (ولسيس) يوځل بيا وښودله چې دلرغوني يونان دهنر په لور بيرته راګرځيدنه دوام لري.شلمه پيړۍ کې يوځل بيا شعر دفلسفې ژبه شو او موزون کلام دتياتري حرکاتو په وسيله تداعي کيږي ته به وايې يوځل بيا هنر ځان تکراروي .لکه دګويته د(فاوست)په اثرکې چې (هلن)بيا په صحنه کې ځان ښرګندوي))

دشعر او نثر همدغه تلاقي موږ پخپله داستاد آسمايي په ليکنو کې ليدلى شو ، داستاد په ځينو ليکنو کې کليمات داسې ځاى پرځاى شوي چې ته به وايې ليکوال ديوه ښه شاعر غوندې دهرې کليمې په ځاى پرځاى کولو ډير فکر کړى دى استاد اسد آسمايي په لنډليکنه او ژر ليکنه مشهور و هر وخت چې مقاله ترې غوښتل شوې هغه شيبه يې ليکلې ده .

استاد اسد آسمايي يو هيومانيست ليکوال او دډيرو عالي صفاتو لرونکى انسان و،ده به ويل که څوک له تاسې سره دښمني او بد چلند کوي تاسې ارزښت مه ورکوئ او تاسې دوستي ورسره وکړئ که داستاد په وس پوره واى دولتر غوندې به يې دغريبانو لپاره کورونه جوړ کړي و،د ولتر غوندې به يې دکارګرو لپاره فابريکې جوړې کړې واى او دفابريکو کارګرانو ته به يې پخپله دمينې ژوند ور زده کاوو.

په پاى کې څو وړانديزونه لرم هيله ده پام ورته وشي:

- په کابل کې يوښوونځى او دپکتياولايت دزرمت ولسوالي دکتحخيلو ليسه دې د استاد اسد آسمايي په نوم ونومول شي.
- داستاد دخورورو مقالو دراټولولو لپاره دې يوې کميټې ته دنده وسپارل شي او اثار دې چاپ شي.
- دپکتيا کلتوري ټولنې ژمنه کړې چې داستاد ټول اثار به چاپوي هيله ده قلم نړيواله ټولنه ، دعلم وادب دخپراوي ټولنه او موظفه کميټه داستاد



www.pukhto.net

ټول اثار که په افغانستان کې دي که په فر انسه کې د چاپ لپاره چمتو کړي.
موږ دده شاګردان او ملګري باید داستاد ټولې ناخپرې شوې لیکنې راټولې اودده نالیکلې خبرې داستاد په نامه ولیکو او خپرې یې کړو.

**محمـــدامین بســـمل**
**له افغان فیلسوف نابغه اسد اسمایي سره زما خاطرې**



www.pukhto.net

ګرانو زړه ته رانږدې دعلم اوفن

مخکښنو قلمولو ملګرو!

زه د زړه په مينه اوپه ډېر درناوي سره له تاسو هر يوو ښاغليوعلم ګل سحـر، اصف بهانـــد، عبدالغفور ليوال، پروفيسور عبداخالق رشيد، د علم اوادب د خپراوي ټولني، دقلــم دنړيوالي ټولنې له ټولو غړو او نورو هغو رونې اندو اوسپېڅلو ملګروڅخه مننه کوم کوموچې د ګران او افغان فيلسوف اسد اسمايي په جنازه او فاتحو کې ګډون کړی دی، دواقعيت له مخې يې داستاد په اړوندليکنې کړې اويادغونډې يې جوړې کړې دي، د دوی لپاره کوم ځانګړی سوغات نه لرم زه هم دبشريت په دې ويجاړه دښته کې خپل ځان صرف يوملنګ ګنم خودا يوه شنه پاڼه به د زړه له کومې په پورتنيو يارانو ووېشم هيله ده چې ويې مني :

پـه قلـم مو برکت شــــه ×× شان مو لا پسې اوچت شه
يو غښتلی مو پاللـی ×× بس قبـول مو عبــادت شه

کوم غښتلی ؟
په بدن خوار
په زړه بېمار
په ونه ټيټ
په همت لوړ
تر کوهسار
هغه خاکسار
هغه ناترس
هغه بې باک
هغه اسير
هغه ياغي
هغه هغه
هغه هغه
هغه زمری
هغه استاد
هغه زموږ
دسترګو تور



www.pukhto.net

**هغه اسد اسمايي!**
**هغه دبشريت داســمان ځلانـده ستوری کوم به چې دشين اسمان په پرتله په تورو وريځوکې لا ځلانــده پرکېده**
**هو!**
**هغه افغان فيلسوف، هغه نابغه استاد اسد اسمايي دريادوم کوم چې پوره ۲۳ درويشت ورځې دمخه له دې نړۍ څخه د تل لپاره وکوچېد.**
**نوربه دهغه په ځانګړي او زړه راښکونکي غږ بيا تاسوهيڅکله وانه ورئ چې درته ووايي چې (کــــوربانه) اويا درته ووايي چې ( ته خو عسکر يې) اويا خو درته دا ووايي چې (غوړي راوړه) اوبلاخره ديوې وړې خو له مانا څخه ډکې خبرې په کولوسره دا تولـه دنياګۍ په يوه وړوکې هګۍ کې درته ځای پرځای کړي داځکه چې هغه خواوس پخپله د خاورې په داتنګ تخرګ ګکي کې ځای پر ځای اود تل لپاره وغځېد، داسې ويده شوچې نور دې ته اړتيا نه لري چې هر ماخستن دخوب قوي درمل واخلي .**

**بې درملو ويده شوی پاڅېدل يې ناممکين دي ×× دزمان غشو ويشتلی رغېدل يې ناممکين دي**
**که کېدای مابه دا خپل عمر پوره و ور نيم کړای ××دتقديرچارې دي ګرانه نيمېدل يې ناممکين دي**

**په هر صورت را به شم دهغې شپې دخوب ليدو ته له کومې څخه چې يوه شپه دمخه ګران اسمايي له موږ څخه کوچېدلی و او زه لا خبر نه وم .**

**درنو خويندو او ورونو!**
زه د جولای په ۸ اتمه نېټه له روغتون څخه را ووتم کور ته راغلم شپه شوه ويده شوم دشپې په اخېرو شېبو کې مې خوب وليد چې زه داستادکورته وروسته له ډېر وخت څخه ورغلی يم له استاد سره په يو ژور بحث بوخت يم
په دې وخت کې يو نارينه دحجرې (سالون) له لارې څخه پاس پوړ ته وغېږي په لاس کې يې يو تور بکس نيولی وي وروسته له يو څوشېبوڅخه راښکته شي اوپه بيړه روان شي زما پام ور واوړي په دې وخت کې داستاد اووه کلنه لور ما ته ووايي چې کاکازما مشرې اته کلنې خور ايټاليوي خواړه ( پيزا) راغوښتې وه بيا پيسې ورسره نه وې هغه


www.pukhto.net

پېزا يې بېر ته وېوړه خو ماپه چل کې يوه وړوکې ګوله ورڅخه را وشکوله .
په دې وخت کې زه خپل ځان ته په غصه شم چې له ماسره خو پيسې وې دا زه ولې پوه نه شوم نو په پيزا پسې ور خوشې شوم داسې تېز پسې تلم لکه غشی خو کله کله به مې دواړه پښې شلې شوې لنډه دا چې ډېر زيات پسې سرګردان شوم خو د پيزا والا مې پيدانه کړاخېر له ډېره قهره په خوب کې راويښ شوم .
سهار وختي وکمپيوترمې روښان کړ د تاند ويبپاڼه مې پرانيسته که ګورم داستاد اسداسمايي تصوير مې تر سترګوشو نو بې له دې چې سرليک يې ولولم حجرې ته ورغلم هلته مې مېرمن هغه داستاد خبره (کورودانه) ناسته وه او ورته ومې وېل چې ما د شپې استاد په خوب وليد همدا اوس اوس مې چې کمپيوتر روښانه کړ د هغه تصوير پکې راغی نو زه ډېر خوښ شوم، مېرمنې ته مې ووېل چې استاد به خامخاکوم ځانګړي څه ليکلي وي مېرمنې مې راته ووېل چې ته خو يې وګوره چې څه يې ليکلي دي خير پېښ کړې نوله واره مې په زړه کې بل ډول درزاشوه په پوره احتياط سره پښه نيولی ورو ورودکمپيوترمخې ته راغلم چې ګورم دالاندې ځورونکې، دردونکې او وژونکې کرښې مې تر سترګو شوې :
افغان فيلسوف اسداسمايی په حق ورسېد



اروانښاد اسمايي

په خواشينۍ مو خبر تر لاسه کړ چې د افغانستان نامتو ليکوال استاد اسد اسمايي په فرانسې کې له نړۍ سترګې پټې کړې.



www.pukhto.net

ښاغلی اسمايي نژدې لس کاله مخکې د فرانسې د دولت په بلنه له پاکستانه پاريس ته ولاړ او دده د علمي شخصيت د درناوي لپاره فرانسوي پوهانو ده ته د نامتو فرانسوي ليکوال ويکتور هوګو کور خوشي کړ چې تر ډېره مرحوم اسمايي هلته اوسيده.

اسد اسمايي پخوا د کابل په پوهنتون کې د فلسفې درس ورکاوه. د ده يو شمير فلسفي ليکنې په فرانسوي ژبه خپرې شوې دي او ګڼې مقالې يې په پښتو او دري ژبو په افغانستان کې چاپ شوې دي. په وروستيو دوو کلونو کې استاد اسمايي له فرانسوي ژبې يو شمير مطالب په پښتو او دري وژباړل.

استاد اسمايي به نن(پنجشنبې /جولای۹) په فرانسه کې خاورو ته وسپارل شي. ده چهارشنبې سهار وختي دماغي سکته وکړه.

تاند د ښاغلي اسمايي له کورنۍ او افغان ليکوالو سره ځان په غم کې شريک ګڼي. دده مړينه د افغانستان لپاره يوه ضايعه ده.

اروا دې يې ښاده وي.

ګرانو دوستانو!
باور وکړئ چې داسې غرېو ونيوم چې نږدې مې سا ختلې وه ستونی مې بند شو دکوټې دروازه مې بنده کړه چې مېرمن مې ونه ويني بس نو په حال مې يو خدای(ج) خبر و اوبس .
داستاد خاطرات مې لکه غشي له زړه څخه واته ننواته ځان مې دوينوپه سمندرکې ډوب احساساوه د ناستې نه وم په خپل کټ کې بې واکه غزېدلی وم چې يو ناڅاپه يې دخولې هغه خبره ذهن ته راغله چې وېل مړي مړيو ته پرېږدئ دژونديوغم وخورئ .
بس سم له لاسه مې زړه قوت وموندلمړی تيليفون مې داستادمېرمنې ته وکړپه حال مې ځان خبر او غمرازي مې ورسره وکړه بيامې خپل نږدې ملګري پيداکړل هغوی هم خبر وو په ماپسې يې ډېره هڅه کړې وه خو زما تيليفون په هغې اونۍ کې بدل شوی و .


www.pukhto.net

زموږ د هغو ټولو ملګرو دې کور اباد وي چې له المان، هالنډ اوله ډنمارک څخه يې داستاد جنازې ته ځانونه ور ورسول خو زه لا د تقدير په زولنو تړلی وم، صحت مې ياری نه راسره کوله خپل ګران استاداو دهغه پراخه او بې ګونځو تنده مې بيا ونه ليده .
خوبياهم په دې بريالی شوم چې ديوې اونۍ په اوږدوکې د مونشن په نوي اسلامي مرکز د(ميرويس نيکه) په جماعت کې داستاد فاتحه واخلم .
دلته لازمه ګڼم چې داستاد فاتحې ته له ټولو راغلو افغانانو څخه مننه وکړم په تېره بيا له هغو ملګرو کوم چې له لرې پرتو سيمو څخه راغلي ووالله دې اجر ورکړي مولوي صديق الله فدايي ته دې هم خدای(ج) اجر ورکړي چې امامت يې وکړ .
اوس به راشم دګران استاد خاطرو ته :
کوم څه چې سحـر صاحب، بهاند صاحب، لېوال صاحب او رشيد صاحب ليکلي زه ورسره پوره همغږی يم خو اوس به زه پخپله د ګران استاد اړيکې له ما سره در وښيم چې ما کوم وخت دلمړي ځل لپاره وليد.
مااستاداسمايي د۱۳۵۳ کال داوړي په سره ګرمي کې دلمړي ځل لپاره دزرمت په ولسوالي (تعمير) کې وليد دوهم ځل مې په ۱۳۵۷ کال کې په داسې حال کې وليدچې دغويي پوځي بدلون را مينځ ته شوی و نو زموږ ګران استاد اسمايي او ورسره نور ملګري يې له زندان څخه راخلاص شول، زه دزرمت په ولسوالي کې وم چې ګورم يوه پنځه کسيزه ډله چې په مينځ کې يې استاد اسداسمايي و له کومې خواراغله اود زرمت دولسوال (ظريف) دفتر ته ورننوته زه نور پوه نه شوم چې دوی دڅه لپاره راغلي ووخو دومره خبر وم چې دغه ټول کسان د وخت استخباراتو زنداني کړي وو.
په همدې کال کې مو بيا په کابل کې زموږ په کور کې وليدل بيا نو سم سره معرفي شوو په ۱۳۵۸ کال کې کله چې په زرمت کې تېل شوې جګړې زور واخيست نو د استاد کورنۍ( مور اوپلار ) هم کابل ته را وکوچېدل داستاد پلار چې غلام دستګير خان نومېده او موږ ټولو به ورته لالا وېل له موږ سره نه تنها چې اشنا شو بلکې دټوکو او ټکالـو ملګری مو هم شو هغه خو د نابغه استاد پلار وڅه ساده سړی خو نه و په ډېر څه پوهېده هغه به پخپله ساده کليواله لحجه داسې پخه خبره وکړه چې څوک يې


www.pukhto.net

په ډېروکتابونو کې هم نه شي پیدا کولای لنډه دا چې ډېر ټوکي او ښه سړی وزه به یې ډېرنازولم راته وېل به یې چې امین ګله پوځې یونوفورم خو دانورهم اغوندي خوله تاسره ښه ښکاري ته ښه زلمی یې راځه که نه چې واده در ته وکړو.

لالا زه ډېرډېر هځولم چې واده وکړم داکیسه ډېره خندوونکې هم ده خولازمه نه ده چې ویې لیکم ځکه چې نن سبا زماخوله خندا ته نه جوړیږي لنډه داچې ما دلالا وړاندیز ځکه ونه مانه چې هغه وخت ما ته د واده کولو نه و.

لالا د خدای (ج) وبخښي هغه هم اوس په دې نړۍ کې نشته هغه ډېر زړه سواندااو هوښیار سړی و بهاندصاحب رښتیالیکلي چې استاد او لالا په خپلو کې سخته ملګرتیا هم سره لرله په زړه پورې ټوکي به یې سره کولې دا به هم تاسو ته ولیکم چې لالا له دریو مېرمنو ښځه نهه ۹ اولادونه دنیا ته راوړي دي چې له داټولوښځه مشر

زوی یې اروابناد استاد اسمايي و له دوهمې مېرمنې ښځه د جلیل په نوم یو زوی لري، له دریمې مېرمنې ښځه درۍ لونه او ځلور زامن لري .

له استاد سره زه ډېرې خاطرې لرم هغه به چې زموږ کور ته راغی هم به یې مجلس کاوه او هم به یې په لاس کې کتاب نیولی و یوه ورځ یې سر کښته پورته کاوه ما وېل استاذه دا څه ډول کتاب لولې لکه قاري چې ور سره یوځای سر ښکته او پور ته کوې ویې خندل وېل (کوربانه) داکتاب چندان کتاب نه دی خو یوچاله ماځخه هیله کړې ده چې خپل نظر پرې ورکړم ځکه یې باید ولولم .

ما ورته ووېل چې نوسم خو یې لوله که نه کتاب ځوک په دې ډول لولي؟ سړی چې کتاب لولي نولیکه په لیکه یې تعقیبوي ته یې ولې داسې نه لولې هسې له پاسه په ځوړ ور روان یې

وېل ته خو(عسکر یې) خودرته ومې وېل چې داکتاب چندان کتاب نه دی زه یې هسې دچینایانو په طریقه لولم مانا له پاسه ښځه په کښته خوا ورځم که ګټور څه مې تر سترګو شول خو له بده مرغه چې هیڅ هم پکې نشته .

نوما ته مالومه شوه چې استاد ځومره ځیرک اومهربان سړی دی چې نه خو د کوم چا هیله په ځمکه غورځوي او نه خو په عادي شیانو ډېر وخت ضایع کوي .



www.pukhto.net

را به شم وروستیو خاطرو ته، ما په خپل ژوند کې د وروستي ځل لپاره
نابغه استاد دکلن په ښــــار کې زموږ د ستر خوشال خان د۴ څلورمې
پېړۍ دنمانځلوپه جشن کې په ۲۰۰۱کال کې وروسته له ۱۳دیارلسو
کلونو څخه ولید ډېرزیات ورته خوښ شوم او تر ډېره یې په غېږ کې ټینګ
نیولی وم ستر ګې موهم یو څه را ډکې شوې خو بیا مو په ټوکو پیل وکړ
ما ته وایي چې ( عسکره ) ما خوته په اسمانو غوښتې خوخدای په ځمکه
راکړې ماویل استاذه امر کوه ؟
بس نوپه ډېر کم وخت کې یې ډېرې مهمې خبرې راته وکړې ټوکې یې
هم ډېرې وکړې دلته بایدزیاته کړم چې ما له استاد سره ځانګړې ټوکې
لرلې کله به مې چې ښه پخه ټوکه ذهن ته راغله نو به مې استاد ته وویل
چې دا ځل خو دې ښه پسې اخلم خو دا ټوکه نه دربانديې کوم هغه به
مجبورولم چې حتمأ یې وکړه خپل استعداد به نه وژني زه خوښېږم
ټوکې خو داسې یو په زړه پورې هنر دی چې هرڅوک یې نه لري ، نود
کلن په ښارکې مې دومره ډېر وخنداوه چې حتی دلوېدوحالت پرې
راغی نوما ته وایي چې اوس خومې در نیسه له خندا څخه لوېږم دا ته به
اخېږکله سم سړی شې،لوېدیځ ته را ورسېدې خو لا سم نه شوې .
ما ویل دا هم ستاسو له لاسه په دې وخت کې یو څوک پسې راغی ورته
ویې ویل چې اسمایي صاحب زریاب مو غواړي ، زریاب او نوره ډله
یې چې له استاد سره یو ځای له فرانسې څخه راغلې وه، استاد یې په یو
چل سره له موږ څخه بېل کړموږ فکر کاوه چې څو شېبې وروسته به
راشي خو دلمړۍ ورځې دمجلس تر ختمه پورې یې پته ونه لګېده .
زه او زما نور ملګري ور پسې دا خوا اخوا ډېر وګرزېدو خو استاد پېږیانو
راڅخه وړی و د شپې یوولــس بجې کېدونکې شوې په دې وخت کې
زما د تحصیل د دورې ملګری رحیم الله کنړی راته نېغ ولاړ و چې ته
به له ما سره شپه کوې ماورته وویل چې ما له ملګري دوست محمدسره
وعده کړې ده ملګری انجنیرسیدشاه هم دی نو بیا هغه قانع شو موږ له
کلن څخه دبوخوم ښار ته ولاړوڅوچې رسېدو نیمه شپه شوه خوزموږ
ساعت تېر و خپل دتبې ملګري سره یو ځای شوي وو.
سهار شو سبا ناری او دغرمې ډوډۍ مودملګري دوست محمد په کور کې
وخوړه، ماسپښین بیا کلن ته راغلو



www.pukhto.net

تر څو دسترخوشال دلمانځنې دسیمنار په دوهمه ورځ کې هم ګډون وکړو په دې دوهمه ورځ دپوهانو او عالمانو
دعلمي مقالو وار وخو بیاهم استاد اسمايي نا وخت راورسېدنا وخت څه چې آن عینکې یې په پردي ځای کې تېر وېرې شوې وې دا هم د زریاب له لاسه .
په هر صورت رابه شو داستاد زور ته زمور استاد چې په خپل نوبت سره د دریځ مخې ته راغی نو خپله مقاله یې د خطابې پرمېز ترلې پربښوده داځکه چې بې عینکو یې لوستله نه شوه نو له واره یې په تقریر پیل وکړ داسې خبرې یې دستر خوشال د ژوند په ځانګړو برخو او د هغه د علمي هستي په اړوند وکړې چې مور یې په چوکیو کې وزنګولوهرې خبرې یې په زړه منګولې لګولې استادمور له خپلو عالمانه نظریاتو څخه برخمن کړو وینا یې ختمه او بیا یو بل چا ته وار ورسېد دسیمنار له ختمېدو څخه لر دمخه زه ورڅخه را رخصت شوم ځکه چې زه له ډېرې لرې سیمې څخه ورغلی وم له استاد څخه مې پته واخیسته دی ډېر شله و چې فرانسې ته ورسره ولاړ شم خو له بده مرغه ما نه شوای کولای چې ورسره ولاړ شم دی هم دلارې له ملګرو څخه نه شوای را بېلېدای چې له ما سره راغلی وای بیا یې زما پته او د تیلیفون شمېره را څخه واخیسته نوبیا به مو تل تیلیفوني اړیکه لرله ، په ګانټو ګانټو به مودتیلیفون په ذریعه خبرې کولې بحث به مواکثرأ د خوشال خان او غني خان په اشعارو کاوه خو دبحث په مینځ کې به یې دحافظ شېرازي یو نیم شعر هم راګډ کړ دمولانا او سعدي اشعار یې هم په ذهن کې وو او په ډېرو حساسو مواردو کې به یې په ژبه ګرزول استاد ډېره قوي حافظه لرله .
په ۲۰۰۵ کال کې چې وطن ته تلم نو مې مشوره ورسره وکړه وېل تر کومه ځایه پورې ځې؟
ما وېل تر خپل کلي اوتر بل هرځایه چې مې وس وشي وېل نوته ډاډه یې چې حالات مطمین دي؟
ما وېل هو وېل نو څه به وکړې؟
ماوېل مور اوپلار ،کورنۍ ، خپل او خپلوان به مې وګورم، په کلیو اوباندو کې به دنړدې دریو لسیزو فاتحو ته ورشم ورورا‌و د تره زوي ته به ودونه راوړم، او دا کارونه چې ختم شول نوبیابه په لویه پکتیا کې له فرهنګیانو سره وګورم له واره یې وخندل وېل شعر جنګي ورسره کوې؟



www.pukhto.net

ماوېل غوارم چې په لويه پکتيا کې دنښتر په نوم يوه کالنۍ مشاعره دود کړم کټ کټ يې وخندل وېل بلا يې بلا دازموږ بې شمېړو پکتياوالو چې لوړ دولتي پوستونه لرل او آن تر وزارتونو پورې رسېدلي وو دې مسلې ته پام نه کاوه خو ته په يوازيتوب لګيا يې، باور نه کوم چې په دې ګډوډي کې به دا نيم کارونه هم ترسره کړې ماوېل بيابه يې وګورې وېل هسې ټوپونه مه وهه زرمت ته مه ځه له خپلوانو سره يا په کابل او يا په ګردېز کې وګوره ما وېل نه استاذه که بيا را نه غلم نو دعا راپسې کوه لږه شېبه خوغلی وبيايې و خندل او زياته يې کړه چې دا دومره کارونه به په څو ورځو کې وکړې؟
ماوېل په دريو اونيو کې له خيره سره .
وېل کرار کښېنه زرمت ته چې ولاړ نه شې خوکه بيا هم ډېر نه دربېږې نو په ګردېز کې هم له خپلوانو سره وګوره او هم د نښـتر غم وخوره دا ښه تاريخي کار دی برى درته غوارم ورځه ولاړ شه په مخه دې ښه .
زه خپل کلي ته وروسته له شپږويشتنيمو کلونو څخه ولاړم له خپل کلي رانيولې **بيا داستاد تر کلي کتحېځېلو،**
دولزو، مکاوې ، دزرمت ولسوالي(تعمير) مينځو، سيدکلا، ستوګنې ، مموزو، د روحاني باباوچهلګزي بابا تر زيارتو، په ټولوسهاکوکې کلي په کلي ، شولګډ،لېوانو، موساوالو، شېخانو ، علي جانخېلو او حيبت خېلو کې بې وسلې، او بې له کومې وېرې څخه وګرزېدم داځکه چې ما هيڅکله کوم چا ته زيان نه دی رسولی .
ټول کارونه مې دخپل ورځنيز پلان له مخې خلاص کړل د نښتر د مشاعرې په دودولو هم بريالی شوم المان ته راغلم او دا ټولې کيسې مې له ګران استاد سره شريکې کړې اول خو يې نه منله خوچې کله مې زموږ د ودونو د ډهلونو، سانګو او د شپې سازونه په تيليفون کې ورواورول اوزما غږ يې واورېده چې دکلي خلګوته مې دتېرو دېرشو کلونود په زړه پورې دودونو او د ځوان اوماشوم نسل د راتلوونکې په اړوند خبرې کولې او په دې هم بريالی شوم چې په سهاکو کې وروسته له ۲۷ اووه ويشتوکلونو څخه يوځل بيا دمطرب ګوتې تر شهبازه پورې ورسوم چې په ړنګو کنډوالوکې د رباب ترنګ پورته کړي، سانګې، ډهلونه اوسازونه



www.pukhto.net

راژوندي کړم نوبيا يې ومنله ډېر زيات خوښ هم شو خو دخبرو په مينځ کې به بيا شک ورته ودرېد وېل نه ربښتيا تر زرمت پوره تللی وې؟
ماوېل نه چې نه يې منې نونه وم تللی لنډه دا چې دومره ډېرسره وغږېدوچې تيليفون دبټري دخلاصېدو اشاره راکړه استاد ته وايم چې د تيليفون بټرئ په ختمېدودي په خندا شو وېل زما په خبره خپه شوې که څنګه؟
ماوېل نه استاذه ساعت ته دې وګوره چې څو ګانټې مو خبرې سره وکړې وېل هو پوهېږم هسې ټوکه درسره کوم نو په همدې خبره مو خدای په اماني سره وکړه .
اوس به يې يوه بله کيسه تاسوته وليکم، يوه ورځ يې ډېرزيات زحمت ايستلی و چې تيليفوني اړيکه راسره ونيسي خوزماتيليفون مصروف و چې تيليفون مې کښېښود ګورم چې د استاد تيليفون راغی ماوېل امر کوه استاذه وېل نه دا ته له چا سره لګيا وې؟
ماوېل دازادي راديو ژورنالست له ماسره مرکه لرله وېل دشعر په اړوند؟
ما وېل نه داسامه او دالظواهري دمناسباتود خړپړتيا او داد ننيو لوبو په اړوند وېل نو ته څه فکر کوې چې دا لوبې به د يو څو لسيزو لپاره وي؟
ما وېل نه دا لړئ به په مختلفو ډولونو دوام وکړي وېل هو پېړې پېړئ به هم پسې وغځيږي، انسانان به په ډول ډول پلمو يو دبل مرئ غوڅئ کړي خو داراته ووايه چې دا ته به اخېرکله سم سړی شې؟
ما وېل څنګه استاذه؟
وېل سل ځله مې درته ووېل چې داسياست پرېږده .
ما وېل چې زه خو يې پرېږدم خو هغه بې ګناه ولسونه دکليو او بانډو هغه ګونګيان مې نه پرېږدي کوم چې په وينو کې لت پت پراته اوغږ يې ترچا نه رسيږي وېل نو دالوی ښامار به ستا خبرو ته غوږ ونيسي؟
ما وېل وبه ګورو چې څه کيږي وېل بيا هم درته وايم چې له سياست څخه لاس واخله دشعر دنيا رنګينه او ګټوره ده درته ماوېل نوته مې هم يوه خبره ومنه وېل کومه خبره؟
ماوېل زه به سياست پرېږدم خوته لږ داخپل صحت ته پام وکړه وېل زه خو همداسې ښه يم ته دارسره ومنه ، خبرې مو ډېرې وکړې په اخېرکې يې راته ووېل چې دازما ليکنه په منظوم کلام واړوه ماورته ووېل چې سمه ده را يې کړه وېل له اسمايي ويبپاڼې څخه يې دراواخله نوچې هغه ليکنه



www.pukhto.net

مي راواخيسته ډېره اوږده وه ما ورته ووېل چي استاذه دا خو دزرمت له (چرمني) څخه هم اوږده ليکنه ده لږ وخت راکړه وېل سمه ده هر وخت چي وخت ولرې
دا کار وکړه ما وېل په سترګواستاذه .
له بده مرغه چي زما دکمپيوتر حافظې ته زيان ورسېدداستاد د ليکنې په ګډون زما نور ډېر مهم اسناد هم پکې وسوځېدل اوس به يې بيا داسمايي له وېبپاڼې څخه رااخلم هيله ده چي په ارشيف کې يې پاته وي .
استاد له شعر او موسيقي سره ډېره زياته مينه لرله خو هغه اشعار يې بې‌خي نه خوښېدل کوم به چي په قوم او ژبه راڅرخېدل .
استاد ددې نړۍ ناخوالو ډېر سخت ځوراوه دهغه نړۍ ليد له بل هرچا سره ډېر توپير درلود سحر صاحب په ځاى ليکي چي ولې مي دهغه دخولې خبرې نه ليکلې خوزه لا دا هم پسې زياتوم چي دهغه دخولې هره خبره نه تنها چي بايد ليکل شوې واى بلکې بايدپه غړيز ډول ثبت شوې هم واى خو اوس موږ ته صرف لاس مروړل را پاته دي، څوک خبر و چي استاد به دومره ژر موږ دې تورو شپو ته پرېږدي ؟
استاد د ښاغلي مجروح اثار ډېر زيات خوښول پخپله استاد هم بې شمېره مقالې اوليکنې لري خوپه هر ځاى کې تيتې دي وروستى اثر يې دقدراوقضأ په اړوند تر لاس لاندې و هيله ده چي خوندي پاته وي .
استادپه ژوندکې ډېرزيات کړېدلئ و په زندانوکې يې سختې شکنجې ليدلې وې، په شپو او ورځو به ماسلانو خوب ته نه پرېښود سخت سخت به يې واهه ځکه خو يې ژور روحي ټپونه اخيستي وو، خوب به يې د ګوليو په زورکاوه ځکه مي په پاس شعر کې تاسو ته ليکلي دي .
استاد دې ژوند او دا د نني انسان کړنو موږ کړى و ځکه يې خپل روغتيا يې حالت ته پام نه کاوه دسرګال په لمړيو کې زه ورسره سخت جدي شوم خو هغه به خبره په خندا خندا کې تېروله ما ورته ډېر عذر وکړ چي د خداى لپاره ته خو تنها د خپل ځان او کورنۍ نه يې ته خو د ټول بشريت هستي يې لږ خو دې دا د خپل صحت خيال ساته وېل بس ټيک ټک يم ماوېل نه ټيک يې او نه ټک وېل چي نه يې مني بيا نو راشه شعرونه دې هم راوړه ما به هم وګورې چي ټيک ټک يم او که نه ؟ وېل در پسې خپه شوى هم يم ما وېل استاذه! خامخا به درشم چي وخت پيدا کړم .



www.pukhto.net

عزيزانو!
اوس به يې ښه وګورم اوس به زه وخت څه کوم اوس به ...
لنډه دا چې، درېغه يو ځلې خو بيا په دنيا راشي ×× له جهانه په ارمان وتلي خلک
په اخېر کې له ټولو هيوادوالو، قلموالو ملګرو او په ځانګړي ډول د علم اوادب د خپراوي او د قلـم د نړيوالې ټولنې له غړو څخه جدي هيله کوم چې دکابل اداره دې ته وهڅوي چې :
۱ ـ دهېواد په هر ولايت کې يويو واټ داستاد په نوم ونوموي .
۲ـ په زرمت او دلوې پکتيا په نورو سيمو کې داستاد په نوم نوي ښوونځي او لېسې وداني کړي .
يادونــــــــــــــه :
نابغه اوفيلسوف استاد اسد اسمايي يو زوی لري چې ميلاد نوميږي او همدااوس له خپلې مورسره په فرانسه کې اوسيږي سږ کال يې له خيره سره دولسم ټولګی سر ته ورساوه اوس دفاکولتې په لټه کې دی، استاد لوراني نه لري هسې ما په خوب ليدلې وې .هيــــــــله :
له ټولو افغانانو څخه هيله کوم چې داستاد کتبي او سوتي اثار راټول او په ډاډمن ځای کې خوندي کړي همدا راز دلويې پکتيادفرهنګي ټولنې له بااحساسوملګروڅخه مننه کوم چې داستاددااثارو دچاپ وعده يې کړې ده .
له حوصلې څخه مو مننه

ښاد او اباد اوسئ

له جرمني څخه محمدامين بســمل

**استاد اسد آسمايي يو خاموش فيلسوف**

ليکوال نورمحمد لاهو

يوازينی ليکوال چې ډيرې خبرې ورسره وې چې بايد کړې يې وای خو وې نه کړې او نه يې وليکلې هغه استاد اسد اسمآيي و



www.pukhto.net

استاد اسد آسمایي ارام ، خاموش او بې پروا شخصیت و په مجلس کې یې
ډیرې خبرې نه کولې ډیر به مقابل لوري ته غوږ و ځوبه مجبوره نه شو
اویا چابه ورنه سوال ونکړ خوله یې خبروته نه جوړوله
ما دی ځوواري د لیکوالو په ټولنه کې لیدلی و خوخبرې به موسره نه کولې
چې مخامخ به شوله یوبل سره به موسلام هم نه کاوه ماته دی یو عادي
شخص ښکاریده نوځکه مې دنوم پوښتنه هم نه کوله . یو ه ورځ مې په کافکا
باندې لیکنه کوله د کافکا کیسې مې چې ولوستې هیڅ مې سر پرې خلاص نه
شو هغه وخت په ډیرو لیکوالو او استادانو وګرځیدم خوچا یې په باب داسې
سم ځواب او معلومات رانه کړل چا کافکا سم نه شوتحلیلولي آخر یوه
ملګري مې راته وویل چې اسد اسمایي ته ورشه هغه په دې خبرو ډیرښه
پوهیږي ما ورته وویل زه یې نه پیژنم هغه له لیرې راته وښوده ویل یې هغه
سړی ګورې چې دلیکوالو په منځ کې غلی ناست دی هماغه استاد اسد
آسمایي د ی ما دځانه سره وویل دی خومې ډیر لیدلی دی هماغه و چې ځان
مې ورورساوه غوښتل مې چې ځان وروپیژنم هغه راته وویل زه دې پیژنم
له خبرو وروسته مې خپل مشکل ورته یاد کړ هغه په خوشالی او صمیمت
راته وویل قلم او کاغذ دې راواخله وروسته یې د کافکا ټولې ځانګړنې
راته بیان کړې اود هغه په آثار وکې چې کومې خبرې لکه دایمي اضطراب ،
له مرګه ویره ، بد بیني ، کرکه ، تیښته او داسې نورې خبرې وې زیاتره
یې راته بیان کړې داستاد اسد په دې خبرو سره مې د کافکا په باب په
زیاترو خبرو سرخلاص شو باورو وکړئ چې داستاد دخبرو په رڼاکې مې
په کافکا یوه لویه مقاله ولیکله چې په پای کې زه هم ورته حیران وم چې دا
مې څنګه لیکلې ؟
له هغې ورځې وروسته مې له استاد سره ملګرتیا شوه ، صمیصمي دوستان
شو زه به یې لیدوته پوهنتون ته ورتلم له کوم مشکل سره به چې مخ وم هغه
به یې په اوارولوکې راسره مرسته کوله
استا د په مجموع کې دهنراو دهغود مکتبونو او ډولونو په باب ډیر معلومات
درلودل په تیره بیا دنړې دفیلسوفانو په هکله ډیر پوهیده کله به یې چې
خبرې کولې په خبروکې به یې داسې موضوع ګانوته اشارې کولې که هغه
لیکل شوې وای یوه ښکلې مقاله ترې جوړیده
یوه ورځ مې ورته وویل استاده دغه موضوع چې تاياده کړه کیدای شي په
دې ښه مقاله ولیکل شي نیسه دغه ولیکه دی به مسکي شوو به یې ویل : نه



www.pukhto.net

داموضوع اوس ډیره زړه شوې ده په دې موضوع ډیرو خلکو لیکنې کړې دي ماورته وویل په کابل کې خومې په دې هکله دهیڅ چا لیکنه نه ده لوستلې ده بهٔ راته وویل نه خارجي لیکوالو پرې ډیر څه لیکلي دي
همداسې ډیرې موضوع ګانې به موچې ورته یادې کړې ده بهٔ یې د لیکوالو نومونه واخیستل ویل بهٔ یې پلاني او پلاني په دې خبرې ډیرسرخوږولی دا موضوع تکرار ده په داسې حال کې چې هغه به زموږ دخلکو له سطحې ډیره پورته موضوع او خبره وه او ډیری به پرې نه پوهیدل خو ده به هغه یوه تکراري موضوع بلله
یوه ورځ مې ورته وویل استاده غواړم په ا لهي کمیدي چې د دانتې اثر دی یوه لیکنه وکړم ده راته وویل ښه ده بیا راشه په دې باب به زه پوره معلومات درکړم او ځینې منابع به دروښیم له هغوهم استفاده وکړه او هغه منابع به هم دروښیم چې دغه اثر ورسره نژدې والی لري
استاد د زیاترو مشهورواو خارجي لیکوالو په هکله پوره معلومات درلودل او دهغو شیره اوعصاره به ورمعلومه وه
چابه چې ورته وویل مقاله لیکم ده به موضوع ورکوله خوخپله به یې نه لیکلې
یوه ورځ مې دنقاشي یوه تابلوچې پخوامې رسمه کړې وه تحفه ورکړه په لیدویې ډیر خوشاله شو هغه یې د خپل اطاق په دیواله راوځړوله استاد ماته نورعکسونه راوښودل چې په وړو چوکاټونوکې یې قاب کړي واودکورپه دیوالونو یې راځړولي و یوعکس راته ډیر عادي معلوم شو ورته مې وویل نو داعکس دې دڅه دپاره دومره په قدر راځړولي دی ؟ هغه راته وویل دایو ډیر پخوانی رسم شوی انځور دی دې ته ښه ځیرشه وګوره چې انځورګر پکې رنګونه په څومره ښه مهارت سره ترکیب کړي او بل تناسبات پکې څومره ښه په پام کې نیول شوي دي
د نقاشي په هکله مې چې د ده خبرې واوریدې فکر مې وکړچې استاد پخوانقاشي هم کړې ده خو هغه راته وویل چې نه نقاشي یې نه ده کړې نودادومره معلومات دې له کومه کړې ؟ هغه راته وویل داځکه چې هنرونه یوبل ته لارې لري ټول هنرونه مشترك ظرافتونه لري د ا نسان دمشترکو احساساتو تصویرونه باسي



www.pukhto.net

له استاد سره مې انډيوالي نوره هم زياته شوه نورنومې بل استاد ته ضرورت نه پيدا کاوه ځکه استاد په هره موضوع ډيرښه پوهيده په موسيقي کې يې هم ډيرمعلومات درلودل
زيات شوق يې له موسيقي او چاى سره و جالبه داده چې استاد ښه پوخ سيګرټي وخو د ورځې به يې يو دانه سيګريټ نه څکوه خو د شپې له خوا به يې دوه درې قوطيه سيګريت شا په شا څکول د ورځې به يې يوازې چاى څکه يوه ورځ دفتر ته راغى هغه وخت ما په باختر اژانس کې پښتوخبرونه جوړول سيف الرحمن اشنا صاحب هم و استاد سره يوبل کس هم راغلى و غوښتل يې چې ورسره يوځاي ته ولاړشي تلوار يې و نو هغه کس ورته وويل استاده دادى لاهو دې وليده نوربه ولاړ شو چې هغه سړى چيرته ولاړنه شي ما استاد ته وکتل ورته ومې ويل استاده هغه د تور چاى هغه غټ چاى جوش مې په منقل ايښي دى
استاد هغه کس ته چې ورسره راغلى و مخ کړ وې ويل :آشنا اول دلاهو چاى به چيکو او بيا به ځو
يوه ورځ سره ناست و ليوال صايب هم و استاد خپله يوه خاطر ه وويله چې کله په روسيي کې تعليم کاوه نو يوه ورځ يې غوښتل چې خودکشي وکړي استاد ويل په هغې ورځ مې دژوند ټول ارمانونه پوره شوې و سمندرخواته لاړم دسمندر اوبه مې زنګنوته راورسيدې خوزه نورهم وړاندې ورتلم وروسته مې دسمندر اوبه له ټټره پورته شوې خوما کوشش کاوه چې ځان دسمندرسينې ته ورسو م له شاه خلکو راناري وهلې چې هله راوګرځه چې وړي دې ډوبوي دې ماغوړونه کانه اچولې و چې هيڅ څه نه اورم وروسته خلك راورسيدل او ماته يې نجات راکړ ما دا کار په دې خاطر کاوه چې غوښتل مې په هماغه خوند کې مړشم
د دې خاطرې له اوريدو وروسته مې يوشعروليکه ا ودده دا خاطره مې پکې راونغاړله هغه شعر مې چاپ شو خواستاد هغه وخت په افغانستان کې نه و چې وراورولى مې واى
هغه شعر زما دشاتوسيند په کتاب کې چاپ دى ، ده ته مې ډالۍ کړې دى شروع يې داسې ده
آ هاى ! راوګرځه راوګرځه چې وړي دى ............
استاد په روانشناسي اوخوبونوډيرښهٔ پوهيده يوه ورځ مې د ژان پل سارتر يوکتاب لوسته په هغه کې د شعور لاشعور اوتحت لشعور نومونه ډير



www.pukhto.net

يادشوي و چې زما سر پرې سم نه خلاصيده ده ته ورغلم داموضوع ګانې يې داسې ښې راتشريح کړې چې بيا ترپايه د سارترد کتاب په لوستلوکې له ډير مشکل سر مخ نه شوم
استاد سره له ډيره علمه او پوهې داسې ګرځيده ته به وايې چې په هيڅ هم نه پوهيږي دده يوعادت مې ډير خوښ و هغه داچې کله هم له چا نه خپه کيده بل چابۀ چې ورته وويل چې پلانی ډ ير بد سړی دی تا پسې بدې خبرې کوي ده به وويل ګورئ زموږ اکثره خلك رواني تکليفونه لري که چيرې هغوي خپل تکليف وپيژني کله هم به چاپسې خبرې نه کوي نو تاسوته پکار دي چې له هغوسره مرسته وکړئ او په نرمه لهجه يې وپوهوئ له مريضانوسره بايد په شفقت چلند وشي
وروسته پوه شوم چې استاد ولې له چا څخه نه خپه کيږي او هيڅ چاسره په زړه کې کينه نه ساتي .
يوچا مقاله ليکلې وه ويلي و چې په افغانستان کې نوي فيصده خلك ليونيان دي ده ورته وويل چې هغه پاتې لس فيصده چې تا نه دي ياد کړي هغه هم ليونيان دي . هغه ورته ويلي و چې څنګه ؟
استاد ورته وويل هغوي ځکه ليونيان دي چې ولي ليوني شوي نه دي حتما کوم عصبي مشکل لري چې په دغسې حالاتوکې روغ پاتې شوي دي
يوه ورځ زموږيوه ملګري ورته وويل چې استاد ه پلانی کس ستا موضوع ګانې غلا کوي وورسته يې ليکې او په خپل نامه يې چاپوي
ده په خندا وويل هغه خوښه دی غلاکوي يې اوورسته يې په خپل نامه چاپوي تاسو راشئ زه خپله موضوع او مواد درکوم خووې ليکئ هيڅ حاجت غلا ته نشته دهرې موضوع په اړه چې غواړئ څه وليکئ زه مو په اختيار کې يم کورته راشئ موضوع هم درکوم منابع يې هم دربښيم او بله داچې ښه پريمانه چای هم درکوم نورنو څه غواړئ
مقصد ليکنې وکړئ
استاد يو ژوندی قاموس ، ښه ليکوال اوتکړه فيلسوف و خودريغه چې موږ ورته ډير ناوخته متوجه شوو. دده روح دې ښاد وي



www.pukhto.net

## اسد آسمايي له موړ ورك شو كه ولاړ؟!

اسد څه وه، څوك وه، ولې وه؟

ځواب له استاذ اسد آسمايي سره دی او هغه نور نشته! بلې! اسد نشته!! بيا وايم نور نشته!!!

اسد خپله (زه) له ځان سره يوړه. هغه نور نه تن لري، نه كالبد او نه هغه ذهن چې د فلسفې او روانپوهنې ټول دوزخونه او برزخونه ور ننوتل او هغه يې تر پايه ډېرو بشري پوښتنو ته شپيلۍ وګرځاوه او پرېښوده.

دا زما ارزونه ده، زه د غوښنو حواسو او له بشري معلوماتي پوهې او د مشرانو له نصيحتونو او اخلاقو ډك ذهن سره ناست او د يوه تللي روح په ساړه، كرخت او ماده شوي كالبد او ذهن كې د هغه سفرنامه لټوم. نه! زه يوازې (زه) لرم.

**(زه) يو فزيكي، حسي، ذهني او رواني سفر كه څه؟** زما هويت څه شی دی؟ كله چې زړه په يوه زماني ماشين بدليږي او ودرېږي، كله چې سترګې مادې ته ور ګرځي او د ډېرو په څېر نه څه ويني او نه څه را كوي، هغه مهال چې غوړونه په مادي غړونو كې اشباع مومي او په همدې غړونو ترك چوي. هغه شيبه چې خوله په شرابو يا رنديو پسې ناره نشي وهلې او د خدای په نامه مخالفو وګړو ته دوزخ نشي نقاشي كولای، داسې شيبه كې زه څه كيږم؟!

زه څوك يم، ايا زه په خپل شتوالي، عمر، جسم، احساساتو، عواطفو، ذهني-فكري زېرمو، ويناو، ليكنو، خاطرو...كې راټول شوی يم كه نه ارت، ژور، لوړ، او نه ليدلو زمانو كې لا روان فرد يم؟

هغه څه چې د زوكړې په ورځ ما(فرد) د يوه غوښن وړوكي حجم په توګه اغوستي او بيا د زمان په فصل كې ميو، دانو، مرغانو، څارويو، اوبو، بادونو زما بدن ته وركړي او له بلې خوا هغه ذهني-فكري درك، پوهه، معلومات، پندونه، باورونه چې كورنۍ-ټولنې زما په ذهني-رواني قابليت كې ايښي، څومره را ته شخصي او خپل دي؟

موړ ولې خپله زه نشو را سپړلای، ولې خپلو فردي پوښتنو ته ځواب نه شو موندلای، ولې په خپله معما ايسار او بند پاتې يو؟



www.pukhto.net

راشئ یو ماشوم را وښیئ چې ژوند ورته معما وي! ماشوم له فکر، باور او اندیښنې تش او خالي دی. ماشوم هغه څه دی چې وینې یې. ماشوم هغه دی چې اوري یې. ماشوم خپل او پردي نه لري. ماشوم د خدای له ټولې دنیا، له ټولو افرادو او موجوداتو سره په روغه او دوستۍ کې دی. ماشوم ته ټول ژوند او ټول ژوندي دوستان دي، دا ځکه چې ټول خدای پیدا کړي.
ماشوم څه شی نه لمانځي، بوت نه لري، ویرېږي هم نه! ماشوم څوك نه ردوي، ماشوم ته هر فرد او هر څيز د ژوند د راګ تالونه او څپې جوړوي.
او زه، اسد، او په فکر او باور او اخلاقو کې پنډ ولاړ(پوه) او( کارپوه) په یوه ټوټه ټوټه نړۍ او یوه ټوټه ټوټه ژوند او یوه قصابي شوي هستۍ کې ژوند کو او تر هر چا نیږدې ځانته خپل قصاب وینو.
ماشومان له لویانو سپین دي. ماشوم د ځان او خالق ترمینځ هیڅ واټن نه جوړوي، نه پیژني. پرته له خدایه هیڅ نه وي. ماشوم هلته دی چې خدای یې شته، ځکه نه ویرېږي، نه شرمیږي او نه له چا دعا یا مرسته غواړي.
ماشوم په خپله زمانه کې اوسي. ماشوم اوسنی دی. او زه، اسد اسمایي، او که اجازه وي ته، ته، ته...لویان یو. موږ له(اوس) وتلي یو. موږ زمانه نه لرو، ځکه یوازینې ریښتینې زمانه همدا تلپاتې اوس ده او زه کرار کرار په را لویدلو! سره له اوس، له حقیقي زمانه کډه شوی یم. موږ نصیحت او د ذهن غنو اسیر او وژلي یو. موږ وچ، مړه، او له حرکته پاتې یو. موږ خپل زمان او خپل فردي قلمرو بایللی دی. موږ په پردي فکر کې، پردۍ زمانې ته کډه شوي یو. کله کله د خوب یا خیال له لارې د خپل ورك فردیت یو څرك، یو اه، یوه قیو قیو ناره واورو، را پاڅو او چې سترګې وغړو ګورو لویان را پورې خاندي او نیږدې دوست را ته وایي(کوم خوب او خیال له ځان سره وړی وې؟!)
موږ هره خوا ځو، خو خپل اصیل (ځان) را نه ورك دی. موږ هغه څه خپل هویت ګڼو چې د مرغانو، څارویو، نباتاتو او میو دانو له وینو جوړ شوی.
موږ د ټول طبیعت وینه خوړلي، وینه څښلي او هندارو ته په غوسه یو چې ولې مو ستوري او شاهان فاتحان او اتلان نه ښیي! موږ چیرې ځو، له څه شي ځو، څه شي ته ورځو؟؟
(زه) که زه یم، نو څه شي ته ورځم، ځان څه شی جوړوم، د څه شي خیرات غواړم؟ موږ که شته یو، په څه شي پسې مو غاړې تیټې کړي، د څه شي له پاره دروغو، غولولو، تورلګولو، خیانت، تیري او بل ملامتولو ته ملاتړلې؟!



www.pukhto.net

زما د فردي هستۍ مرکز چیرې دی؟ ایا زه خپله د درك نقطه نه یم! زه په دومره تحرك سره خپلې اصیلې(زه-ځان) ته ورنیږدې شوی یم که لیرې شوی؟!

موږ هره لوړه لاندې کوو، خو خپلې نا اشنا ځمکې مو لا نه دي تجربه کړي. سور پوستی پیداکیږم، او ژړ او تور لاندې کوم. اتلانتیس او سومر او روم او سپنه مانۍ زما غورځې پرځې دي او ما لا (ځان) نه دی موندلای، زه چیرې، چا، څه وخت غلا کړی یم!!! څه یاد ته نه راځي! اوس هم زما قافله تږلې، شپه په صحرا ده، ځم چې نوره وینه تویې کړم، نور برجونه او کلاوې ورانې کړم، نور بیرغونه را کوز کړم، ښایي چیرې په ځان را ویښ شم. ایا دا ژوند ویښه ده که خوب!

څه شو زموږ اسد، زموږ استاد، زموږ دوست چې راته ګړیده به او موږ به ور پورې په تنګ وه! یوه پوښتنه، **اسد ولاړ که ورك شو؟!**

راځئ د خپلو پوهو ماشین ته دا پوښتنه ور واچو، څه به وموموو! ایا کولای شو یو غیر ذهني ځواب ومومو! زموږ سترګې هومره مادي دي چې ذهن او حواس مو دي. موږ دې پوښتنې ته ځواب هم د راته پاتې کتابونو په وچو کلمو کې لټو. خو اسد ولاړ، اسد نشته! د اسد آسمایي په اړه زموږ ارزونې هومره خندونکې دي، چې یوازې هغه الوتې اروا او خدای یې ښه ور باندې پوهیږي.

ښایي هغه زموږ په ځوابونو اعتراض ولري! ښایي هغه د هغې اګاهۍ په ژبه چې لا نه ده ژبنۍ شوې، څه وایي! خو موږ څه نه اورو، دلته فضا یوازې زما او هغو یارانو په ساه را ګښلو او ګړیدلو ډکه ده چې فزیکي دي او عیني دي او موږ ته اسد اوس په یوه غیر عیني واقعیت اوښتی.

اسد یو فرد وه چې ښایي د خپلو فردي ځمکو په لور ور جلا شوی وي!

اسد اسمایي له موږ ختا شو. څوك پوهیږي چې زموږ درك د اګاهۍ لوړه ارتفاع ده که د هغه روح چې حتا نور نو اسد آسمایي هم نه دی، ځکه اسد آسمایي هماغه بدني، حسي، ذهني او رواني ټولګه وه چې موږ ته، زموږ اکاډمیکو افکارو ته نور ومړ؟! داسې لنډ او اسانه ځکه وایم چې استاد اوس هر څه پرایښې، هغه هر چیرې شته، خو نه په هغه کور کې چې موږ یې هغه ته د کور په توګه پیژنو. هغه نشته، د کابل پوهنتون د فلسفې استاد اسد اسمایي نشته! نو په دغه تشه د څه شي نوم کیږدو؟ خو ایا اسد نور نشته، اسد ورك شو؟!



www.pukhto.net

نه! هغه ګرځنده جسم، هغه له توروږمیو او تندرونو ډکې سترګې، هغه له زرګونو پوښتنو سره چوپ شوې خوله، هغه له نا اشنا غږونو ډك غوږونه، هغه روان چې له ځمکې او ذهني قلمرو بهر واقعیت یې د ژوند په ټوله شپه تجربه کاوه، نور نشته. نو اوس اسد څه دی؟!
زموږ ویناوې د زاړه او مړه او تللي اسد اسمایي په باره کې دي. موږ زړه زمانه غږو. یعني موږ زړه زمانه یاستو. او اسد په اوس کې دی. اسد په هغه زمانه کې دی چې خدای جوړه کړی. هغه اوسنی دی او موږ تیره. نو ژوند چیرې دی؟ ژوند شته، ژوند کو، ژوند همدا شیبه ده، خو موږ ولې په تیره کې لاره وهو؟
موږ نه پوهیږو، اسد نه وینو، دا ځکه چې اسد اوس په هغه قد او هغه هندسه کې ولاړ دی چې موږ یې نه پیژنو.
موږ خپل یونان یاستو. موږ ځان هغه ښار جوړ کړی چې لنډ قدي به د لرګیو په پښو ورننوځي. او لوړ قدي به اره کړي ور دننه کیږي. موږ په ځان کې د هغه چا میلمه پالنه کو چې یا مو پښې ور پرې کړي یا مو د لرګیو پښې ور پورې تړلي. راځئ دا ډول هنداره کې یوځل خپله(زه) ووینو. ایا زموږ انساني اګاهي هغه هدیره نه ده چې ټول ژوند او واقعیت مو یا لنډ کړی یا اوږد کړی ور ننویستي او په ژبو او قلمونو اوړ اچو، چې تاریخ مو فاتحانه ځیرې ننداري ته وړاندې کړي او را روان سپین ماشومان موږ په خپلو ذهنونو او وجدانونو، چې خدای تك سپین او تش پیدا کړي، واغوندي او ټول ژوند د مړو فکرونو او اخلاقو وچ خواړه وخوري او خپل خدای چې نیږدې نیږدې ورسره شته، هیر کړي او له فلسفي یا افسانې ورته ډبرین او مسي او د ژیرو یا الماسو(خدایان!) راووځي.
اسد خلاص شو. اسد د ذهن له دوزخه خلاص شو. اسد ټول بارونه او ویاړونه او نشانونه پرېښوول، لوڅ لېږ خدای ته ورغی. چې لوڅ نشی، چې سپین نه شی، چې میوه نه شي، خدای نه شي لیدلای.
اسد ولاړ. موږ ولې ویر نیولای؟ ایا اسد را نه لویدلی که لوړ تللی؟
ځمکه کې قد کول، ځمکه کې نوم او نښان لرل، ځمکه کې شهرت او ویاړ جوړول، د اسارت دیوالونه دي. موږ په خپلو ځنځیرونو او اتکړیو کې ناست، نځیرو، خاندو، غورځې پرځې کوو، ویناوې او نصیحتونه خپرو، دنیا ارزو!



www.pukhto.net

موږ هغه څه یو چې پخپله مو کړلي. موږ هغه څه راغونډ کړي چې ښايي ټول يې د زندان د ژبې الفبا وي. د اثر مو خپل دی. زه خپل پنځولی رومان يم. زه مخامخ له خپل فکر، اند او ارزونو راوتی يم.
ښايي زموږ هره نښه او د وياړ هر فصل د بردګۍ د ويرنې يوه بله کلمه، يو بل سيلاب او يوه بله ټپه وي.
عزيزانو!
تاسو هر يو له هغې فردي ازادۍ او فردي قلمرو سره ښکلوم چې خدای درکړي. زه هم خپل فردي قلمرو يم. و مې غوښتل په داسې يوه ورځ چې را څخه د يوه فردي شوي روح په ياد را ټول شوي يو، يوه بربنډه ننداره در ته وغړوم.
استاد اسد اسمايي ته را ګرځم. په انټرنټ مې د استاذ وروستی هنري اثر(دوغسيان) وموندل.
سپينه واوره وريدلې
د افق په وينو ډوبې
د آسمان لمنې سرې وې
ګونګوسې شو وحشتناکه هيبتانکه
ډك له قهره اوازونه مې تر غوږ شو
د مرګ سيورې، سرخريېلو تور بوټانو...
استاد اسد د دوغسيان په پرولوګ کې ليکلي:
(لاندې ليکنه د مرګ د واقعې ويرې په وړاندې يوه شخصي نه بيانيدونکې تجربه ده...)
ښايي (دوغسيان) يو له هغو ګوته په شمار اثارو وي چې کيږي له لارې يې تير اسد اسمايي ته لاره ور وشي. دلته ګرځنده مړی دی چې هم لوبيږي، هم ننداره کوي او هم غير فزيکي اورونه او عذابونه د کلمو نازك بدن ته را ليږدوي. د (دوغسيان) په حسي کولو سره هغه فضا ژوند مومي چې څنګه ورك فيلسوف په اورونو ور ننوت، خپل هډونه، حواس او د ذهن سره صندوقچه يې د بې شکله موجوداتو غرب او درب ته پريښوول!
اسد مخکې له دې چې مرګ ورته راشي، پخپله مرګ ته ور وخوت، په مرګ ننوت، مرګ يې تجربه کړ او له دومره ننداړو سره کښيناست چې مرګ يې اسانه ونيسي او مرګ يې ښکار کړي:
ته روان وې د ناشنا کلا په لوري



www.pukhto.net

ته روان وې د راتلونکي مرګ په سیوري
چې د ژوند امکان دې نه وه
ته د مرګ سیوري یو ځای ته کشولې
نه رڼا وه، نه تیاره وه
خړه پړه روشنایي وه
چې پراته پکې اموات وه لا ژوندي وه
تل تر تله په خپل مرګ باندې راضي وه...
اسد دلته ځان ویني، ځان ننداره کوي، خپل انساني کالبوت عکاسي کوي. نو دا دویم اسد څوك دی چې حتا د اورونو او بې شکله عذابګرو له ګواښ او واك جلا ودرید او خپل هغه کالبوت یې عکاسي کاوه چې د فلسفې له بار سره د بې شکله غابښونو او بې سترګو لیدونکو په زماني، مکاني دنیا کې سوځیده.
اسد آسمایي زمانه ترلاسه کړه، زماني ته ننوت، مرګ ته ور کوز شو او خپله ویرنې وغږوله.
دلته ده چې د اسد تلل، اوس ته تلل دي. هغه دغه شیبه کلونه وړاندې پنځولې.
هغه مخکې له مخکې په مرګ کې لاره وهلې. ځکه لیکي(لاندې لیکنه د مرګ د واقعي ویرې په وړاندې یو شخصي نه بیانیدونکې تجربه ده چې تخیلي انځورونو او سمبولونو په وسیله بیان شوې...)
که چیرې اګاهي مو د ذهن له منګولو بهر راوېښه شي، زمانه یوځای کیږي، یوه کیږي، زمانه په حاضره شیبه په(اوس) بدلیږي. موږ کولای شو د زمانې دا ډول یوالي ته د خوبونو د تجربو یا د خیال په سترګه ورننوځو. دوغسیان هم د نیمې ویښې، نیمې ویدې تجربه ده. دا څه ډول ټاټوبی وه، دا کوم هیواد وه چې اسد مزل ور وکړ؟
نه رڼا وه، نه تیاره وه
یا:
نه یې خوله وه، نه یې سر وه
یا:
نه انسان وه، نه حیوان وه، نه ملك وه...
دا د بې شکله اشیاو او موجوداتو دنیا، دا غیر واقعي-عیني قلمرو اسد آسمایي څنګه ومونده؟ کومې بیړۍ او کوم ماڼو هغه په دغه نا اشنا سمندرغاړو خوشې کړ؟
دروازې وې او کولپونه ځنځیرونه


www.pukhto.net

چې نمناکه او تك تور و دهليزونه
وه پراته پر هره لاره
د سکروټو انبارونه
چې ناڅاپه دې تر سترګو
استوګن مړاوي ژوندي شول...
له نااشنا ځمکو فزيکي ژبې ته دومره مانا راوړل هم زړه غواړي! دلته مړي ژوندي کيږي، هيڅکله په فزيکي سترګو موږ ژوندي مړي نه دي ليدلي، خو غيرفزيکي سترګه د مادې او عينيت په سپر ور ننوځي او ټوله زمانه تجربه کوي. موږ چې ددا ډول تجربو پوله نه ده موندلې، نو ګرځو د فلسفې او فرهنګونو په وچو پاڼو کې او له افلاطون او يا سارتر او يا هم هايدګر او را وروسته مريدانو يې ذهني-رواني پوهې را قيچي کو او اسد وربانديې تفسيروو!
وړاندې ځو، دوغسيان په زماني قلمرو کې يوه ګړندۍ منده ده. اسد په دوغس(دوزخ) ننوځي، هرڅه ويني، هرڅه بوېوي او بيا هم هرڅه ژوندي ويني.
ژوند شته حتا په دوزخ کې! که ژوندی نه وي، دوزخ به څنګه تجربه کړې؟
او استاذ اسد دا ومنله او له جسم او کالبوته والوت، د مرګ په قلمرو ننوت.
هغه بې لاسو او بې پښو او بې غاښو داړونکي تجربه کړل او د هغو تصويرونه يې موږ ته په دوغسيان کې ځيل کړل.
ليکوال د حقايقو څنګ ته روان دی. ډېر نيږدې ورسره لاره وهي، د حقايقو عطر حس کوي. که چيرې هغه حسي-خيالي فضا وپنځو، نو د حقايقو وږم به په موږ هم ولګيږي او بيا اسد ترجمې او تفسير ته نه سپارو.
اسد اسمايي خپله ټوله زړه پوهه او ذهني زيرمه تر پوښتنې لاندې نيسي.
هغه دا وس لري چې بيا زوکړه وکړي. هغه شيبه په شيبه تازه تازه را وځي.
زر تر زره زه خلاصيږم ازاديږم
مګر زه په تاويريږم
چې خپل ځان به دې په خپله وي ګرم کړی
يا:
په ناکړيو ګناهونو به اقرار شې
په عجيبو تهمتو کې به ايسار شې
ته نه توان لرې د بل چا د وژلو


www.pukhto.net

نه د واك شته د خپل ځان د خلاصولو
عجیبه ده، دلته اسد آسمایي مخامخ ځانته ودریږي، د ازادۍ خبرتیا ورکوي، ورته په ډاګه کوي چې نه یې ګناه کړې او نه یې ګناه شته! اسد د ځان په وړاندې ښه منډه اخلي، خو نشي کولای د مسوولیت پوله هم وویني. نشي کولای ازادي یو فردي قلمرو ووینی او لږ پورته نه ګوري چې فرد ذاتا ازاد دی او ازادي د اوسپنیزو کپسونو، زولنو او ځنځیرونو صنعت نه، بلکه د انسان د اګاهۍ وضعیت ایساره کړې، او انسان(د فرد په توګه) د هیچا له خوا نه دی ایل شوی. پرته دده له خپل(ذهني-رواني) وضعیته ټول دښمن فصلونه، او نسلونه او رنګونه دروغ دي او انسان په خپلو جوړو کړو دروغو کې غلام پاتی دی او خپل پټ ځنځیرونه او اتکړۍ د نورو په څیرو او رنګونو کې ویني!
اسد د حقایقو ورشو ته کوز شو، خو بیا فلسفه، بیا روانشناسي او بیا بشري معلوماتي پوهه خپل زور ښیي. دوغسیان چې وګورو، نو هلته له سارتر نه نیولې د داستایفسکي د جنایات او مکافات تر اتل، راسکولنیکوف پورې ټول د کلمو په اسونو را الوزي او زموږ د خاطرو په خاموشه لاره تیریږي.
اسد اسمایي په پرولوګ کې د دانتې دوزخ را یادوي، بیا د سارتر په ذهني دوزخ را تیریږي او بیا سنایي ته او شرقي عرفان ته اشاره کوي او چې په دوغسیان ور ګډ شو، نو دا دوزخونه په ننداره اوړي. په دې تجربه کې اسد اسمایي خپله ټوله ذهني-رواني پوهه عملا تجربه کوي. دا یوه بله سفرنامه ده چې د غیر فزیکي ځمکو په اړه لیکل شوې.
دروازه په ویروونکي غږ خلاصیږي
دا وه ښه چې استازی د مرګ راغی
نه یې شونډې، نه یې خوله وه، خو غاښونه
یې ځبېښوونکي ډاروونکي
زه یې لاس نه کلك نیولی
چې په تور تاریك دهلیز کې ور روان شو
چې مطلقه تاریکي وه...
معاصر او پنځونکی عرفان د(روح سفر) په نامه تجربه معرفي کوي. په دا ډول تجربه کې فرد د روح په توګه کالبوت خوشې کوي او د مادي طبقو په ګډون معنوي طبقو ته د معنوي لارښود یا استاذ په مرسته سفر کوي. نن



www.pukhto.net

ورځ علمي اکاډمیکو ادارو داسې راپورونه ثبت کړي چې په کې د عیني افرادو له خولې دا ډول تجربې بیان شوي دي.
داسې کسان هم شته چې په لنډ مهال یې کالبوت پرایښی او خواوشا خلکو مړ ګڼلي، ولې څه ځنډ وروسته بیرته را ژوندي شوي او دا ډول ځینو وګړو خپلې خاطرې بیان کړي، چې د ځانګړي استاذي په مرسته یې مادي کالبوت پرایښی، له یوه لوی تیاره دهلیزه وتلي او نا اشنا قلمرونه یې لیدلي دي.
د (نور ماشومان) چې برادستایګر لیکلی دا ډول کیسې له ځانه سره لري.
اسد آسمایي په خپلو لیکنو کې داسې څه ته اشاره نه ده کړې، خو دلته چې کوم تیاره دهلیز یادوي، نو د تجربو ترمینځ ورته والی له ورایه څرګندیږي.
اسد د مرګ د پدیدې په اړه ځانګړی دریځ درلود. مرګ له هغه سره وه، مرګ هغه هره شیبه په ځان کې زبیښه. هغه ځان د ناموجودو لاسونو په مرسته د خلاصولو افسانې ته نه سپاره. هغه مرګ بل ګام ګاڼه، نو مرګ یې ښکلی او ښه سره وه، ځکه ورننوت او دوغسیان یې نقاشي کړل.
ښه دا تجربې چې اسد ورپسې کړه شو، زموږ ذهني قضاوتونو او حسي-فزیکي چلندونو ته نا اشنا دي. اسد دوغسیان په خپل ننداره‌ځي اړوي. هغه خپله تیره ګوري، هغه خپل شیبه شیبه غم او تراژیك تللی ژوند له سره را سپړي، هغه د هغه ځواك پته پیدا کوي چې دې یې شپې شپې ویښ او بې خوبه ساته:
ستا جزا ستا بې سارې بې خوبي وه
د مرګ سیوری درته ناست چې ویده ته کله نه شې په لحظه کې
ته یې اوه واره هغه کوټې ته بوتلې

...
په خندا خندا یې خونې لړځولې
دروازه یې په لغته دړې وړې کړه داخل شو
د مرګ سیوری او
څوکیدار د بې خوبیو...
استاذ اسد اسمایي به کیسه کوله چې یوځل ښایي اوولس پرله پسې ورځې شپې د شوروي امپراتورۍ په یوه برخه کې بې خوبه پاتې شو. داچې په دې تقریبا څلورسوه ساعتونو کې اسد څه ډول په ژوند ځان ټینګ کړ او دا چې په دا څلورسوه ساعته تیاره د مجبورۍ ویښې ورځ کې هغه څه ولیدل، یوازې هغه روح یې تجربه کړی او زه هغه ټوله بیه چې یو ویښ روح یې ګټه


www.pukhto.net

کړې، یوازې د هغه حق ګڼم او یوازې په هېښنو سترګو د غم او رنځ دې لوړو ته ور ګورم. حس کوم چې هغه سپین او ساړه او بې شکله اورونه چې اسد یې په لمبو کې ونیوه، د فرد له ناڅرګندو قلمرونو د معنوي طلاوو را ویستلو یوه ځانګړې کمیاګري وه. چې معنوي طلا نشې، چې معنوي الماس نشې آسمان ته څنګه مخ ښکاروې؟!
ښه دا کلونه وړاندې خبره وه، خو دلته اسد آسمایي یوځل بیا پر زمانه ور ننوت او تللي او نه راغلي یې لاندې باندې کړه، ځکه وایم چې (لاروی) د حقایقو څنډ ته ورسید، خو ذهني زیرمو بیرته مادي شپې ته را کش کړ ترڅو مادي تاریخ کې یو نه یو بیرغ واخلي، او مادي ژبې ته خوراك او څښاك ورکړي.(دوغسیان) هغه ځانګړې زمانه وه چې استاذ اسد په تاریخ کې ځای کړه. دلته کټ مټ هغه انځورونه په حروفو ننوتل چې اسد یې مرګ ته څیرمه زمانه کې لیدلو ته ور وګرځید او ښایي په فرانسه کې یې هم دا فزیکي دوزخ ګاللی وي.
وې مړ شوی روح دی ورك وه
او جسد دې پاتې شوی...
دا چې انسان جسد خپله یوه برخه ګڼي سمه ده، خو چې روح له سړي ورك شي، باید (ځان-زه)څه ډول ومنو؟! انسان چې جسد نه دی، نو روح به وي! نو روح چې اصیل شتوالی شي، بیا موږ څنګه روح له لاسه ورکولای شو؟ موږ ولې دا پوښتنه د ځان له پاره نه حلو چې زه څه شی یم؟ دا تیروتنه دلته هم خپله لمن را غوړوي، خو که یو ځل فرد دې ځواب ته ورسید چې څه شی دی او څوك دی، نو ښایي بیا ځان د روح خاوند نه، بلکه خپله اصلي هستي همدا روح وګڼي.
ښه قضاوت زما کار نه دی، اسد اسمایي هم نشته او خبره په دوغسیانو ده. ماګڼله چې استاد یوازې یوه اشراقي-عرفاني تجربه بیان کړې، خو که رښتیا خبره شي، دوغسیان لویه نقاشي ده:
د انسان د زړه له تله
یوه چینه ده را خوټیږي
فوارې یې د سرووینو
لاړې پورته اسمان لورته
دانګي پورته د څپې په څیر هسکیږي
څو باران شي څاڅکي


www.pukhto.net

چې بريښنا شي وورېږي
سرې سکروټې را ټوکېږي
په شنو دښتو او صحرا کې
د يوه موج په څير خپرېږي...
دوغسيان استاذ اسد آسمايي ته زموږ په لاس کې شته وروستۍ کړکۍ ده. زما موندنه داده چې رحمان يې وايي:
دا دنيا ده خدای له عشقه پيدا کړې
د جمله و مخلوقاتو پلار دی دا
مينه زما د پوهې او اګاهۍ ځمکه او آسمان جوړوي. زه چې څه وينم، څه اورم، څه ترلاسه کوم، څه کوم...ټول د خدای د مينې فصلونه دي. او ماته پرته د خدای له مينې هيڅ نه را رسيږي. مينه مې خوراك، څښاك، غړيدا، ساه راکښل او شيبه شيبه ژوند دی. پرته له مينې څه شی نشته، يوازې مينه شته، او حقيقت لري او خدای هم مينه مينه دی. خو اسد اسمايي مينه څه کړه؟
هغه مينه وه که يوه هندسي شکله د غوښو ونه چې د فلسفې په افلاطوني سمڅه کې د سارتر او هايدګر د خبرو سيوري ونيوه وچ يې کړ او موږ ته مجسمه شو؟!
مينه څه ده، ناکامي ده
له ليلي، مجنون ويرېږي...
مينه ولې رومانتيکه کيږي، ولې ژاړي، ولې سوځي، ولې له وينا او ژبې بې چيغو او ساکته ژړا جوړوي؟!
مين ولې په زخمونو اوړي، ولې بې قاتله وژل کيږي او مړی يې د تايتانيك بيړۍ پر ديوالونو ور اوړي، چې د سمندر کبان په مينه را غټ کړي او دا کيسه پيړۍ وروسته د يوې بوډۍ له مړه زړه نه پاځون کوي او د فلم صنعت کې داسې اوراچونه جوړوي چې د ثبت کمرې هم ښکلا اوروي او مينه پنځوي، څوك وايي چې خدای به له دومره مينه ګر جهانه ليرې وي!
اسد آسمايي دوه ژورې سترګې وې چې په سړو او ونو او د سمندر په کبانو کې يې د مينې غځيدلي رګونه ليدل. اسد يو زړه وه چې مينه يې ويله نه، بلکه د مينې په شان ژړاند، دردمن او په ځان سټړی اوسيده به. دا څرنګه مجنون وه چې له ليلي ويريده! دا څه بې قايدې مينه وه چې هغه يې په خپل ډار کې وچ کړ، کالبوت يې خوشې کړ او په هغه څه کې ډوب شو چې هيچا ته يې را افشا نه کړ!


www.pukhto.net

دا زوروره مينه ده، هغه حتا ورکتی نشي. هغه يې ليدی نشي، هغه يې په ياد را وړی نشي. دا څه شی وه چې په داسې لومړنې دريځ کې ودريد چې اسد يې په ګرځنده زمانه او څپڅپانده مکان کې ودراوه او په کې ويده شو؟!

په بل خوب کې يو نقاش و
ده ځيره انځوروله
سر يې ميخ و په ديوال کې
تن يې مخامخ ولاړ و
په تابلو کې خپل ځان ويني

اسد آسمايي ځان دريم ضمير ګرځوي. هغه مينه دومره بې شکله او بې روايته تجربه کڼي چې حتا انځورول يې، بدرنګول کڼي.

د(اوس له پاره د لرغوني حکمت پوهه) کمال بل ګام ګڼي، دغه روش چې (اکنکار) هم نوميږي وايي چې کمال بل ګام دی. يعني هميشه بل ګام شته، ځکه نو فزيکي ژبه هميشه د(کمال) له پاره پرونۍ ژبه ده. کمال هميشه شته، خو څوك يې نشي ويلای! کمال، مينه، حقيقت، اګاهي، معنوي ازادي...بنايي هغه څه وي، چې ريښه او تومنه يې هماغه لومړنۍ نه بيانيدونکي ماده وي. ماده فزيکي واقعيت دی او فزيکي هستي نن د ساينس تر سترګيو لاندې را سپړل شوې، نو دا لومړنی جنس يا جوهر مادي نه دی. يوازې کولای شو ووايو چې هغه شته، په هرڅه کې شته، هرځای شته، خو هيڅ شی او هيڅ زماني پوړۍ هغه جوهر نشي کيدلای.

زه نه وايم چې استاذ اسد د نااشنا ليدلو ته دومره نيږدې ورغلی، خو چې مينه ور څخه دومره ورکيږي او په بيان کې ور څخه رنګيږي، نو بيا ده ولې قلم را کاږه، ولې يې د حروفو آسونه او رمې د دوغسيان په فصل کې خوشې کول؟!

دا پوښتنې مې د ځان له پاره دي ځکه نوره خوله پرې تپ کوم.

پای کې دا وايم چې (دوغسيان) څه ډول يوه تجربه ده؟ دوغسيان د ذهن او حافظې يو کندولی جوته خواره دي که د يوه ستړي او ناهيلي ذهن-روان نيم تياره تصويرونه او که يوه بله تازه اشراقي تجربه؟! نشم کولای د استاذ اسمايي استازيتوب وکړم! زما چې څه زده دي لا را زده کوي چې انسان يو پټ او ويده خيال دی. انسان يوه غيبه بيړۍ ده، چې ورته نوح نه وي، نو نا اشنا ځمکو ته بادوانونه نه شي پورته کولای!



www.pukhto.net

او بل څه چې را ته اسانه برېښي او لږ ترلږه ذهن ډېر نه ورسره جنګیږي، خیال دی. بشري معلوماتي فرهنګ او تمدن له اوسپنې، پولادو، الماسو چټك الوتونکي جوړ کړل، خو لا هم د خیال سترګه تر ټولو چټکه الوتونکې ده چې موږ یې لرو. موږ په خیال سره د ځمکې او هسك له ناخرګندو دیوالونو اوړو، د خیال سترګه موږ په خپل لومړني دریځ او هویت را وېښوي، نو څومره له دې وړیا او همیشه موجودې سترګې د خدای ښکلې پنځولې هستی ته ور ګورو؟! ښه همدومره به ووځم که نه موږ په ځان کې دننه له غټو غټو سپاهیانو ډك یو او سپاهي...نه نه تم شوم، تم شوم!!!
عزیزانو! طلایي زړونو!!تر دې ځایه راغلم، خو دوغسیان لا له اسد اسمایي ډك پاتې دي. ښایي درك په دغه متن کې پوره نه وي ځلولای شو، نو زه به په ځان کې روان شم، ګوندې نورې تالندې او برېښناوې راسره ملې شي او یو څه وویلای شم. او دوغسیان، دا یو نه لوستلی فصل وګڼئ. په خپله ور پاڅئ، او دوغسیان تجربه کړئ. ښایي له دې سیاحت سره لوی سیاح راووځئ.
بس دا شیبه زما همدومره قد رسیده. ستاسو هر یوه د اګاهۍ او زړه ګلقدونه ښکلوم.

انور وفا سمندر
د ۱۳۸۸ لمریز کال د زمري ۱۲مه

فلسفه او فیلسوف

څېړندوی محمد نبي صلاحي

یوه فلیسوف یوه ښځه ولېده، چې ځان یې په ونه کې را ځوړند کړی و، ویې ویل: کاشکې چې، ټولو ونو د غسې مېوې نیولې وای!
فلسفه یو ډېر پیچلی او ستونزمن مضمون دی او فیلسوفان د پوهې دوستان دي. دوی د نړۍ هستي څېري، د کایناتو د پیدایښت رازونه راسپړي او د ټولنې دودې او پرمختګ عمومي لارې چارې ښیي. له دې امله، فلسفه د


www.pukhto.net

علومو مور په نامه هم مشهوره ده. په حقیقت کې، فیلسوفان د جهان پېژندنې او معرفت په برخه کې ، خپل ځانګړی نظر لري. دوئ دغه نظرونه په ژور فلسفي تفکر سربېره ، بې شمېره رواني، اخلاقي او ادبي ارزښتونه هم لري. دوئ په اصل کې ، د ځان پېژندنې، دنیا پېژندنې، کهکشان پېژندنې او ټولنپېژندنې مینان دي. دوئ مبدا او منشاء د خلقت په برخه کې، ژور نظرونه او اعتقادات لري او فلسفي پوهه د ټولنې د ښوونې او روزنې په برخه کې هم ډېره ارزښتناکه او ګټوره ده.

اوسنیو ساینس پوهانو په ګڼ شمېر تجربو کې، د لرغونو او کلاسیکو فیلسوفانو نظرونو ته مراجعه کړې ده او ډېرې ساینسي تجربې، د همدغو فیلسوفانو د ژورې او هر اړخیزو نظریاتو پر بنسټ تر سره شوې دي او بیا په یوه یا بله بڼه ، تر مورږ پورې رارسېدلي دي.

تر ټولو مهمه خبره داده، چې فیلسوفان په ډېر غور سره د ټولنې حرکاتو او د کایناتو پیدایښت او څرنګوالي ته ګوري او په دې باب د خپل مشخص نظر خاوندان دي. دوئ له پېښو نه ځانګړي برداشتونه لري او په دې توګه خپل عقاید او نظریات، له ټولنې او د هغې له مخکښه استازو سره شریکوي.

همدغه نظریات ، په ټولنه کې خوځښت رامنځ ته کوي او په ولس کې د پوهې قوه پیاوړې کوي.

ډېری فیلسوفان د تاریخ په اوږدو کې، د خرافاتو او فالبینۍ په وړاندې درېدلي او د هغو په مقابل کې یې تبلیغ کړی دی او معاصر فزیک د دوئ یو شمېر نظریات تایید کړي هم دي.

څرنګه چې، د دوئ د پوهې کچه، په هره زمانه کې، تر عادي خلکو څو چنده لوړه ښودل شوې، نو دوئ د خپلو فلسفي نظریاتو د پیاوړتیا لپاره، شاګردان روزلي دي. په دغه برخه کې مالي قربانۍ ورکړې، په مرګ ترټل شوي او سربښندنې هم کړي دي. په دې ډول یې، د خپل هېواد، سیمې او نړۍ د ویښتیا او بیدارۍ لپاره، خپل فلسفي رول آداء کړی دی.

که مورږ او تاسې د فلسفې تاریخ ته ژور نظر واچوو، نو ګورو، چې په لرغوني یونان او روم کې، هیڅ داسې پوهنه او هنر نه ترسترګو کېږي، چې د هغه وخت فیلسوفانو دې، په هغه برخه کې څېړنه، نه وي کړې او خپل نظریات یې نه وي ورکړي.

تاسې د لرغوني یونان د نامتو فیلسوف سقراط له مهم فلسفي اصل ((ځان پېژندنې)) سره بلدیاست او ((ځان پېژندنه)) د ډېرو شیانو د پېژندنې او



www.pukhto.net

په وروستي تحليل کې، د پروردګار عالمؑ د پېژندنې بنسټ هم کېدای شي.
ده په لومړي سر کې، له سوفسطايانو سره نژدې اړيکې لرلې، د هغوئ لکچرونه يې اورېدل او هم کله نا کله به يې، د خپل شاګردان هم ورلېږل.
خو وروسته يې دا په فکر کې وروګرځېدل چې، بايد نوره ټولنه ويښه او له درانه خوب نه رابېداره کړي. د همدې هدف لپاره يې په يوه ځل پوره نهه ساعته وينا هم کړې ده او د ده دغه وينا، په ټوله نړۍ کې، تر ټولو اوږده خطابه ده.
تاسې د لرغوني يونان نامتو فيلسوف اپلاتون وګورئ چې، پوهانو هغه ته د حکمت مرغلره لقب ورکړی و او هغه خپل ښکلی او سمسور بڼ اکادموس، د خپلو زده کوونکو او پيروانو لپاره، عامه شتمني وګرځاوه وروسته همدغه باغ، د اکاډمي په نامه ونومول شو. اپلاتون په خپلې اکاډمي کې د رياضي او هندسي پر سر يې داسي ليکي و:
((هغه څوک چې په هندسه نه پوهېږي نه شي داخلېدای!! ))
همدا راز، اپيکور در واخلئ، هغه هم خپله ښايسته باغچه، د خپلو شاګردانو د زده کړې لپاره، خپل ولس ته سوغات کړه.
استاد آسد آسمايي چې، د فلسفې مدارس او ځوان افغان فيلسوف و، د دغې پوهې د بابېدو په لاره کې يې، خپل ژوند وقف کړی و او په دې برخه کې د ده خدمتونه، د افغاني ټولنې په وړاندې پراته دي. هغه په پښتو، دري او فرانسوي ژبو پوهېده او درې واړو ژبو کې ګټورې او ارزښتناکې ليکنې ترې پاتې دي. ده په اماتوري توګه فلسفه نه مطالعه کوله، بلکه په يوه پوهنتوني او اکاډميک چاپېريال کې فلسفه تدريسوله. فلسفه د ده مسلک وه او د ده ژوند ورپورې تړلی و!
د اروابناد آسمايي شاګردان کولی شي چې، د ده د نړۍ ليد او فلسفي نظرياتو او قضاوات، د نورو فلسفي نظرياتو او قضاوتونو په منځ کې وګوري او د راتلونکې لپاره، له هغو نه يوه مثبته نتيجه تر لاسه کړي.
دغه نظريات په نويو حالاتو کې، زموږ د افغاني ټولنې د ودې او تکامل په منظور، ډېر اغېزمن او اړين دي. که موږ او تاسې د خپلې افغاني ټولنې فلسفي نظرياتو ته ژور پام ونه کړو، د شهيد استاد بهاوالدين مجروح، ليوني فليسفي غني خان غني، فارابي، البيروني، ابن سينا، ناصر خسرو او داسې نورو پوهانو باندې نه شو پوهېدلی.



www.pukhto.net

آستاد آسمايي د لرغوني يونان، او روم په فلسفه پوهېده او كلاسيكي او معاصرې فلسفي فيلسوفان او رينتني پيروان ور معلوم وو. هغه په ډېره مېړانه دغه فلسفي كاروان تعقيب كړ او د پوهنتون په چاپيريال كې، ګڼ شمېر محصلين وروزل.
آسد د هغو پوهانو په ډله كې د حساب وړ دی چې، ډېر پوهېده، مګر كم څه يې ليكلي دي. موږ په مورنۍ ژبه پښتو، له ده نه د ډېرو ليكنو هيله من وو!
اروا دې ښاده او ياد دې ژوندی وي.

فاروق فردا

**« ا سد»پخپله د «ننګيال»پسې، د آسمايي هسكو ته والوت**
له اسد آسمايې سره له څو كلونو وروسته ،همدا دوه اونۍ مخكې دمركو او پر له پسې تلفونونواو خبرو اترو ډېره خوشحالي راكړې وه. خو بالاخره ښاغلو ننګيار او ډاكتر بهاند،پخپل خبر سره د هغو خوښيو پر لمبو داوبو سين لاهو كړ دوې دهغه د مرګ د هردم شهيدی مرګ خبر يې راكړ.

اسد اسمايې بې محابا او بې وېرې ليكوال او ادبي او سياسي منتقد وو.دې په وطن كې د كابل پو هنتون پر استادۍ سر بېره ډېر به زړه پورې ادبي-فلسفي ليكنې يې وكړې او بيا چې د مهاجرت كډه يې پرشا شوه نو فرانسې ته ولاړ او هلته د هغه هېواد د ليكوالود اتحاديي له خوا يې هركلي وشو.مګر فرانسه له خپلو تولو ښېګنو سره ونه شو كړاي چې دده دناآرامه روح پر ښانيو ته د يوې شېبې د خوښيو هينداره مخې ته كېږدي.
اوږدې خبرې به پرېږدم بل وخت ته خو يوه خبره د يادولو وړ بولم چې ده به په تلفونونو كې را ته ويل ، داسحق ننګيال نومره راكړه.دې زما او دننګيال په انډيوالۍ خبر وو.ستاسو به باور نه راځي چې هر ځل به يې دا خبره كوله



www.pukhto.net

او ما به چې توضيح ورکړه بيا به غلي شو.خوچې بهاند صيب او ننګيار صيب دده د خاموشۍ خبر يې را کړ اوښکې مې په سترګو کې نيني شوې،وګرزېدې را وګرزېدې او زما دمخ په مېدان کې يې اورني لاريون وکړ.
يو باد را لګېدلي ما له ځانه سره وړي
هغه باد چې پر مرحوم ننګيال يې سيوري اچولي وو او هره ګړۍ دهغه د ژوند لاره يې د خپلې موخې لورې ته بدلوله،اسد ځرنګه په دې دوو اوونيو کې چې له ماسره يې په تلفون کې خبرې کولې د ننګيال او پر هغه د لګېدلي باد پسې سرګردانه وو؟.څنګه دا دواړه دورته او شبيه مرګ يوه هينداره يې صيقل کړې وه؟
ما سره د ننګيال دتلفون نومره نه وه چې اسد ته مې ورکړاي واي،ده صبر ونه کړ،لکه چې ډېره تادي يې درلوده،پخپله ننګيال پسې ولاړ او د بهاند او ننګيار په لاس يې ماته خبر را ولېږه چې تا يې نومره را نکړه زه پخپله ورته ورسېدم پېدا مې کړ.
اسد آسمايي ،هغه محروم او هغه لېوني او هغه ياغي ذهن او قلم دتل له پاره له دې نړۍ سترګې پټې کړې.نور به نو اسد او ننګيال د ويل شويو شعرونو او ددې او هغې نړۍ دکشف شويو فلسفو هيندارو کې ځانونه ويني او ددوې ياران به په نا ويلو شعرونو او د نړۍ د فلسفي پلټنو پسې سرګردانه وي .
)ګرانو لوستونکو، زه پوهېږم تاسو اوس يو اسد او يو ننګيال او دهغوي دمرګ انځورونه وينۍخوزه بې له هېڅ مجاملې عرض کوم چې ددغه ويرنې د دوام توان په ځان کې نه وينم وبخښۍ چې نيمګړي پاتې کېږي لکه د اسد داندونو دنيا.داسد آرام غږ مې دليک دوام ته نه پرېږدي) روح دې يې ښاد وي
په ډېره مينه او اسد ته د خداي ج دجنتونو د ټولو نعمتونو درسېدنې په دعا.
فاروق فردا -مسکو



www.pukhto.net

## دفیلیسوف استاد یاد

لو مړی خو باید ووایم چې دپښتو ادب فلسفي لیکوال اوکابل پوهنتون دفلسفې دڅانګې دپخواني استاد اسد اسمايي مړینه په رښتینې توګه هغه ستر غم دی چې ډیرکلونه وروسته به یې هم ویرسوړ نه شي اونه به یې ډیرژر په پښتوادب کې تشه ډکه شې ځکه زموږ.په پښتوادب کې فلسفي لیکوالان له لویه سره دګوتو په شماردي او نه یې لرو استاد اسد اسمايي یوله هغوکسانوڅخه چې په خپلو لیکنوکې یې نویوالی درلوداوهرڅه به یې په نوي بڼه لیکل اوویل:دهغه په خبرو اولیکنوکې پیغام نړی ته و. هغه یوازې له یوه ملك سره نه بلکې له ټولې نړی سره خبرې کولې . زه لا ډیر وړوکی وم چې داستاد اسد اسمایي دپوهي په اړه مې اوریدلي وه اوهغه ځکه چې استاد اسد اسمايي چې لادښونځي زده کونکی وپه شلګرکې زموږ کلي او کورته به راته هغه به په ماشوم توب کې ډیر وخت له خپلې مورسره زموږپه کلي کې وه. زموږ په کلي کې ټولو لوستو کسانو لا په هغه ماشومتوب کې داستاد په پوهې باور لاره اوویل به یې که اسد ته پام وشي نوستر عالم به شي شپې ورځې ،اونی میاشتې اوکلونه یوپه بل پسې واوښتل او استاد بیا دځوانی په پیر کې راغي خوله نوی فکر اوخیال سره داځلې له استادسره دکلي دمشرانوپه تیره بیاد ملا صاحب چال اوچلند دپخوا په څیرښه نه و بلکې ویل به یې ډیره پوهه هم دسړی دښمن ګرځي لکه داسد چې دښمن شوه.باید ځانونه ترې لیري وساتویوه ورځ خومې لا پلارپه کورکې مشرورور محبوب جلالزي ته په ډاګه وویل چې دغلام دستګیر له زویه لیري ګرځه اوداځکه چې ملا صاحب خپه کیږي . دداسي خبرو په اوریدو به زه ډیرډیر خپه کیدم اوهغه هم له دې کبله چې یوخو له استاد اسد سره زموږ داکا دخپلوۍ اړیکه وه اوبل هم کله چې به استادزموږکره ودکلي نورځوانان به هم ورسره راتلل اوتود مجلس به



www.pukhto.net

يي جوړوددوئ په خبروکه څه هم زه ښه نه پوهيدم خوداراته جوته وه چې په خپلو کې سره مخالف دي استاد به هروخت دمجلس په پای کې دخبرو وار نيو.اوپه دې سره به يي په ډيرو قوي دلايلو سره دموضوع په سپړلوړنا اچوله .استاد هغه وخت هم په حقيقت کې له نوروځوانانو سره دزده کونکو چلند کاوه ،ترکومه چې زما په ياد دي داستاد په خبروکې نوي مفاهيم اوپيغامونه وو.استاد په ځواني کې په خپلو خبروسره ډيرځله دافغاني ټولنې ددود اودستور ځيني پلي ماتولې اوهمدا وجه وه چې دملا صاحب ورسره جوړه نه وه.له استاد سره به هر وخت کتاب واوډير لږ به داسي پيښدل چې هغه دله مطالعي څخه سرپورته کړی وي زما مشر ورور محبوب جلال زي يي کيسه کوله چې استاد به چې کله په ملي بس کې هم سپورشو نوهڅه به يي داوه چې دکتاب پاڼې واړوی راواړوي دسنايي داونيزي پخواني کار کونکی محمد هاشم عثماني چې استاد اسد يي له نږدې پيژاند اوډير وخت به يوځای سره اوسيدل وايي استاد ډيره خوشالونکي طعبه درلوده په ټوکوښه پوهيده .دی وايي داستاد له کتاب لوستلوسره بي کچې جوړه وه يوه ورځ په ملي بس کې سپاره وو چې استاد خپل دواړه لاسونه دموټر په پورتنيو اوسپنو پورې نيولي وه ماورته دکوچنی کتابچه مخې ته ونيوه او ورته ومې ويل اسد ه لوله چې وخت دې ضايعه نه شي .عثماني وايي يوه بله ورځ هم په ملي بس کې سره سپاره وو چې بس ته يو کس چې استاد پيژاند راوخوت هغه کس ښه دنګه ونه لرله دناستي ځای نه وذهغه سراو ان چې ؤلي يي هم راکوږ پ شول داستاد خواته ودريد استاد اسد په ورو اواز ورته وويل : ولا ګرانه چې اخور ته يي لنډ وروټړلي .هغه دده دخبرې په مفهوم وپوهيده ترڅوچې له موټره کوزيده خندل يي.په هرحال زه نوري خپلې خبرې رانغاړم اويادونه کوم چې که نور قلموال ورونه د استاداسد اسمايي په اړه ارزښتمنې اومعلوماتي ليکنې وکړي روح دښاده وي

اسدالله بلهار جلالزی دغزني ښار



www.pukhto.net

# دپیغامونو برخه

## دعلم او ادب دخپراوي ټولنې

## دخواخوږۍ پیغام

په ډیرې خواشینۍ سره موخبرترلاسه کړچي
دافغانستان نومیالی لیکوال او فیلسوف استاد
اسد آسمایي له هیواد څخه بهر په فرانسه کې په
حق ورسید ی .
(روح دې ښادوي) .
ارواښاد استاد اسد آسمایي خپل ټول عمر د
واقعیتونو په ویلو تیرکړی دی. هلي ځلي
اومبارزې یې کړي دي او دخپلو پراخو مطالعاتو
پر بنسټ یې دخلکو دویښولو او دژبې دبډاینې
لپاره ارزښتناکې علمي لیکنې کړې دي اودژوند
ترپایه یې دخپل ولس خدمت کړی دی، استاد دخپلو



www.pukhto.net

علمي او فلسفي هلو څلو په بهير کې له راز،رازستونزوسره مخامخ سوی دی ،زندانونه یې لیدلي، ولي دمقاومت او رښتیا ویلوقلم یې نه ده ایښی اودژوند ترپایه یې دخپل ولس خدمت کړی دی. داچي نن دغه ستر فیلیسوف زموږپه منځ کي نه شته دایوه ډیره لویه غمیزه ده اوځای یې خالي دی امید چي نوی نسل نوموړی ځای بیرته ډک کړي . خوداستاد آسمایي یادبه دپښتون ولس په زړونو کې همیشه وي .

دعلم او ادب دخپراوي ټولنه داستاد اسد آسمايي وفات يوه ستره ضايعه بولي او خپل ځانونه ددوی له کورنۍ او ټول افغان ولس سره په دفه وير کې شريک بولي.

دعلم او ادب دخپراوي ټولنه له ټولو افغان اديبيانو او کلتوري ټولنو څخه هيله لري چې داستاد دناچاپو اثارو په راټولولو او خپرولو سره دهغه اروابناد ياد تازه وساتي او په دې توګه ټولنه داستاد آسمايي له ارزښتناکو اثارو څخه برخمنه کړي.

دعلم او ادب دخپراوي ټولنه استاد آسمايي ته دفردوس جنت هيله کوي کورنۍ ،خپلوانو او ټولو افغان فرهنګيانو ته دجميل صبر دعا کوي.

**دعلم او ادب دخپراوي ټولنې**

**مشرتابه هيات**



www.pukhto.net

## دعلم او ادب دخپراوي ټولنې او قلم نړيوالې ټولنې له خوا
## داستاد اسد اسمايي په ياد جوړې شوې غونډې ته
## داستاد اسد اسمايي ديوه دوست پيغام

با عرض سلام و تسليت به تمام حضار از جمله دوستان، خانواده و شاگردان استاد اسد آسمائی می خواهم پيام يکی از دوستان ايشان را که نخواستند شناسائی شوند بخوانم :

چرا استعداد های درخشان ما فقط جرقه ای می زنند و خاموش می شوند؟

چرا اعتماد به خود و ايمان به آينده در ما زنده نمی شود؟

چرا حيات اجتماعی و فردی ما منشوری ندارد؟

چرا در ادبيات و هنر ما اثری بزرگ، جاودان و انسانی پديد نمی آيد؟

چرا با اينهمه ما پهلوان پنبه هايی را که فقط ضعيف کشی و سبعيت شان بارز است هنوز مقتدا قرار می دهيم؟



www.pukhto.net

چرا حتی "اژدهای خودی" در ما به کرمهای حقیر که در زباله می لولند تبدیل شده است؟

چرا دیوار بلند حقارت خود را که نمود آن تعصب است با افتخار های دروغین نقش و نگار می کنیم؟

چرا آنچه به نام بزرگترین، قهرمانانه ترین و پر مصرف ترین حرکت های ما شهرت یافته است به جز فاجعه و مصیبت بار نمی آورد؟

زیرا: قرن هاست نور حقیقت را از دست داده و به ظلمات تقلیدی فرومایه سقوط کرده ایم.

چون سلوک ما در فضای پر از گرد و غبار سودجویی های حقیر و کوتاه نظری بدل به بازی خودپرستانه ای شده است از مکاشفه و شهود باز مانده ایم .

پس هر که در میان ما به تفکر بپردازد و نور شهود و مکاشفه در او شعله زند در زندگی مهجورش می سازیم و بعد از مرگ از جسدش به مثابه پاره سنگی در درز گرفتن دیوار تعصب خود که از حس حقارت تاریخی سرچشمه گرفته است استفاده می کنیم. توصیفش می کنیم، اما راه او را تعقیب نمی کنیم. شاید ناخودآگاه شاد هم می شویم چون ترس آشکار شدن حقارت ما نجات می یابد. مسلما ما سوگند رکود و سترونی خود را نمی شکنیم چون می ترسیم کالبد مقوایی افتخار ما فرو بریزد .

به این سبب تجلیل از اسد آسمائی ها نیز شاید در ما موجب آن تاثری نمی گردد که به خود باز آئیم و شاید از ترسی که او در ما برانگیخته فراغتی هم حس کنیم چون او سوگند خورده بود عادت های ما را در هم بشکند. او هم از نور شهود و مکاشفه روشنائی داشت و هم از باران تفکر. پس راحت باشیم شاید زمان های دراز دیگر خطری آرامش ما را، غرور ما را، خودپسندی ما را و حقارت ما را تهدید نکند و ما فارغ بال به آفرینش های ... خود مشغول شویم. و حالا که خطری ندارد او را نیز در کنار مجسمه های



www.pukhto.net

طلایی دیگر قرارمیدهیم و به او افتخار هم میکنیم. درود بر ما و دریغا بر آسمائی ها .

## د میرمن کلتوري ـ ټولنیز بهیر دخواخوږی پیغام

په ډیرې خواشینی سره مو دیوه لوی لیکوال او فیلیسوف استاد اسد آسمایي دمړینې خبر ترلاسه کړ.

## انا لله و انا الیه راجعون

میرمن کلتوري ـ ټولنیز بهیر دپښتو ژبې دتکړه لیکوال او ځوان فلیسوف او دافغان میرمنو دحقوقو اګاه مدافع استاد آسمایي د مړینې د خبر په اورېدو سره،د یو لوی ویر احساس کوي. الله پاک دې دغه ستر شخصیت ته فردوس جنت په نصیب کړي .

میرمن کلتوري ـ ټولنیز بهیرد دوی دکورنۍ غړو،دده دلارې لارویانواو ټولو افغانانو ته د خپلې ژورې خواشینۍ او خوا خوږي مراتب وړاندې کوي ددوی په غم کې ځان شریک بولي . دغه درانه شخصیت ته فردوس جنت او کورنۍ او خواخوږو ته یې دالله پاک په دربارکې د جمیل صبر دعا کوي.

د میرمن کلتوري ـ ټولنیز بهیر
دارالانشآ

## د نومیالي لیکوال او فیلیسوف استاد اسد آسمایي پر مړینه

## د زرمت دادبي بهیر د خواشینۍ پیغام



www.pukhto.net

په خواشینی سره موخبر ترلاسه کړ چې د افغانستان نومیالی لیکوال او فیلیسوف استاد اسد آسمايي له نړۍ سترګې پټې کړې.

**انا لله و انا الیه راجعون**

استاد اسد آسمايي دافغانستان تکړه لیکوال ، فیلیسوف او یو نه هېرېدونکی علمي فرهنګي شخصیت و ، د خپل ژوند یوه برخه یې دحق ویلو په لاره کې دغیر دموکراتیکو رژیمونوپه زندانونو کې تېره کړې ده .خو هیڅ وخت یې د واقعیتونو له ویلو ځخه ویره ونه کړه.

دزرملي ادبي بهیر داستاد آسمايي مړینه د پښتو ادب لویې کورنۍ او ټول افغان ولس ته یوه ستره ضایعه ګڼي.

موږ اروابناد استاد اسد آسمايي ته د لوی خدای په دربار کې د مغفرت لاسونه پورته کوو او له کورنۍ ، دوستانواو خپلو ټولو ادبي او کلتوري کړیو سره په دغه غم کې ځانونه شریک بولو.

په درناوي

# دپکتیا ولایت د زرمت ادبي بهیر

# دافغانانو دکولتوري ټولنې دژورې خواشینې پیغام

دجرمني په بایرن ایالت کې دافغانانو دکولتوري ټولنې غړي دافغان فیلسوف استاداسد اسمايي په یوناڅاپي مړینه په داسې حال کې خپله ژوره خواشیني ښیي چې زموږ په ګران هېوادکې په لوی لاس دعلم ډیوې یوه په بله پسې وژلې کیږي، استاداسد اسمايي خو سترګې پټې کړې اوس به موږ بل فیلسوف له کومه کوو؟



www.pukhto.net

زمونږ دکولتوري ټولنې ټول غړي دخپل افغان فیلسوف په مړینه پردېسي اوښکې تویوي، داستادکورنۍ، خپلواوخپلوانو ته له الله (ج) څخه جمیل صبر او ارواښاد استاد ته د فردوس جنت غوښتنه کوي.

**دجرمني په بایرن ایالت کې دافغانانو دکولتوري ټولنه**

Pukhto.Net

## دقلم نړیوالې ټولنې دخواخوږۍ پیغام

په ډیرې خواشینۍ سره مو دافغانستان تکړه لیکوال ، فیلیسوف استاد اسد آسمایيدمړینې خبر ترلاسه کړ.

دقلم نړیواله ټولنه دافغانستان ددغه ستر فرهنګي شخصیت دمړینې د خبر په اورېدو سره،د یو لوی ویر احساس کوي. الله پاک دې ور ته فردوس جنت په نصیب کړي .
دقلم نړیواله ټولنه د دوی دکورنۍ غړو،او دهیواد ټولوفرهنګیانوته د خپلې ژورې خواشینۍ او خوا خوږي مراتب وړاندې کوي ددوی په غم کې ځان شریک بولي . دغه درانه شخصیت ته د فردوس جنت او کورنۍ او



www.pukhto.net

خواخوږو ته يې دالله پاک په دربارکې د جميل صبر دعا کوي.

## دقلم نړيواله ټولنه



www.pukhto.net